﴿ أُذِنَ لِلَّذِينَ يُقَاتَلُونَ بِأَنَّهُمْ ظُلِمُوا ۚ وَإِنَّ اللَّهَ عَلَىٰ نَصْرِهِمْ لَقَدِيرٌ ﴾

[ سورة الحج : ٣٩]

ژباړه: هغو خلکو ته د جګړې اجازه ورکړل شوه چې جنګ پرې کيږي، ځکه چې دوی سره ظلم شوی او يقيناً الله د دوی په مرسته کولو خامخا قادر دی.

# پر ډپورنډ

# د طالبانو ستره جګړه



لیکوال: فاتح



# کتاب پېژندنه :

کـــتاب : ............. : پر ډیورنډ د طالبانو ستره جګړه

لیکوال :......................................................: فاتح

جګـړه ( د یـک شـنبې ماښـام، ۸ بجـې، تـر ۱۲بجـو)

د کتـــاب خپرېــــدا: ( ۲۴ ســــاعته وروســــته)

هجــري قمــري: ( ۱۹ /۴ /۱۴۴۷ - ربیـــع الآخـــر)

هجـــري شمسيــــــ: ( ۲۰ /۷/ ۱۴۰۴ - میــــزان)

زېږدیـــــــــز: ( ۱۲ /۱۰ /۲۰۲۵ - اکتــــــبر)

**د کتاب خپرول د هر افغان مسؤلیت دی**

# لیکلړ

| ګڼه | سرلیک | مخ |
|---|---|---|


1) ډالۍ !.......................................................

2) د پام وړ ټکي !..............................................

3) دافغانستان پر زړه (کابل) هوايي برید.............................

4) برید تایید شو !.................................................

5) د پاکستان طالبانو تحریک مشر مفتي نورولي مسعود دوژنې شرمېدلی خبر ؟

6) د مفتي نورولي لخوا دوژنې خبر رد، غږیز پیغام.........................

7) د پاکستان بریدونو ته غبرګون.......................................

8) مولوي متقي : پاکستان دې دافغانستان حوصله نه ازمائي..................

9) دفاع وزارت : که وضعیت هر څومره ترینګلی کیږي عواقب به یې ...

10) زلمی خلیلزاد : پر کابل د اسلام اباد برید ناکام و. ....................

11) د کابل – اسلام اباد ترمنځ د پوځي نښتو په اړه دغبرګونونو دوام .......

12) د طالبانو بهرنیو چارو وزیر امیر خان متقي هند ته د سفر شننه..........

13) هندوستان ، افغانستان او د مولوي متقي سفرونه.........................

14) مولوي امیر خان : هند ته مې سفر د کابل او نوي ډیلي ترمنځ په اړیکو .

15) هند ته د متقي سفر او ددوه اړخیزو اړیکو د کچې لوړولو هڅې.......

16) دمتقي او جې شنکر د خبري غونډې جزییات...........................

17) د کابل – نوې ډیلي د ډیپلوماټیکو اړیکو د کچې لوړول؛ دمتقي د سفر اجنډا

18) هند دافغانستان داوبو د مدیریت او مهار په برخه کې د بشپړې همکارۍ

19) هند سره اړیکې ورځ تر بلې پیاوړې کیږي................................

20) هند دافغانستان دفاعیي هوایي سیستم (رادار) جوړوي............

21) د طالبانو او هند تعامل ته د «ایکس پریس» کتنه.................

22) پاکستان هند ته د امیر خان متقي پر سفر څه وایي؟..................

23) دافغان _ هند ديپلوماتيکو اړيکو ته..........
24) د پاکستان ترهيدلې ننداره؛ څه پکار دي؟..........
25) دارالعلوم ديوبند او افغانستان عالمان..........
26) دارالعلوم ديوبند کې افغان ارزښت..........
27) مولوي امير خان متقي په هند کې د دارالعلوم ديوبند له مشرتابه سره ...
28) دهند جمعيت علماو مشر: افغانانو د نړۍ سترو ځواکونو، ته ماتې ورکړې..
29) ديوبند او افغانان، يو ځلې بيا په دې لار راشه..........
30) ديوبند: دهند هغه سېمه چې دافغانستان طالبانو ورسره فکري تړاو لري
31) دغچ اخيستنې بريدونه دماښام په ۸ بجې پيل شول..........
32) دمعرکې له ډګره د دښمن د تلفاتو خبرونه!..........
33) پکتيا: اريوب ځاځي، پټهان ځاځي..........
34) خوست: ځاځي ميدان..........
35) پکتيکا: برمل..........
36) ننګرهار: باندر..........
37) کونړ: ناړۍ..........
38) کندهار: معروف..........
39) هلمند: بهرامچه..........
40) دجګړې ځينو تلفاتو بيلګې:..........
41) د پاکستاني پوځيانو لخوا دافغان ولس پر کورونو بريدونه..........
42) داسلامي امارت تلفات..........
43) دغچ اخيستنې بريالي بريدونه په ۱۲ بجې پای ته ورسېدل..........
44) پر فرضي کرښه جګړه د قطر او سعودي عربستان په غوښتنه و درول شوه
45) د پاکستاني دهوايي بريد په ځواب کې بريالي انتقامي عمليات وشول......
46) دهېواد پر فرضي کرښه وضعيت تر بشپړ کنټرول لاندې دی........
47) دانتقامي بريدونو مثالي پايلې..........

48) په انتقامي عملياتو کې ۵۸ پاکستاني پوځيان وژل شوي............

49) له افغان پوله ساتو ځواکونو د هېوادوالو پراخ ملاتړ.............

50) د اسلامي امارت وياند: مولوي ذبيح الله مجاهد خبري کنفرانس.......

51) پاکستان د يرغلګرو کرايې دفتر او د داعشيانو ناکام روزنتون.........

52) له مادې ډېر د سر سړي خوړلي!.........................

53) پر ستر جهادي شخصيت شهيد الحاج خليل الرحمن حقاني بريد...

54) له جهادي افوقه يو ځلانده ستوری پرېوت!..................

55) شهادت د رسول الله صلی الله عليه وسلم يوازينی ارمان!..........

56) هو! د دوزخ د سپيو (خوارجو) لخوا شهيد شو!...............

57) ماما! وياړلی شهادت دې مبارک شه!.....................

58) مجاهد اسلام اباد ته؛ ژر تر ژره د داعش ډلې مشران کابل ته وسپارئ!

59) پر خواله رسنيو د جګړې انعکاس..............................

60) طالبانو پاکستاني پوځ پر پوستو غچ اخيستونکي بريدونه کړي.

61) سعودي او قطر پر تاوتريخوالي اندېښنه ښودلې..............

62) د سعودي او پاکستان تړون ته دولسي خلکو طنز.........

63) پوځيانو ته د خلکو پيغورونه..........................

64) پاکستان ته د شيخ الحديث مولانا ادريس خطاب..............

65) مولانا حمدالله د پاکستان ناکامه پاليسي رټلې ده...........

66) مجاهدين په لوړ مورال کې.................................

67) څوک چې د پوځ خلاف را پورته شي؛ سترګې به يې وباسو!.......

68) پاکستاني پوځ پر قبايلو جبري ملاتړ اعلان کړی..............

69) مېستر ټرمپ! دا افغانستان او طالبان دي؛ نه بې کسه غزه او او غافل عربان!

70) د افغانستان او پاکستان حقيقي او معنوي مقايسه...........

71) د ډيورنډ کرښه د انګليسي استعمار اغزن زنځير...............

72) امريکايي يرغلګرو ولې پنجابيانو ته د ډيورنډ کرښې د اغزن جال تېر بدل....

73) دډیورنډ اغزن تار او امریکا امنیتي تړون ؛ دامریکا او د پنجاب بې غیرته .....
74) دافغان طالبانو او پاکستان پوځیانو ژوره دښمني ! ..................
75) دډیورنډ کرښې حقوقي او تاریخي ارزونه ! ......................
76) دډیورنډ ترځنګ د کونړ بهاند سپند...........................
77) یو معاش دډیورنډ؛ دوطن عزت لپاره ! ......................
78) زلمی خلیلزاد: د پاکستان حکومت ځان ته لوی قبر کیندلی دی.....
79) طالبانو د پاکستان هیلې خاورې کړې! ...........................
80) مولوي صیب وله یې ! ......................................
81) دامریکایي تړون په څېر به دډیورنډ کرښه په ورانېدو او.............
82) پاکستاني خبریال عادل راجا د پاکستان خلکو ته.................
83) دیورنډ جګړه؛ نه یوازې دطالب بلکې د هر افغان ایماني او وطني مسؤلیت...
84) دډیورنډ د جګړې ګټې.......................................
85) دډیورنډ جګړه د لوی افغانستان دازادۍ پیلامه.................

# ډالۍ!

د افغانستان اسلامي امارت مثالي زعیم امیرالمؤمنین شیخ الحدیث مولانا هبة الله اخونزاده ته چې د اسلامي امپراتورۍ نقشه یې دبیا جوړېدو د مصداق پر درشل راودروله.

د افغانستان اسلامي امارت بنسټګر امیرالمؤمنین ملا محمد عمر مجاهد ته چې د امریکایي تاړاک پر وړاندې یې د افغانستان خپلواکۍ مقدسه جګړه وکړه.

دافغانستان اسلامي امارت د دفاع وزارت ځوان وزیر ملا محمدیعقوب مجاهد ته چې د پاکستاني زبېښاک پر وړاندې یې پر ټول ډېورنډ په یو وخت (۲۷) ځایه د لوی افغانستان د ازادۍ ستره جګړه وکړه.

د افغانستان اسلامي امارت د بهرنیو چارو وزیر مولوي امیرخان متقي ته چې د نړۍ او خاصتاً له هندوستان سره یې د افغانستان پخوانۍ اړیکې راتازه او په سیاست کې نوی باب پرانیست.

او ټولو افغانانو وروڼو او خویندو ته چې د لوی افغانستان دازادۍ په پار یې د وینو او اوښکو نذرانې او صدقې باسلي دي.

# د پام وړ ټکي!

بسم الله الرحمن الرحیم

الحمدلله المنان، والصلاة علی رسوله آخرالزمان، والسلام علی مجاهدی الافغانسستان، وبعد: د ډیورنډ پر تپلې کرښه د اسلامي امارت د مېړانیو زامنو لخوا د سترې معرکې د لمبو توپان اوازې د نړۍ په مطبوعاتو کې د ځنګل د اور په څېر ګړندی خپور شو.

حقیقت کې یوې خوا دا د هغه اور لمبې وې چې د پاکستان پوځ د اسلامي افغانستان په زړه ( کابل ) د هوایي تېري له امله بل شو، د دې ترڅنګ د هغه اور لمبې وې چې د پوځ په چټل وجود کې د اسلامي نظام د بهرنیو چارو وزیر مولوي امیرخان متقي د مسکو ۷ غونډې پارمټ سفر او په خاصه توګه د هندوستان د سفر له امله رابلې شوې وې، او د دې سربېره د هغه اور لمبې وې چې د پوځ په منحوسو ماغزو کې د افغانستان د خپلواکۍ او امن ترڅنګ د پرمختګونو، سیندونو، کانونو، سړکونو، او افغانانو واحد ځواکمن نظام ته په کتلو پکې بلې شوې وې، او د دې ټولو د پاسه دا د هغه اور لمبې وې چې د انګریزانو لخوا د لوی افغانستان پراخه سیمه د ډیورنډ تر یرغلیزې کرښې لاندې د هغوی مجهول النسب اولاد (پاکستان پوځ) ته په یرغل کې پاتې

او دايمي اشغال د شوم هدف په پار پکې بلې شوې وې. خو څرنګه چې تاريخ ثبت کړې چې د انګليس امپراتوري په افغانستان کې د دريمې جګړې د ماتې خوړلو له برکته په ټوله نړۍ کې د تورتوتو کېدو تر ګړنګ پرېوتله، او دوی يو تاريخي رذالت او ابليسي- چل وکړ، چې د افغانانو د تېرې امپراتورۍ سقوط او د راتلونکې امپراتورۍ او خپلواکۍ لپاره يې د پاکستان په نوم يو بې اصله او بې نسله هېواد رامنځته کړ، خو د افغان ملت د تاريخ تېرې تجربې دا ښيي چې د انګريزي يرغل زيږانده ټغر به د افغان ملت د جهادي سمندر په څپو کې لاهو شي او يو ځل بيا به د امويانو، عباسيان،عثمانيانو، غزنويانو، ابداليانو، غوريانو په څېر د اسلامي افغانستان زمريالي زامن ( طالبان ) د تېرو خلافتونو او حکومتونو عظمتونه او يادګارونه راژوندي کوي. دا پيغام د يوې پېړۍ د درو امپراتوريو ( انګريز، شوروي، امريکا) د شکست د ورځو د لمانځې ژبې په خورا فصيح او بليغ انداز انعکاسوي.

په پای کې دا يادونه اړينه ګنم چې، دا ټولګه له يوې شپې تر بلې شپې پورې د نوموړې تاريخي جګړې په اړه راغورچاڼ شوي معلومات او راپورونه دي، چې په کمزور ګوتو مې د تاريخ حافظې ته غړلي اوډلي دي.

( وما ذلك على الله بعزيز ). کابل جان - افغانستان

## د افغانستان پر زړه ( کابل ) هوايي برید

د (۱۴۰۴لمریز کال، د تلې ۱۸مه) د ماخوستن (۹ بجې، ۴۵ دقیقې) وې، چې د کابل په اتمه ناحیه کې مې د دوو بمونو د چاودنو زورور غږونه واورېدل، ورپسې غبرګ مې جېټ جنګي الوتکه ولېده چې د باګرامیو په لور په شنهار سره تېره شوه.

د پولیسو شورا، علماوو شورا او نورو واټساپ ګروپونو کې مې د حال پوښتنې مسېجونه وکړل.

په څو شېبو کې معلومات په خپرېدو شول، چې د کابل په عبدالحق څلور لاري کې د هوايي جېټ الوتکې لخوا یو لنډ کروزر موټر په نښه شوی او وېشتلی دی.

چې رسنیو هم لاندې خبرونه د ځنګل داور په څېر خپره شول:

**نن ټکی اسیا:**

**په کابل او پکتیکا کې پاکستاني الوتکو بمبار کړی**

نن ټکی اسیا (جمعه، ۱۸ تله ۱۴۰۴): تېره شپه نهه نیمې بجې شاوخوا د افغانستان په پلازمینه کابل کې د الوتکو غږونه اوریدل شوي او ورسره د غټې چاودنې غږ اوریدل شوی خو تر اوسه لا معلومه شوې نه ده چې بمبار په کومه ساحه کې او پر چا شوی دی.

ځینو پاکستاني رسنیو د راپور سره سم برید د تحریک طالبان پاکستان د یوه مشر مفتی نور ولي محسود پر موټر باندي شوی خو تر اوسه د کابل څخه داسی شواهد، انځور یا ویډیو نه ده تر لاسه شوې چې د برید ځای او څرنګوالی معلوم کړي.
د افغانستان د حکومت ویاند ذبیح الله مجاهد په خپل ټویټر پاڼه لیکلی چې په کابل کې د چاودنې غږ اوریدل شوی او پلټنې رواني دي خو د تلفاتو په اړه تر اوسه کوم راپور نشته.
د تحریک طالبان پاکستان له ادرسونو په یوه غږیز پیغام کې مفتي نور ولي محسود ویلي چې هغه لا ژوندی دی، د پاکستان په قبایلي سیمو کې ژوند کوي او د پاکستان د حکومت او پوځ پر خلاف خپل جهاد ته ادامه ورکوي.
بلخوا د پکتیکا ولایت د جنائی جرمونو د مخنیوي عمومي مدیریت څخه په ورکړل شوی ځانګړی راپور کې ویل شوی چې د برمل ولسوالی د مرعی بازار په سیمه کې هوایي برید شوی چې له امله یې هیڅ ځاني تلفات نه دي اوښتی خو د برید په ترڅ کې یو شمیر دکانونه ړنګ شوي او سوځیدلي دي.

باید وویل شي چې په دې وروستیو کې د افغانستان او پاکستان تر منځ اختلافات اوج ته رسیدلی، پاکستان د افغانستان دولت یو دښمن دولت بللی او پر وړاندې یې له هرې ممکنه وسـایلو څخـه استفاده کړې چې د افغانستان حکومت اوسنی امنیت وگواښي او په نړیواله کچه یې نور هم منزوي کړي.

تر اوسه د افغانستان د حکومت له لوري ددې بمباریو پر وړاندي




کوم عکس العمل نه دی راغلی .

# برید تایید شو!




د پنجشنبې په ورځ ماښام د کابل اوسېدونکو د دوو درنو چاودنو خبر ورکړ، خو طالبانو تر اوسه پورې د دې چاودنو په اړه له جزئیاتو ورکولو څخه ډډه کړې ده.

د طالبانو ویاند ذبیح الله مجاهد، تائید کړې ده چې په کابل کې د چاودنو ږغونه اورېدل سوي دي او په اړه يې څېړنې رواني دي. هغه په ایکس شبکه کې لیکلي: «تر اوسه د کوم زیان په اړه راپور نه دی ورکړل سوی. خیر او خیرت دی». که څه هم طالبانو د دغو چاودنو په اړه نور جزئیات نه دي ورکړي، رسنیو د سرچینو په حواله خبر ورکړی دی چې چاودني د پاکستان هوايي برید وو. آلمان خبري آژانس د پاکستان د استخباراتي سرچینو په حواله خبر ورکړی دی چې په جټ او بې پیلوټه الوتکو سره څو بریدونه

سوي دي چي يو يې پر کابل وو. د پاکستان استخباراتي سرچينو د آلمان خبري آژانس ته ويلي دي چي د دغو عملياتو موخه هغه وسله وال او په ځانګړې توګه د پاکستاني طالبانو مشر نور ولي محسود وو چي تيره اونۍ يې چاودني ترسره کړي وې.

په اسلام آباد کي دغي استخباراتي سرچينې ويلي دي چي يو مېلمستون او يو موټر چي د پاکستاني طالبانو مشر ترې کار اخيست د دغو عملياتو موخه ګرځېدلي، خو معلومه نه ده چي هغه په دغه بريد کي وژل سوی که نه.

د افغانستان په ختيځ کي د پاکستان د هوايي بريد راپورونه

له دې سره سم د افغانستان په ختيځ کي د پاکستان د هوايي بريدونو راپور ورکړل سوی دی. طالبانو د دغه بريد په اړه هم له جزئياتو ورکولو څخه ډډه کوي.

په پکتيا کي يوې سرچينې دويچه ويله ته تائيد کړه چي د دغه ولايت پر برمل ولسوالی هوايي بريد سوی دی.

سرچينې وويل: «د پکتيا پر برمل ولسوالۍ کي د شپې پر يولسو بجو بمبار سوی دی، د ځاني تلفاتو په اړه معلومات نه سته، خو دوکانونه تخريب سوي دي.»

# د پاکستان طالبانوتحریک مشر مفتي نورولي مسعود د وژنې شرمېدلی خبر ؟

د پاکستان پوځ دا پلان له وخته منظم کړی او تر دې ترسیم کړی و، چې پوځي اداري خپل مطبوعاتي مزدوران چمتو کېنولي وو، دې دې چې تر برید څو شیبې وړاندې یې په پاکستاني رسنیو کې غور او پش جوړ کړ، چې په کابل کې یې د ټي ټي پي مشر- مفتي نورولي ټرګېټ او وواژه. او سمدلاسه یې پوځي ویاند د خبري کنفرانس اعلان وکړ، خو کله چې دوی پر خپل کاذب خبر وپوهېدل، نو مراندې یې سستې او تور مخونونه یې لا پسې تور شول.

د دې خبر په اړه رسنیو ته لږ سر ورښکاره کوو:

**د پاکستاني طالبانو د مشر په اړه ضد او نقیض راپورونه:**

ځینو سرچینو د پاکستاني طالبانو د مشر نور ولي مسحود د وژل کېدو خبر ورکړی دی، په داسي حال کي چي نوري سرچینې وایي چي هغه له دغه برید ژوندی وتلی دی.په دې ترخ کي په ټولنیزو شبکو کي نور ولي محسود ته منسوب یو ږغیز پیغام خپور سوی دی چي هغه پکښې وایي چي ژوندی او په پاکستان کي دی. د دغه ږغیز پیغام رښتنوالی تائید سوی نه دی. آزاد خبریال سمع الله یوسفزی چي په پاکستان او افغانستان کي سرچینو ته

لاس رسی لري، په ایکس شبکه کې لیکلي دي چې د طالبانو یوې سرچینې ویلي دي چې د پاکستاني طالبانو مشر له دغه بریده روغ رمټ وتلی دی.

د دید خبري اژانس: ځایي سرچینو ویلي چې د پاکستاني طالبانو مشر مفتي نور ولي محسود د پنجشنبې په ماښام شاوخوا لس بجې په کابل کې په هوایي برید کې په نښه شو. تر اوسه پورې کومې رسمي سرچینې دا خبر نه دی تایید کړی. بل خوا د افغانستان سولې لپاره د امریکا پخواني ځانگړي استازي پر کابل د پاکستان د احتمالي بریدونو په تړاو پوښتنې کړې دي. خلیلزاد هم ویلي، چې د برید د هدف راپورونه شاید ناسم وي.

د امرالله صالح په مشرۍ، زرغون بهیر بیا د خپلو سرچینو له قوله ویلي، چې پر کابل د پاکستان هوایي بریدونو کې د TTP مشر- نورولي مسید وژل شوی دی. د پاکستان حکومت تراوسه پر کابل د هوایي بریدونو او دغلته د نښه شوي هدف په تړاو څه نه دي ویلي.

دا هوایي برید داسې مهال ترسره کېږي، چې د طالبانو بهرنیو چارو وزیر، امیرخان متقي همدا اوس د پاکستان سیال، هند ته په رسمي بلنه تللی دی.

د یادونې ده چې د مفتي نور ولي بهانه یې ځکه وکړه، چې پاکستان خپلو شومو موخو ته نوره د لیونتوب تر برید واوښت.

## د مفتي نور ولي لخوا د وژنې خبر رد، غږیز پیغام




د پاکستاني طالبانو مشر مفتي نورولي محسود: په میډیا کې‌دونکي تبلیغات ناسم او دروغ دي،

زه په خپله قبایلي خاوره (پښتونخوا) کې یم او روغ رمټ یم.

هندوکش غږ د پاکستاني طالبانو د مشر مفتــي نـورولي محســود هغه غږیز کلیپ ترلاسه کړی، چې نوموړی پکې په ده د برید پــه اړه کېــدونکې اوازې ردوي او وایــي، چــې همـدا مهــال دی روغ رمټ په خپله قبایلي خاوره (پښتونخوا) کې دی .

ښاغلي محسود په دې غږیز پیغام کې د لا ډاډ او اطمینان په




موخه د خپلې سلامتیا په اړه د نن ورځې نېټه هم یادوي. او په پای کې مجاهدینو ته امر کوي، چې خپل جهاد ته ادامه ورکړي او د دنیا او اخرت کامیابي او سعادت یې په جهاد کې دی.

# د پاکستان بریدونو ته غبرګون

**مولوي متقي: پاکستان دې د افغانستان حوصله نه ازمائي**

نن ټکی اسیا (جمعه، ۱۸ تله ۱۴۰۴): د افغانستان د بهرنیو چارو وزیر مولوي امیرخان متقي په نوي ډیلي کې د افغانستان په سفارت کې په یوه خبري کانفرانس کې د پاکستان له لوري د افغانستان پر خاوره تیري او بمبار ته په اشاره وویل: د افغانانو زړورتیا او حوصله باید وانه ازمویل شي، که څوک فکر کوي چې دا کار کولای شي، نو لومړی دې د شوروي اتحاد، امریکا او ناټو سره وپوښتي، څو هغوی ورته وښيي چې له افغانستان سره لوبې کول نه یوازې ناسم، بلکې خطرناک عمل دی.

تیره شپه د هیواد په لیرې پرتو سیمو کې پولې ته نږدې هوايي برید شوی دی، چې مونږ دا عمل د پاکستان له لوري ناسم عمل ګڼو، ستونزې په دې ډول نه شي حل کېدای، هغوی باید خپله ستونزه پخپله حل کړي. که څوک مونږ سره ستونځه لري، مونږ د خبرو دروازه پرانستې ساتلې دي باید د خبرو له لارې مشکیل حل کړي.

افغانستان د ۴۰ کلونو وروسته سوله او پرمختګ ته لار موندلې هیڅوک باید ورسره ستونزه جوړه نکړي او موږ یو خپلواکه ملت یو نن که موږ سوله کې ژوند کوو، خلک ولې تکلیف کیږي؟

بیا هم وایم د افغانانو زړورتیا باید نوره امتحان نشي، که څوک غواړي دا کار وکړي، باید د شوروي اتحاد، امریکا او ناټو څخه

وپوښتي، ترڅو ورته وښودل شي چې افغانستان سره جنګ څه پیغام لري.

باید وویل شي چې د افغانستان د بهرنیو چارو وزیر مولوي امیرخان متقي په یوه تاریخي سفر هند ته په سفر تللی دی او هلته یې د هندوستان د بهرنیو چارو وزیر سره لیدنه وکړه او د دواړو اړخونو تر منځ د دوه اړخیزو اړیکو د پراخوالو پر موضوعاتو خبرې شوي دي.



## دفاع وزارت: که وضعیت هر څومره ترینگلی کیږي عواقب به یې پاکستاني پوځ ته راجع وي



د افغانستان دفاع وزارت وایي، پاکستاني ځواکونو یو ځل بیا د افغانستان هوایي حریم نقض کړی او د ډیورند فرضي کرښې ته څېرمه د پکتیکا ولایت په «مرغۍ» سیمه کې یې د ملکي خلکو پر یوه بازار بمبار کړی دی.

یاد وزارت په خپره کړې اعلامیه کې دغه برید «بې‌ساری، له تاوتریخوالي ډک او کرغېړن اقدام» بللی او ټینگار یې کړی، چې دا کار د نړیوالو اصولو او د افغانستان د ملي حاکمیت څرگند نقض دی.

سرچینه زیاتوي: «موږ د افغانستان پر خاورې دا تېری په کلکو ټکو غندو او د خپل حریم دفاع زموږ مسلم حق دی».

د ملي دفاع وزارت په وینا، دا ډول اقدامات د سیمې د ثبات پر وړاندې جدي ګواښ رامنځته کوي، او که وضعیت ترینګلی کېږي، عواقب به یې د پاکستان پوځ ته راجع وي. دا په داسې مهال ده، چې پاکستان بېګاه شپه د ډیورند کرښې ته څېرمه د پکتیکا ولایت په «مرغی» سیمه کې یې د ملکي خلکو پر یوه بازار بمبار کړی دی.



از راست به چپ: ملا یعقوب مجاهد سرپرست وزارت دفاع و سراج الدین حقانی سرپرست وزارت داخله حکومت طالبان

د سترجهادي شخصیت د ملامحمد عمر مجاهد فرزند ارجمند

د ستر جهادي شخصیت د مولوي جلال الدین حقاني فرزند ارجمند

# زلمی خلیلزاد: د اسلام‌اباد برید ناکام و، پاکستان دې د ډیپلوماسۍ لار غوره کړي

د افغانستان لپاره د امریکا پخواني ځانګړي استازي، زلمي خلیلزاد



ویلي، پر کابل د پاکستان وروستی هوایي برید چې ګواکې د تحریک طالبان پاکستان (ټي‌ټي‌پي) مشر یې نښه کړی، ناکام ثابت شوی دی .

خلیلزاد پر خپل ایکس پاڼه لیکلي، هغه څوک چې پاکستان د خپل د برید هدف باله، په کابل کې موجود نه و.

هغه پر پاکستان غږ کړی چې د پوځي بریدونو پر ځای ، د ډیپلوماسۍ له لارې د ټي‌ټي‌پي له ډلې سره د خبرو او اوربند هڅې وکړي.

خلیلزاد زیاته کړې، که د پاکستان پخوانی لومړی وزیر عمران خان اوس هم په واک کې وای، ښایي د ټي‌ټي‌پي له ډلې سره شخړه وختي حل شوې وای.

خو نوموړي په عین وخت کې څرګنده کړې، چې د ده په اند پاکستان به د ډیپلوماسۍ پر لور ګام وانخلي ښایي دې کې هیواد امنیتي وضعیت لا پسې خراب شي.



د کابل جان شپنی انځور

**د افغانســتان پــر زړه د پاکســتان د تېــرې شــپې هــوايي بريدونو عام افغانان خواشيني او په غوصه کـړي او ټـول د غچ اخيستو غوښتنه کوي.**



دلته يو څو نور غبرګونونه را اخلو!

د کابل پوهنتون پخواني استاد اسماعيل يون ويلي: "لـه پاکســتان نه د خلاصون يوازينی لاره دا ده چې هلته د جهاد اعـلان وشي او د شريعت د نافذېدو لپاره بايد انګريزي قانون ختم شي

طالب پلوی جانان خدرخيل ليکلي: يوه خبره درته کوم چــې وطـن کې د هر بد غږ سر او بېخ ناپاکستان ته وځـي. زمـا دا يـوه خـبره درسره نوټ کړئ چې اسراييل د کفارو پاکستان دی او پاکســتان د مسلمانانو اسرايیـل. د نـړۍ پـر مـخ بدترينـه مخلـوق او نـاوړه نقطه...

## حامد کرزی: د افغانستان پر خاوره د پاکستان برید په کلکو ټکو غندم

د افغانستان پخواني رژيم مشر حامد کرزي ويلي چې د پاکستان له لوري د افغانستان پر خاوره بمباري د نړيوالو قوانينو څخه سرغړونه ده او پر افغانستان پر حاکميت او حريم باندي دې تجاوز دی، چې نوموړی يې په کلکو ټکو غندي.

نوموړي زياته کړې چې د پاکستان کې دننه د تاوتريخوالی او مشکلات د پاکستان له لوري د افغانستان او سيمې په اړه غير مسؤولانه او د عواقبو د نه سنجولو تګلارې له امله ده.

بايد ووېل شي چې تېره شپه په کابل کې د الوتکې او يوې چاودنې غږونه اوريدل شوي خو وروسته معلومات ونشول چې څه موضوع وه، خو بلخوا د پکتيکا په برملی ولسوالي کې د مرغی په نامه بازار کې بمبار شوی چې له امله يې يو شمير دوکانونه زيانمن شوي دي.

> حامد کرزی رئیس‌جمهور پیشین #افغانستان، حملهٔ هوایی #پاکستان بر #کابل پایتخت کشور عزیز و ولایت #پکتیکا را تخلف آشکار از قواعد بین‌المللی، نقض حاکمیت و تجاوز بر حریم افغانستان دانسته آن را با شدیدترین الفاظ محکوم می‌نماید.
> رئیس‌جمهور پیشین افغانستان خاطرنشان می‌سازد که پالیسی‌های...
>
> — Hamid Karzai (@KarzaiH) October 10, 2025

# د کابل-اسلام‌اباد ترمنځ د پوځي نښتو په اړه د غبرګونونو دوام

د افغانستان د اسلامي امارت او پاکستاني ځواکونو ترمنځ له وروستيو نښتو وروسته، د امريکا ولسمشر اعلان کړی چې چمتو دی چې د دواړو هېوادونو ترمنځ د ترينګلتياو د کمولو لپاره منځګړيتوب وکړي.

ټرمپ چې اسراييلو ته د سفر پر لاره له خبريالانو سره خبرې کولې، څرګنده کړه چې د افغانستان او پاکستان ترمنځ يې د نښتو راپورونه اورېدلي دي.د امريکا ولسمشر، ډانلډ ټرمپ ويلي: «دا به اتمه جګړه وي چې زه يې حل کوم. ما اورېدلي چې اوس د پاکستان او افغانستان ترمنځ جګړه روانه ده، نو ما پرېکړه وکړه چې تر بيرته راستنېدو پورې انتظار وکړم. اوس زه يوه بله قضيه هم تعقيبوم، ځکه چې زه د جګړو په حل کولو او سوله راوستلو کې مهارت لرم او پر دې کار وياړم»، بلخوا، د چين د بهرنيو چارو وزارت وياند په يوه خبري غونډه کې وويل چې چين د پاکستان او افغانستان ترمنځ وروستيو نښتو ته اندېښمن دی.

د چين د بهرنيو چارو وزارت وياند، لين جيان هم وايي: «د پاکستان او افغانستان ترمنځ وروستيو نښتو د دواړو هېوادونو

ترمنځ ترینګلتیا زیاته کړې ده. موږ دا تحولات له نږدې څارو او اندېښمن یو. پاکستان او افغانستان دواړه د چین دوست ګاونډیان دي. دا هېوادونه یو له بله نه جلا کېدونکي دي. د ښه ګاونډیتوب د اړیکو ساتل، اقتصادي او ټولنیزو پرمختګونـه او پـه ګـډه لـه ترهګـرۍ سره مبـارزه د دواړو خـواوو بنسـټیزې او اوږدمهـالې اړیکې خوندي کوي«.

د افغانستان د سولې لپاره د امریکا پخواني ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد د وروستیو ترینګلتیاوو په غبرګون کې ویـلي، چې پـه پاکستان کې حاکمې ادارې د ډیپلوماسۍ پـر ځـای د خپـل ځـان لپاره ژورې کندې کیندي.

خلیلزاد د پاکستان وروستي اقدامات خواشینوونکي بللي دي .

د افغانستان د سولې لپاره د امریکـا پخـواني ځـانګړي اسـتازي، زلمي خلیلزاد ویلي: «زه له پاکستانه غواړم چـې ډیپلوماسـۍ تـه مخه کړي او له افغانستان او د پاکستان د طالبـانو لـه تحریـک (TTP)سره خبرې پیل کړي. پاکستان او افغانستان بایـد هـوکړه وکړي چې له دې وروسته هیڅ ډله یا کس د یوه هېواد له خاورې څخه د بل هېواد د امنیت ګواښولو لپاره کار وانخلي«.

د سیاسي چارو شـنونکی، عزیـز سـتانکزی وایـي: « دا اسـلامي امارت دی، نه د شل کلونو پخـواني حکومتونـه چـې هـره ورځ د پاکستان د بریدونو لاندې وو. د پاکستان پـوځي بریدونـه پـه ۴۸ ساعتونو کې له سخت او پرېکنده ځواب سره مخ شول «.

د پاکستان د بهرنیو چارو وزارت په یوه اعلامیه کـې ویـلي چـې اسلامآباد له افغانستان سره د خبرو اترو او دوستانه اړیکو ارزښت مني، خو هر ډول نور خوځښت به له سخت غبرګون سره مخ شي

د سیاسي چارو یو بل شنونکی، معین ګـل ځمکنـی بیـا وایـي: « دغه بېباوري چې رامنځته شـوې ، لامـل یـې دا دی چـې اصـلي واک د پاکستان د پوځ په لاس کې دی، نه د ملکـي حکومتونـو. کله چې ملکي حکومت یې ګام پورته کـړي او وغـواړي اړیکـې عادي کړي، پوځ یې یو دښمنانه اقدام کوي چې په پایله کـې یـې دلته د هغوی پر راتګ یو تور سیوری پرېوځي«.دا په داسې حـال کې ده چې پرون د اسلامي امارت ویاند په یوه خبري غونډه کـې وویل، په دغو نښتو کې۵۸ پاکستاني پوځیـان وژل شـوي او ۳۰ نور ټپیان دي. نوموړي زیاته کړه چې په دغـو عملیـاتو کـې ۲۵ پوسـتې او د پـام وړ پـوځي تجهیـزات هـم د اسـلامي امـارت ځواکونو لاسته ورغلي دي.




پر افغانستان د پاکستان هوايي بريدونو يو ځل بيا وښوده چې د طالبانو حکومت د پوځي تجهيزاتو او عصري ټېکنالوجۍ په ډګر کې څومره لويې نيمګړتياوې لري.

د دوی حکومت نه يو مجهز راډار سيستم لري او نه هم د دښمنو الوتکو د معلومولو، څارلو او راغورځولو وسايل لري.

که څه هم د طالبانو تر واکمنېدو مخکې هم، پاکستان پر افغانستان راکټونه توغول خو په ۲۰۲۱م کال کې د طالبانو له واک ته رسېدو راهيسې، پاکستان په افغانستان کې تر لسو ډېر هوايي بريدونه کړي دي.

خو د ۲۰۲۵ کال داکتوبر پرنهمه شپه لومړی وار وچې پاکستانیو جېټ الوتکو، د پلازمېنې کابل هوایي قلمرو هم نقض کړ.
د دې معنی دا ده چې د پاکستان او افغانستان ترینګلتیا یوه نور جدي او خطرناک حد ته رسېدلې ده.
بي بي سي لیکي:
پر افغانستان او د طالبانو پر حکومت د پاکستاني بریدونو تاثیر:
د پاکستان دا ډول بریدونه نه یوازې د یوه هېواد په توګه د افغانستان حاکمیت لپاره یوه صدمه ده، دا د طالبانو د حکومت لپاره هم یوه حیثیتي موضوع ګرځېدلې ده.
که څه هم په افغانستان کې د طالبانو حکومت ټینګار کوي چې اقتصاد محوره بهرنۍ پالیسي لري او نه غواړي له کوم بل هېواد سره په شخړه کېوزي خو د پاکستان د دې ډول بریدونو له کبله د طالبانو په منځ کې راټوکېدونکی خپلمنځي فشار او عمومي ولسي غم او غوسه به د طالبانو حکومت مجبور کړي چې پاکستان ته ځواب ورکړي.
پر همدې مهال د یوه ګډ بهرني خطر له کبله د طالبانو خپلمنځي یووالی هم ورسره ټینګېدلای شي.

خو د طالبانو حکومت لویه ستونزه دا ده چې تر یو شمېر نړیوالو بندیزونو لاندې دي، له روسیې پرته بل هېڅ هېواد په رسمیت نه دي پېژندلي او نه هم په ملګرو ملتونو یا بل نړیوال سازمان کې استازیتوب لري، له دې کبله نړیوالو ته او پر نړیوالو فورمونو خپل شکایت هم نشي وړاندې کولای.

خو له پاکستان یا بل کوم ګاونډي سره شخړه د افغانستان د ثبات او اقتصاد لپاره هم ډېر منفي عواقب لري، ځکه نه یوازې دوه اړخیزه تجارت ورسره اغېزمنېږي بلکې له نورې نړۍ سره د سوداګرۍ یوه مهمه لار هم له خنډ سره مخامخېږي.

د پاکستان لپاره ګټې او تاوانونه

پاکستان په دې ډول بریدونو سره غواړي د طالبانو پر حکومت فشار واچوي چې د پاکستاني طالبانو پر ضد مهم ګام واخلي چې د پاکستان په وینا په افغانستان کې مېشت دي او د هندوستان په مرسته له هغه ځایه په پاکستان کې بریدونه کوي.

د طالبانو حکومت دا تورونه ردوي او په پاکستان کې بریدونه د هغه هېواد کورنۍ مسئله بولي او ټینګار کوي چې حل یې هم باید خپله پاکستان راوباسي.

پر همدې مهال په پاکستان کې پر امنیتي ځواکونـو د پرلـه پسـې بریدونو او مرګژوبلې وروسته د دغه هېـواد چارواکي تـر فشـار لاندې دي او غواړي خپل ولس ته وښيي چې دوی په افغانسـتان کې په بریدونو سره غچ اخلي.

خو دا ډول بریدونه د پاکسـتان لپـاره یـو شـمېر منفـي پـایلې هـم درلودلای شي.

په دې سره نه یوازې د عام افغان ولس په منځ کې بلکې د طالبانو په جنګیالیو کې هم د پاکستان خلاف کرکه او غوسه ډېرېږي.

که څه هم په افغانستان کې د طالبانو حکومت پـر خپلـو امنیتـي کسانو بندیز لګولی چې په پاکستان کې له بریـدونو او هلتـه لـه فعالو ډلـو سره لـه همکـارۍ ډډه وکـړي، خـو د پاکسـتان پـه دې ګامونو سره د افغانانو په منځ کې هم د پاکسـتان خـلاف د جنـګ انګېزه ډېرېږي او کېدای شي له پاکسـتاني طالبـانو سره د افغـان طالبانو خپلسرو او رضارکارو جنګیالیو ملاتړ هم ډېر شي.

له بلې خوا به دا د هغو افغانانو لپاره هم ګرانه کړي چې غواړي د طالبانو د حکومت پر ضد له پاکستان سره همکاري وکړي.

د دې تر څنګ که څه هم په افغانستان کې د طالبانو حکومت له پاکستاني طالبانو سره د همکارۍ ادعا ردوي، د پاکستان دا ډول بریدونه افغان او پاکستاني طالبان نور سره نژدې کولای شي، څکه د پاکستان حکومت د دواړو لپاره یو ګډ دښمن ګرځي.

پر افغانستان د پاکستان بریدونه د هندوستان لپاره تر یوې تحفې کم نه دي، څکه دا هندوستان ته یوه ډېره ښه موقع په لاس ورکوي چې دا حالت د ځان په ګټه وکاروي.

پاکستان چې څومره پر افغانستان فشار واچوي، افغانستان به مجبور وي چې بله لار ولټوي.

پاکستان چې کله د ۲۰۲۵ کال د اکتوبر پر نهمه په افغانستان کې هوايي بریدونه وکړل په همغه وخت کې د طالبانو حکومت د بهرنیو چارو وزیر په ډیلي کې و او هندوستان په کابل کې خپل ماموریت د سفارت کچې ته د لوړېدو پلانونه په ډاګه کول.

پاکستان چې له وړاندې څخه لا له ګاونډي هندوستان سره په یوه سړه جګړه کې ښکېل دی، له بل ګاونډي افغانستان سره د ترینګلتیا تر ډېرېدو وروسته پر یوه وخت پر دوو محاذونو له فشار او بې ثباتۍ سره مخامخېږي، چې دا به د پاکستان د

ډیپلوماسۍ، امنیت او اقتصاد لپاره ګڼ اړخیز چلېنجونه راوټوکوي.

سیمه ییز ثبات او ګډوډي، د پاکستان او هند پوله :

که دا ډول بریدونه روان وساتل شي، کېدای شي په ټوله سیمه کې په یوه معمول بدل شي، ځکه هندوستان چې کله د ۲۰۲۵ کال د اپرېل په میاشت کې تر خپلې ولکې لاندې کشمیر په پهلګام کې د اوربکو خونړي برید وروسته د دې کال د مې په میاشت کې په دې دلیل پر پاکستان هوایي بریدونه وکړل چې د هندي چارواکو په وینا په هندي کشمیر کې د برید تر شا د پاکستان مېشتو اورپکو لاس و.

که څه هم پاکستان د هندوستان د هوایي برید ځواب ورکړ خو دا برید یې د نړیوالو اصولو او معیارونو خلاف ګام وباله.

که پاکستان په دې دلیل پر افغانستان برید کوي چې هلته پاکستان ضد اورپکي مېشت دي، او پر دوی بریدونه کوي، نو دا به هم هغه دلیل وي چې هندوستان یې پر پاکستان د برید د جواز لپاره کاروي.

تردې وړاندې د ۲۰۲۴ کال د جنورۍ په میاشت کې ایران د پاکستان په بلوچستان ایالت کې توغندیز بریدونه وکړل او په

وینا یې د هغو اورپکو پټنځایونه یې وویشتل چې په ایران کې په بریدونو کې ښکېل وو. پاکستان هم پر ایران ورته بریدونه وکړل او دواړو هېوادونو یو بل ته په دې ډول تر پیغام ورکولو وروسته خپل تعلقات بېرته جوړ کړل.

خو که د ډیپلوماسۍ او خبرو اترو له لارې د ستونزو د هوارولو پر ځای دا ډول بریدونه او د هېوادونو د ملي حاکمیت سرغړونې یو معمول وګرځي، نو دا به نه یوازې د افغانستان لپاره بلکې د ټولې سیمې د امنیت او ثبات لپاره خطرناک عواقب ولري.

یادونه: په افغانستان کې د طالبانو حکومت له خوا د ډیورنډ کرښې په اوږدو کې پر پاکستاني امنیتي مرکزونو له برید مخکې دغه مطلب لیکل شوی دی.



# پر افغانستان د پاکستان هوايي برید؛
# له دې وروسته به څه کېږي؟

۸صبح
د پرون روایت | د نن هېنداره | د سبا ژبرې

کورپاڼه · خبرونه · راپورونه · شننه · نظرونه او لیدلوري · ټولنه · د ښځینه غږ · کلتور او هنر · ګڼه وټه · مرکه · ورزش

## پر افغانستان د پاکستان هوايي برید؛ له دې وروسته به څه کېږي؟

شجاع‌الدین امیني — ۱۵ ساعت پیش

پر افغانستان د پاکستان هوايي برید؛ له دې وروسته به څه کېږي؟

د طالبانو دفاع وزارت په یوې خبرپاڼې کې پـر کابـل د پاکسـتان د هوايي برید پخلی کړی او دا یې له «تشـدد ډک او کرغېـړن» اقـدام بللی دی. اوس پوښتنه د طالبانو د غبرګون څرنګـوالي پـورې تړلـې ده. د دې ډلې غبرګون به هم د برید له پایلې سره تړاو ولري (د نـور ولي محسـود مـرګ او ژونـد). کـه د پاکسـتاني طالبـانو تحریـک «ټي‌ټي‌پي» مشر نورولي محسود وژل شوی وي، طالبـان لـه چـوپ پاتېدا پرته بله چاره نه لري؛ ځکه ترهګرو ته به د پناه ورکولو له کبله ملامت شي او د اسلام‌اباد پـر ورانـدې بـه د فشـار وسـایل لـه لاسـه ورکړي. برعکس، دا به پاکستان وي چـې کـولی شي پـر افغانسـتان برید توجیه کړي او د طالبانو احتمالي غبرګون بـې ځایـه وښـیي. دا احتمال ډېـر دی چـې محسـود لـه بریـد څخـه روغ وتلـی وي او د پاکستان دا مانـاداره چوپتیـا هـم د همدغـه ټکـي پخلـی کـوي. کـه

محسـود وژل شـوی وای، اسـلام‌اباد بـه سـملاسي د بريـد رسـمي مسوولیت منلی وای او ښايي جشن يې نیولی وای او د برید طراحان يې په مډالونو نازولي وای. اوس چې د محسود د مرګ کـره ثبـوت نه شته، پاکستان اړ شوی چې یا چوپتیا غوره کړي یـا هـم بریـد پـه نارسمي توګه ومني.

کله چې محسود ژوندی وي، طالبان د برید د غبرګون لپاره جـواز پیدا کوي؛ په دې ادعا چې هغه په کابل کې نـه شـته او پاکسـتان پـه خپلسري توګـه د افغانسـتان لـه ځمکنـۍ بشـپړتیا سرغړونـه کـړې او موخه يې له ټي‌ټي‌پي سره مبارزه نه بلکې له هغې پورتـه ده. پـه دې توګه طالبان د غبرګون لپاره څو غوراوي لري چې یو يې کرښـې تـه څېرمه سیمو کې پر پـوځي پوسـتو محـدود نظـامي بریدونـه دي. دا احتمالي برید به محدود، حساب شوی او کم اړخیز وي؛ هغه هم د خواله شبکو او رسـنیو د نیـوکګرو پېغورونـو تـه د ځـواب ویلـو پـه موخـه. هـو، کلـه چـې د نظـامي بریـد اړتیـا پېښـه شي، طالبـان لـه مدیریت شوي برید څخه پورته څه نه شي کولی، ځکه وس يې تـر همدې کچې دی.

سربېره پر دې، طالبان کولی شي هغه منابر او رسنۍ چـې پـه واک يې لري، د پاکستان پر ضد د عامه افکارو د راپارولو لپاره تـرې کـار واخلي؛ یا د چالاکۍ او زور له لارې. خلک هم چې کلـه خبـره لـه هېواده دفاع وي، پرته لـه دې چـې ګټـه او تـاوان يـې وګـوري، پـه احساساتي توګه د ناسمو واکمنـو پسـې تـګ هـم مصـلحت ګڼـي؛

داسې یو څه چې ښه د طالبانو په درد لګیږي. په دې حالت کې به د هېواد ځینې ښارونه په ځانګړې توګه ختیځ او سوېل د پاکستان پر وړاندې د سازمان شویو لاریونونو شاهد وي چې ښایي ډېر اغېز به ونه لري. که طالبان تر همدې کچې کار هم وکړي، ګټه یې کړې او لږ تر لږه وبه ښيي چې په سختیو کې کولی شي له بېلابېلو لارو خلک ډګر ته راوبولي.

دغه راز طالبان کولی شي ټي‌ټي‌پي د پاکستان پر وړاندې وکاروي. کله چې محسود ژوندی وي، ټي‌ټي‌پي به د طالبانو پوروړې وي. له داسې کره او پېچلي برید څخه د محسود ژوندی پاتې کېدل د طالبانو له هڅو پرته شونی نه و او په خپله یوه ګټه ده او کولی شي د ټي‌ټي‌پي وفاداري نوره هم راوکاږي. له ټي‌ټي‌پي ملاتړ او پاکستان ته پرې کلک ګوزار ورکول، د دې پرتله چې طالبان خپله مخامخ راووځي، کم لګښته دی. البته دا به د همدغه برید په غبرګون کې وي، نه د تل لپاره. هو، تر دې دمه نه یوازې د پاکستان برید کارن او پرځای نه دی ثابت شوی، بلکې طالبانو یې له ټي‌ټي‌پي د ملاتړ لپاره نور هم زړور کړي دي. هغه مهال به ګټور وای چې له ټي‌ټي‌پي سره د مبارزې لپاره د پاکستان د دریځ په ملاتړ کې د سیمې او له سیمې هاخوا پراخه اجماع رامنځته شي چې تر اوسه داسې څه نه شته. طالبان بیا انګېري چې پاکستان د ټي‌ټي‌پي پر وړاندې یوازې دی او نړۍ یې له داعیې ملاتړ نه کوي چې ظاهراً همداسې هم ده. تر دې دمه یوازې چین په بېلابېلو ژبو د پاکستان له

دریځه ملاتړ کړی. امریکا هم په پټه د پاکستان له «تروریزم سره د مبارزې» شعار څخه ملاتړ کوي؛ پرته له دې چې په ښکاره د ټي‌ټي‌پي د کابو کولو لپاره پر طالبانو فشار راوړي. نورو هېوادونو چوپتیا غوره کړې یا یې دواړو غاړو ته دا ارام پر سپارښتنو بسنه کړې ده.

په پایله کې که پاکستان له خپل دریځه شاته نه شي او پر پوځي غوراوي ټینګار وکړي، طالبان به هند ته نږدې شي؛ داسې یو غبرګون چې پاکستان ډېر ځوروي او له پوځي برید پرته یې غوسه نه سړېږي. همدا اوس هم د طالبانو او هند اړیکې تودې شوې دي. په داسې حال کې چې د پاکستان پوځي الوتکې د کابل او پکتیکا پر اسمان ګرځېدې، د طالبانو د بهرنیو چارو وزیر مولوي امیرخان متقي د هند مېلمه و. نوموړي له هند څخه ډېرې روغتیایي مرستې ترلاسه کړې. دغه راز هند په افغانستان کې خپل ډیپلوماتیک ماموریت د سفیر تر کچې پورته کړ؛ داسې یو اقدام چې پاکستان ته د خپسکې په څېر دی. مهمه بیا دا چې متقي په نوې ډیلي کې د یوې خبري غونډې پر مهال پاکستان ته خبرداری ورکړ چې د افغانانو صبر دې نه ازمايي. هو، ډېرو کمو کسانو به داسې تصور کړی وي چې د طالبانو د بهرنیو چارو وزیر به د نوې ډیلي مېلمه وي او له هغه ځایه به د پاکستان پر وړاندې سختې څرګندونې کوي. د سیاست نړۍ هم له عجیبو او پېچلو نندارو ډکه ده!

# ډارن پاکستان ولې دا بریدونه وکړل؟

ځکه چې ازاد ، خپلواک، ځواکمن او لوی افغانستان نشي زغملای.

د نړۍ له سترو ځواکونو؛ روسیې، امریکې، چین او هندوستان سره د طالبانو اړیکو یې خوبونه حرام کړي دي.

د تاریخي افغانستان او تاریخي هندوستان پر اړیکو د ۷۰کلن بې اصله او بې نسله پاکستان باندې د جنون حمله راغله، نو پرځان پوه نشو، د لېونتوب پر مهال ترې برید وشو، چې دا ستره تېروتنه یې د هلاکت پیلامه او د افغانستان د پراختیا وسېله او وسله ګرځېدونکې ده . ان شاءالله تعالی.

چې د دې مفهوم په لاندېنیو تفصیلي پاڼو کې موندلی او راتولولئ شئ!

# افغانستان او روسیه

طالبان غواړي چې د افغانستان او روسیې سره د نورې نړۍ په څېر د اسلامیت او افغانیت د آرونو په چوکاټ کې تعامل او دوستي وکړي، چې دا پر پاکستان ډېره درانده تمامه شوه، ځکه چې پاکستان د افغان قوم د ضعف، غلامۍ او هلاکت خوبونه لېدل، خو خدای تعالی دا تور دښمن ذلیل او رسوا کړ.

## د طالبانو او روسيې اړيکې:

د اسلامي امارت له پالیسۍ او دريځ څخه دا ده، چې هر بهرنی وګړی، سازمان او هېواد سره مونږ د شريعت په چوکاټ کې تعامل کوو، له دې ها خوا يوه ذره مخته نه ځو.

چې له دې څخه يوه فقره دا راوځي، چې افغانستان ته هرڅوک د افغانستان د اسلامي اصولو له مخې راتلای شي، خو په د قوانينو خلاف ، يونيفورم او اسلحې په زور دلته راتګ امکان نلري.

په دې اړه خالد افغان زوی( د طالبانو او روسيې داړيکو موضوع ته کتنه )دلته رانقلوو:

**کيسه څنګه راپورته شوه؟**

آبله ورځ په کابل کې د روسيي فدراتيف سفير ضمير کابلوف د روسيې له خبري اژانس انترفاکس سره په مرکه د طالبانو په اړه وويل چې : په افغانستان کې دداعش شتون ته په پام سره په ياده برخه کې زمونږ او طالبانو د منافعو ترمنځ انطباق راغلی ،مطلب دا چې دداعش ددواړو ګډ دښمن دی.

ضمير کابلوف چې د طالبانو په لاس کې د اسيرو روسانو د خلاصون مسؤل هم پاته شوی،له طالبانو سره د روسيې اړيکي درلودل ومنل. نوموړي وويل د روسيې لپاره دا ډيره مهمه ده چې

افغان او پاکستاني طالبان د داعش مشر۔ خپل خلیفه نه بولي بلکې ددښمن په نظر ورته ګوري هغه چې روسیه یې هم دښمن بولي.

د ضمیر کابلوف له یادو څرګندونو ځینو رسنیو دا اخیستنه وکړه، چې طالبانو له روسیې سره د داعش په خلاف د ګډې مبارزې په اړه مذاکرات کړي دي، طالبانو د یوې اعلامیې په صدور سره د رسنیو دا ډنډوره رد کړه او ویې ویل چې دوی نه د داعش په خلاف د مقابلې په اړه له روسیې سره خبرې کړې او نه هم ددغسې خبرو اړتیا ویني ددوی په باور چې طالبان د ۴۹ ملکونو ټلواله ماتولی شي نو دا څوغوړه داعشیان هم مهارولی شي لکه څنګه چې یې اوس په ټول افغانستان کې مهار کړي او یوازې د سپین غر د لوړو په څو غارونو کې پاته دي چې د طالبانو د حملې په مهال د پاکستان خواته تښتي خو چې طالبان له غرونو کوز شي دوی بیا په غرونو کې ځان ښکاره کړي.

ربښتیا هم که دداعش وضعیت ته وکتل شي او بیا د طالبانو پوځي توان ته، نو طالبان شاید هیڅکله دې ته مجبور نه شي چې له کوم هیواده مرسته وغواړي ، په افغانستان کې د داعشیانو لوی قوت د فراه او زابل خصوصا ازبکستاني داعشیان وو چې

طالبانو په څو ساعتیزو عملیاتو کې رام کړل، په ننګرهار کې دداعش ټول قوت هغه اورکزي داړه ماران وو چې د پولې له کوزې غاړې را اوښتي وو، هغوی هم د طالبانو په وړاندې درانه تلفات ورکړل او وروسته په سیمیزو خلکو کې د نه قبولیت له وجې بیرته له افغانستانه ووتل. داعش ته اوس په ننګرهار کې یوازې څو پوهنتوني وهابیان ورپاته دي، چې په راډیويي نطاقۍ غښتلي اما د جګړې بار ته د ټینګي نه دي،امریکایان او د کابل رژیم چې د داعش په رامنځته کولو یي له پخوا پانګونه شروع کړي همدغه څوتنه داعشیان ډیر مطرحوي او بیا بیا یي په رسنیو کې یادونه کوي، چې د وروستۍ ډنډورې د راپورته کولو یو غرض هم شاید همدا وي تر څو دداعش موضوع له واقعي کچې نه په مراتبو لویه اودرنه وښیي.

له دښمن سره مفاهمه طبعي او مشروعه ده

انسان مدنی الطبع دی،همداراز د انسان معنی له أنس یعني محبت ، الفت ، نږدیوالي او ګډون څخه اخیستل شوې ده، د انسان نه پرته نور حیوانات وحشیان بلل کیږي چې د نفرت او تښتتیدنې مفهوم په کې موجود دی، انسان په فردي او اجتماعي

لحاظ په هر حال کې له نورو انسانانو سره تعامل او اړیکو ته طبعا مجبور دی.

په انساني تاریخ کې هیڅ داسې انساني فرد یا ډله نه ده ثبت شوې چې هغو دي له نورو انسانانو سره تعامل، خبرې او تعلق نه وي درلودلی، هرڅوک له خپل همسایه او هر هغه چا سره چې ګټه او تاوان یي ورسره تړلی وي تعامل او روابط ساتي.

که له دیني اړخه وګورو رسول الله صلی الله علیه وسلم د خپل دور له هر ډول کتابي او غیرکتابي کفارو سره اړیکي، مفاهمه یا روابط درلودل، په مدینه کې یي د همدې اړیکو په اساس له یهودو سره تړون وکړ، وروسته یي د مختلفو قبائلو له سردارانو او امیرانو سره همیشه ناسته ولاړه او خبرې درلودې، حتی لویو امپراطوریو ته یي خپل استازي ولیږل او له هغوی سره یي بالواسطه مذاکرې وکړې، تر څو د اسلام او مدني امارت د ګټې،استحکام او له اضافي اضرارو د خوندیتوب لپاره ترې استفاده وکړي.

له لرې او نږدې حکومتونو او سیاسي مجامعو سره تعامل، داستازو استول، هغوی ته خپل پیغام رسول او د هغوی پیغام اوریدل د نبوي سیاست یوه لویه برخه وه،نبي علیه السلام له

نړیوالو سره داسې وچ دښمنانه چلند نه درلود لکـه دداعـش، هغـه چې ددښمن استازي ته هم د واجـب القتـل دښـمن پـه نظـر کتـل کیږي او سر ترې غوڅیږي،دغـه ډول ترلـی او تنـګ دریـځ د شر القرون داعشي تصور او اجتهاد دی چې په اسلام کې ځای نلري.

زموږ د پیغمبر علیه السلام وروستی وصیت خپل امت ته داوو چې تاسو له استازو او پیغام وړونکو سره ښه چلند وکړئ، له دې څخه ثابتیږي چې له کافر حکومت سره خبرې، ناسـته او مفاهمـه کوم ناروا عمل نه دی په شرط ددې چې هدف یې مشرـوع وي او ددین اصول په کې تر پښو لاندې نه شي.

د طالبانو سیاسي استازي چـې د نـړۍ د مختلفـو هیوادونـو لـه چارواکو سره ناسته پاسته، مفاهمـه او خـبرې اتـرې کـوي، مهـم اهداف یې د طالبانو په اړه دهغـوی پوښـتنې ځوابـول ، د امـارت ددښـمنانو کمول،لـه بي ځایـه او ناځـاپي شـخړو څخـه د امـارت ساتنه،او د امارت داستحکام په موخـه د هغـو خنـډونو لـه منځـه وړل دي چې پـه دغسـې لیـدنو کتنـو او مفـاهمو لـه منځـه وړل کیدلی شي.

روابط او وابستګي تر خپل منځ فرق لري

که د سیاسي او نړیوال عـرف لـه نظـره وګـورو نـو پـه نړیـوال سیاسي عرف کې هم له کوم چا سره اړیکـي درلـودل ناشایسـته عمل نه شي بلل کیدای،په نړۍ کې دښمنان هم یو تر بله اړیکـي ساتې، خبرې کوې او په تر ټولو سختو حالاتو کې هـم د مفـاهمې چینل فعـال سـاتي، ایـران او امریکـا تـردې وروسـتیو یـو د بـل خطرناک دښمنان بلل کیدل ددوی ترمنځ دښمني هغه وخت اوج ته ورسېده کله چې ایراني محصلینو د امریکـا سـفارت قبضـه کـړ، مګر له هغه وروسته چې امریکا په ایران کې سفارت نلري بیا هم ددغه دوه سره مخالف ملکونو خپل د اړیکو کانال په تهران کې د سویس سفارت ته انتقال کړی او له هماغه چینل څخه یـو لـه بلـه اړیکي پالي.

سیاسي روابط په اصل کې هغه تاکتیکي چلند ته وایي چې دوه سیاسي اړخونه یي د خپلو منـافعو لپـاره لـه یوبـل سره پـالي پـه سیاسي روابطو کې د اجبار او احتیاج موضوع تر منځ نه وي، او نه هم یو لوری په بل باندې تنفیذي واک لري ، دغه ډول اړیکـي چې زیاتره د یو بل له موقف او پیغام څخـه د خبریـدلو لپـاره وي هیڅ کوم نادود عمل نه بلل کیږي.

اما هغه څه چې نامشروع یا په سیاسي عرف کې د پیغور وړ بلل کیږي هغه له کوم اړخ سره د سیاسي جریان وابستګي ده، وابستګي دا مطلب چې یو سیاسي اړخ لـه بـل جهت سره داسې تړاو ولري چې کنټرول یې د هغه پـه لاس کې وي، مثلا د افغانستان کمونیستانو له شوروي اتحاد سره روابط نـه بلکې وابستګي درلوده،ځکه شورویان توانیدلي و چې داخلي کمونیستان د خپلو سیاسي،فکري،اقتصادي او فرهنګي اهدافوپه لاره کې د ریموټي نانځکو غوندې وکاروي، دغسې تړاو هغه چې یو جهت په کې ځان بایلي او کاملا د بل اړخ پـه کنټرول کې راځي نامشروع او د نه منلو وړ موقف بلل کیدای شي.

اکثره خلک په طالبانو دا تور لګوي چې له پاکستان سره تړاو یا وابستګي لري،مګر ددوی دا خبره بې ځایه او ناعادلانه ده،ځکه له پاکستان سره د طالبانو تړاو دا معنـی چې پاکستان پـه طالبانو بشپړ کنترول لري او طالبان د خپل ګټو لپاره کاروي، پـه داسې حال کې چې هیڅ داسې ثبوت نشته چې پـه طالبانو د پاکستان کنترول ثابت کړي،که پاکستان په طالبانو کنترول درلودلی،بایـد چې طالبان یي دېته مجبور کړي وای چې د خپل واک پـه وخت کې د شرعي نظام په ځای پاکستانی سیاسي ماډل جمهوریت نافذ

کړي لکه څنګه چې کابل میشت د امریکا وابسته ګـان پـه ټولـو برخو کې هوبهو امریکایي پلانونه او ماډلونه عملي کوي.

برعکس د طالبانو په اړه باید وویـل شي چـې لـه پاکسـتان سره روابط لري، هوکې طالبان د یوه سیاسي انساني حرکـت پـه حیـث مجبور او مکلف دي چې له هر هیواد سره خصوصا ګاونډیانو سره روابط ولري، د خپلو سیاسي سـفیرانو پـه توسـط لـه هغـوی سره لیدنې وکړي،خپله خبره ورته ورسوي او د هغوی موقف درک کړي.

طالبان ولې باید له روسیې سره مفاهمه ولري؟

لکه وړاندې چې وویل شول نفس مفاهمه یو طبعي،مشروعه او سیاسي اړتیا ده، هر هغه جهت چـې مواقـف يـې سـتا پـه کـار او فعالیت تاثیر لري نو تاسو له هره اړخه مجبور یاست چې له هغوی سره په خبره ځان پوه کړئ، تر څـو د هغـوی دوسـتي یـا دښـمني ، مثبت یا منفي موقف ځانته معلوم او بیا په رڼـا کـې پـه روښـانه سترګو متقابل چلند وکړئ.

روسیه په دې سربیره چې دنړیوال سیاسـت مهـم لوبغـاړی دی، د افغانستان په سیاسي وضعیت مخـامخ تاثیرګـذار هیـواد دی،کـه روسیه په افغانستان کـې د سـوریې غونـدې مداخلـه وکـړي نـو کولای شي ډیرې معادلې معکوسې کړي،لکه په سوریه کـې يـې چې د حالاتو ټولو مبصرین ګوته پرغاښ کینول.

طالبان چې لـه امریکـا سره لاس او گریـوان دي او پـه نړیوالـه سطحه يي هم دومره دښمنانو ته غیږ ورکړي چې نور يي په لیڅـو کې نه راځي ورته په کار ده، چې د خپلې بقـاء پـه خـاطر د خپلـو دښمنانو اضرار له ځانه دفع کـړي او لـه اضـافي او غیـرضروري ټکرونو او تصادماتو ځان وساتي.

د هیـواد پـه شـمال کـې د طالبـانو مضـبوط شـتون او د کنـدز، بدخشان او فارياب د فتحو غونډې سترې بریاوې هغه حوادث وو چې روسان يي وپارول، روسان چې طالبان يي د شمالي ټلـوالې د تعبير او تعريف له عينکو ليدل، نـو ددوی پرمختيـا يـي ځـان تـه مخامخ گواښ تلقي کړه، دهمدې لپاره يـي پـه شـمالي افغانسـتان کې د مداخلې گواښ وکړ، د طالبانو حرفوي دښمنانو لکه دوستم، عطاء محمد نور او په ټوله کې شمال ټلوالې له فرصت نـه د گټـې پورته کولو هڅه وکړه، دوستم له پوتين څخه د ټانگونواو څرخکو غوښتنه وکړه، عطاء محمد نور د روسيې په مرسـته د يـوې نـوې مليشې جوړولو خبره وکړه، حتی د مشرانو جرگې د مشر په شمول ځيني کسان روسيې ته لاړل او له روسيې نه يـي د پنځـوس زره ميله کلاشينکوفونو د مرستې اخيستلو خبره وکړه.

طالبان چې د اربکيزم له فتنې څخه يي ډيرې سترې ليدلې وې دا ځل په شمال کې د يوې نوې مليشې له خطر سره مخامخ شول، مګر ددې په ځای چې ددې مليشې سره يوازې پوځي مقابله وکړي او په شمال کې د يوې نوې خونړۍ جګړې اور بل کړي د شمال د نوې مليشې له شر څخه د امن په خاطر يي سياسي قطعه وکاروله او هغه داچې د روان کال د ميزان په شلمه نيټه يي د سياسي دفتر لخوا د يوې اعلاميې په خپرولو سره ټولو شمالي ګاونډيانو ته ډاډ ورکړ چې ددوی فتوحات به ګاونډيانو ته ضرر ونه رسوي، د منځنۍاسيا هيوادونو دې بې ځايه خطر نه محسوسوي. طالبانو په خپله اعلاميه کې هغه مهال وليکل: د اسلامي امارت سياسي دفتر خپلو ګاونډيو هېوادونو ته ډاډ او اطمئنان ور کوي چې هېڅ ګاونډي ته د ضرر رسولو اراده نه لري، اسلامي امارت د انساني ارزښتونو او اسلامي اصولو له مخې له خپلو ټولو ګاونډيو هېوادونو سره د حسن جوار د اصل په اساس د ښو او مثمرو روابطو غوښتونکی دی، په دې اړه چې داسلامي امارت په خلاف کوم تبليغات کېږي هېڅ اساس نه لري«.

د طالبانو دغې اعلاميې لوی کار دا وکړ چې د روسانو د ښکيلتيا جذبه يي سړه کړه، د شمال د مليشو خبره چې د روسيې په مرستو به جوړېده همداسې پاتې شوه او طالبان وتوانيدل چې

ددښمنانو به بیروبار کې دیوه خطرناک دښمن له غیرضروري جنجال څخه ځان وژغوري او خپلو اولویتونو ته فارغ شي

دا واقعیت باید ومنو چې د اسلام ویښتابه ډېر سیاسي یا جهادي تحریکونه په تصادماتو کې له منځه تللي او ټول قوت او جوړښت يې ذوب شوی دی، تصادمات کله ناکله ناګزیره وي او له ناچارۍ ورته څوک مجبوریږي لکه د طالبانو او غربي ټلوالې تصادم ، اما کله ناکله غیر ضروري وي لکه بې موجبه ټولو لرې او نږدې دښمنانو ته جنګ اعلانول، هغه چې یوازې ددښمن د پاریدنې او دښمن ته د بهانې د په لاس ورکولو کار کوي او نور له تباهي پرته او د اسلامي خوځښت له څو ګامه شاته غورځیدلو پرته بله هیڅ نتیجه نلري.د طالبانو یوه هوښیاري داده چې د نورو نړیوالو جهادي حرکاتو برعکس تر خپله وسه ټول کوښښ کوي چې له غیر ضروري او بوختوونکو تصادماتو او جنجالونو ځان وساتي، دوی په تیرو څو کلونو کې د همدې پالیسۍ په مټ وتوانیدل چې له ډیرې سختې او امتحاني مرحلې ژوندي ووځي حال داچې په دغسې مراحلو کې ډیری تحریکونو په بشپړه توګه له منځه ځي او جمعي وجود یې متلاشي کیږي.

## د بهرنیو چارو وزیر له خپل روسیي سیال سره وکتل



په دې لیدنه کې د دواړو هېوادونو تر منځ د سیاسي اړیکو د لا پیاوړتیا، اقتصادي همکاریو د پراختیا او پر سیمه‌ییزو موضوعاتو هر اړخیز بحث وشو.

د هېواد د بهرنیو چارو وزیر د روسیې فدراسیون له خوا د افغانستان د اسلامي امارت د رسمیت پېژندنې له پرېکړې مننه وکړه او دا یې د دواړو هېوادونو د اړیکو په مسیر کې یو مهم او تاریخي تحول وباله. نوموړي څرګنده کړه چې د رسمیت اعلان نه یواځې د سیاسي او اقتصادي همکاریو نوې دروازې پرانیستې، بلکې په نړیواله ټولنه کې د افغانستان د فعال رول په لور یو مهم ګام هم بلل کېږي.

همداراز، ښاغلي وزیر د نشه‌يي توکو پر ضد مبارزې، سیمه‌ییزو اقتصادي پروژو او ټرانسپورټي دهلیزونو په برخو کې د متقابلې همکارۍ پر اهمیت ټینګار وکړ.

د روسیې د بهرنیو چارو وزیر ښاغلي لاوروف وویل چې د افغانستان د اسلامي امارت رسمیت پېژندنه د دواړو هېوادونو تر منځ په سیاسي، اقتصادي او نړیوالو همکاریو کې بې‌سارې فرصتونه رامنځته کړي دي او په نږدې راتلونکي کې به یې د مثبتو پایلو شاهدان اوسو.

ښاغلي لاوروف همداراز د نشه‌يي توکو د قاچاقو د مخنیوي، د امنیت د ټینګښت او نورو برخو کې د اسلامي امارت هڅې وستایلې او ټینګار یې وکړ چې د دوه اړخیزو اړیکو د پیاوړتیا ترڅنګ باید د مسکو فارمټ په څېر سیمه‌ییزو میکانیزمونو څخه هم اغېزمنه استفاده وشي.نوموړي د اسلامي امارت د لاسته راوړنو او خپلواک دریځ ستاینه وکړه او د سیمي په ګټه یې وباله.



# ماسکو فارمټ غونډه:

# مولانا امیرخان متقي مهمې څرګندونې او غوښتنې


اېچ ټي این
هندوکش
ټریبون نیټ ورک

تحقیقاتي تفریح تعلیم تاریخ امنیت لوبې اقتصاد دری

تازه خبرونه د متقي هند ته سفر: د عقیدې او سیاست یو نوی پیل

**ماسکو فارمټ غونډه: مولانا امیرخان متقي مهمې څرګندونې او غوښتنې**

د افغانستان د بهرنیو چارو وزیر امیرخان متقي ویلي دي چې ځینې لوري افغانستان د سیمې لپاره د یو ګواښ په توګه معرفي کوي چې ددوی دا هڅې په کلکه غندم



د افغانستان د بهرنیو چارو وزیر امیرخان متقي ویلي دي چې ځینې لوري افغانستان د سیمې لپاره د یو ګواښ په توګه معرفي کوي چې ددوی دا هڅې په کلکه غندم

د افغانستان د بهرنیو چارو وزیر امیرخان متقي ویلي دي چې نړۍ باید د افغانستان د بیا رغونې په اړه بشپړه مرستې وکړي

افغانستان بهرنیو چارو وزیر مولوي امیرخان متقي د ماسکو فارمټ اوومې ناستې ګډون کوونکو هېوادونو ګډ کنفرانس ته مهمې څرګندونې کړي دي او ویلي ی دي چې په افغانستان کې ټولې هغه ډلې له منځه تللې چې د افغانستان او سیمې امنیت او ثبات ته ګواښ دي..

د داعش ډلې به اړه د متقي څرګندونې:

امیرخان متقي د کوم هېواد له نوم اخیستلو پرته ویلي، له افغانستان د باندې ستونزې شته چې باید د سیمې هېوادونه په ګډه د داعش او نورو ډلو مرکزونو پر وړاندې چې د افغانستان او سیمې امنیت ته ګواښ دي اقدام وکړي، نوموړي یو ځل بیا ټینګار کړی، چې افغانستان کې د داعش په ګډون د هیڅ غیرمسئوله وسلهوالې ډلې مرکزونه نشته.

د بهرنیو چارو وزیر داسې مهال دغه څرګندونې کړې، چې وړمه ورځ د پاکستان کراچۍ ښار او بلوچستان کې د داعش خراسان څانګې درې مهم مشران ووژل شول.

د ماسکو فارمټ اوومې ناستې ګډونوالو د یوې ګډې اعلامیې په خپرولو سره له نړیوالې ټولنې سره د افغانستان سوداګریزو او اقتصادي اړیکو ودې او پانګونې ټینګار کړی.

اعلامیه کې د افغانستان په ګډون د سیمه ییزو اقتصادي پروژو د پراختیا، روغتیا، بې وزلۍ سره مبارزې، کرنې او د طبیعي پېښو د مخنیوي برخو کې د دومداره پرمختګونو په اړه لېوالتیا څرګنده شوې، څو افغانستان ژر تر ژره خپلواک او تلپاتي پرمختګ ته ورسیږي، دغه راز اعلامیه کې په سیمه‌ییزو همکاریو نظام کې د افغانستان د فعال ادغام او حضور هرکلی هم شوی.

افغانستان لپاره د مرستو غوښتنه:

د مسکو فارمټ ګډونوالو له نړیوالي ټولنې غوښتي، چې افغانستان ته بېړنۍ بشري مرستې زیاتې کړي او ټینګار یې کړی چې مرستې باید سیاسي نه شي ، دوی همداراز له هغو هېوادونو چې په روان سخت حالت کې د افغانستان پر وړاندې اصلي مسئولیت په غاړه لري غوښتي، چې د افغانستان بیارغونې او پراختیا برخو ته دې ژمن پاتې شي، د یادونې ده، چې د افغانستان په اړه د مسکو فارمټ ناسته د افغانستان بهرنیو چارو وزیر په ګډون د لسو غړو هېوادونو د استازو په شتون کې ترسره شوه

د متقي مهمه غوښتنه:

مولوي اميرخان متقي په دا مهال يوه مهمه غوښتنه کـړې ده او ويلي ی دي چې  لـه نـاامنۍ ځورېـدوونکي هېوادونـه دې خپـل مسوولیت په خپله اوږه واخلي ، د افغانستان بهرنيو چـارو وزيـر مولوي اميرخان متقي د ماسکو فارمټ مشورتي غونـډې اوومـه ناسته کې ويلي، چې له ناامنۍ ځورېدوونکي هېوادونه دې خپـل مسوولیت په خپله اوږه واخلي. افغان وزير ماسکو کې همـداراز ويلي، ځيني لوري فعاله هڅه کوي افغانستان سيمې ته د خطر په حيث معرفي کړي، چې زه دا هڅې په کلکو ټکو کې غندم.



**د اسلامي سياست امامان**

**( د بني اسرايلو سياست به پيغمبرانو کاوه: حديث شريف)**

## ضمیر کابلوف: داعش په ضد مبارزه، روس د افغان دولت سره مرستو لپاره تیار دي.



افغانستان کښې ترهه ګر ډلې د امریکې او ناټو موجودګۍ په مهال منظم شوي وې، امریکه دې د افغانستان کنګل شتمنۍ آزادې کړي

افغانستان لپاره د روس خصوصي استازي ضمیر کابلوف یوې خبرې ادارے سره مرکې په مهال افغان طالبان د ترهه ګرۍ په ضد جهګړه کښې د روس مهم شراکت دار بللي دے ـ ضمیر کابلوف وائي چې اسلامي امارت د ترهه ګر ډلو خلاف موثره اقدامات کوي روس له پکار دي چې د ترهه ګرۍ د خطرو د مکمل خاتمې لپاره اسلامي امارت سره پوځي مرستې وکړي ـ

د یوې پوښتنې په جواب کښې د روس استازي ووئیل چې افغانستان کښې ترهه ګر ډیر وخت راهسې خوندي ټهکانې لري،دا ترهه ګر د امریکې افغان جنګ دوران د یو منظم پروګرام مطابق دلته ځائې کړي شوي وو افغان اسلامي امارت د دې ذمه وار ګڼل نه دي پکار ـ

ضمیر کابلوف زیاته کړه چې کمزورې معیشت د افغانستان اهمه مسئله ده د افغانانو ستونزې د کانفرنسونواو اجلاسونو د لارې نه حل کیږي چې ترڅو امریکې د افغانستان کنګل کړي شوي ټولې شتمنۍ آزاد کړي نه وي دا ستونزې نه هواریږي باید چې سوئس بانک کښې جمع شوي د افغانستان ۲،۵ میلیارده ډالر دې اسلامي امارت ته وسپارلې شي ـ



# مولوي اميرخان متقي د مسکو فارمټ غونډه کې د رسمي غړي په توګه ګډون کړی





د بهرنيو چارو وزارت د مسکو فارمټ مشورتي غونډې په اوومه ناسته کې د ښاغلي مولوي اميرخان متقي له ګډونه خبر ورکړی دی.

د ياد وزارت په خپره کړې خبرپاڼه کې ويل شوي، چې ښاغلي متقي د مسکو فارمټ مشورتي غونډې په اوومه ناسته کې د رسمي غړي په توګه ګډون کړی دی.

ټاکل شوې، چې د بهرنيو چارو وزير د افغانستان او سيمې د اړيکو پراختيا په موخه د غړو هېوادونو ترمنځ خپل موقف وړاندې کړي.

# پوتین: له طالبانو سره د مخدرو موادو او ترهګرۍ پر وړاندې مبارزه کې همکاري کوو



د روسیې ولسمشر ولادیمیر پوتین اعلان کړی چې هېواد یې له طالبانو سره د ترهګرۍ او مخدره موادو پر وړاندې مبارزه کې بشپړه همکاري کوي.

دا څرګندونې د دوشنبې په ورځ د تاجکستان په پلازمېنه دوشنبې کې د روسیې او منځنۍ آسیا د هېوادونو په ګډه غونډه کې وشوې.

پوتین د افغانستان پر امنیتي وضعیت خبرې وکړې او وویل چې مسکو د طالبانو له حکومت سره د ترهګرۍ او نشه‌یي توکو د قاچاق پر وړاندې مبارزه کې بشپړ ملاتړ کوي.

پوتین زیاته کړه: "موږ وینو چې د افغانستان اوسني چارواکي د ترهګرۍ او مخدرو موادو پر وړاندې د ګډې مبارزې په ګډون، په بېلابېلو برخو کې همکارۍ ته چمتو دي. روسیه په کلکه د دغو هڅو ملاتړ کوي."

هغه دې ته هم اشاره وکړه چې د افغانستان وضعيت تل د منځنۍ آسيا هېوادونو لپاره د اندېښنې وړ موضوع پاتې شوې او د سيمه‌ييزې همکارۍ پياوړتيا د ګډو امنيتي ګواښونو پر وړاندې ډېره مهمه ده.

پوتين د داعش خراسان څانګې او نورو افراطي ډلو د شتون او فعاليت په اړه خپله ځانګړې اندېښنه څرګنده کړه او ټينګار يې وکړ چې د دې ګواښونو د مخنيوي لپاره ګډ سيمه‌ييز عمل ضروري دی.

دا څرګندونې وروسته له هغه کېږي چې پوتين ځانګړي استازي ضمير کابلوف ويلي و چې د افغانستان اوسني افراطي ډلې د لوېديځ د پوځي مداخلې محصول دي او د طالبانو حکومت د روسيې د نړيوال تروريزم پر وړاندې د جګړې ملګری بلل کېږي.

روسيې د روان ۲۰۲۵ کال د چنګاښ (جولای) په ۱۲مه نېټه په يوه بې ساري اقدام کې د طالبانو حکومت په رسميت وپېژانده او د هغوی د نوي سفير د استوګنې اسناد يې ومنل. دا پرېکړه د طالبانو له ۲۰۲۱ کال راهيسې د واک ته رسېدو وروسته، د دوی د نړيوال مشروعيت په لور يو مهم ګام بلل کېږي.

# روسیه: اسلامي امارت به امریکا ته اجازه ورنکړي چې د بگرام اډې ته بېرته راشي

روسیه: ا.ا به امریکا ته اجازه ورنکړي چې د بگرام اډې ته بېرته راشي

افغان سالار · اکتوبر 8, 2025



د افغانستان لپاره د روسیې د ولسمشر ځانگړي استازي ضمیر کابلوف وویل، چې ا.ا به امریکا ته اجازه ورنکړي چې د بگرام اډې ته بېرته راشي.

کابلوف وویل: "د افغانستان د بهرنیو چارو وزیر د سرگي لاوروف سره د دوه اړخیزو خبرو اترو په جریان کې په کلکه وویل چې افغان حکومت به په خپله خاوره (افغانستان) کې د

هېڅ بهرني اډې د جوړولو اجازه ورنکړي. په دې کې د بګرام هوايي اډه هم شامله ده".

تر دې وړاندې ډونالډ ټرمپ افغانستان ته ګواښ کړی و چې که د بګرام امريکا ته د سپارلو څخه انکار وکړي نو "جدي" پايلې به ولري. هغه وويل چې هغه تمه لري چې هوايي اډه به سمدلاسه وسپارل شي.

متقي وويل چې داعش او نورې ترهګرې ډلې په افغانستان کې میشتې نه دي؛ دوی له افغانستان څخه بهر میشتې دي او ا.ا د دوی د له منځه وړلو لپاره د نورو هېوادونو همکاري غواړي.

هغه دا هم زياته کړه: "د خپل څلور کلن واکمنۍ په موده کې، ا.ا هېڅ داسې پيښې ته اجازه نه ده ورکړې چې د سيمې د هېوادونو امنيت ګواښي".

د نوموړي په وينا د مسکو فارمټ مشورتي غونډه د سيمې د هېوادونو لپاره يو ښه فرصت دی چې يو بل ته غوږ ونيسي- او د همکارۍ ساحې رامنځته کړي.

متقي د روسيې څخه مننه وکړه چې د ا.ا په رسميت يې وپېژندله او خپل پلاوي ته يې د افغانستان په اړه د مسکو فارمټ مشورتي غونډه کې د بشپړ غړي په توګه د ګډون بلنه ورکړه.

# د مسکو فارمټ په اوومه غونډه کې
# د بهرنیو چارو وزیر وینا




بسم الله الرحمن الرحیم

الحمدلله رب العالمین و الصلاة والسلام علی محمد و علی اله واصحابه اجمعین، و بعد:

د روسیې فدراسیون د بهرنیو چارو وزیر ښاغلی سرګي لاوروف، د مسکو فارمټ د اوومې غونډې غړو او مېلمه هیوادونو محترمو استازو، ښاغلو او آغلو!

سهار مو پخیر،

له هر څه وړاندې زه د روسيې فدراسيون له محترم دولت څخه مننه کوم چې په لومړي ځل يې مسکو فارمټ کې افغانستان ته د غړي په حيث بلنه ورکړه. همدارنګه د روسيې فدراسيون حکومت او په مشخص ډول د بهرنيو چارو وزير، ښاغلی سرګي لاوروف د کوربه توب، مېلمه پالنې او ګرم استقبال ځانګړې مننه کوم.

له دې فرصت څخه په استفادې د روسيې فدراسيون قدرداني کوم چې د يو جرأتمندانه اقدام په ترڅ کې يې د افغانستان اسلامي امارت په رسميت وپېژنده. دا داسې يو ګام وو چې زمونږ تر منځ يې بېسارى عملي همکاريو ته لاره پرانستله.

تاسي ته مالومه ده چې د مسکو په فارمټ کې زمونږ تېره ناسته د ۲۰۲۴ کال د اکتوبر په ۴مه ترسره شوې وه. له هغه وخت راهيسې په سيمه او نړۍ کې د پام وړ بدلونونه راغلي دي خو له نېکه مرغه د افغانستان او سيمې اړيکې له پخوا لا ډېرې قوي او د لا ډېر استحکام په لور روانې شوې دي. دا د افغانستان په اړه د بيروني نړۍ د مناسب درک او ښه نيت ښکارندويي کوي.

قدرمنو حاضرينو!

مونږ او تاسي په داسې وخت کې سره راټول يو چې په سيمه او نړۍ کې د تغيراتو او تحولاتو څپه روانه ده. زما لپاره له ټولو

ځانګړی او د پام وړ موضوع دا ده چې په داسې وخت کې زمونږ او ستاسي اړیکې د لا ډېر اعتماد او باور په لور روانې دي. زمونږ او ستاسي ننی مجلس د دې یوه څرګنده نښه ده.

تېرو څه د پاسه څلورو کلونو کې د افغانستان اسلامي امارت حاکمیت د افغانستان په امنیت، بهرني سیاست او اقتصاد په برخه کې بې مخینې پرمختګونه کړي دي چې ټوله نړۍ په عمومي ډول او دلته د غړو هیوادونو ناست استازي یې باید له پامه ونه غورځوي.

د افغانستان اسلامي امارت له راتګ سره مونږ ته په امنیتي برخه کې ډېر ستري لویې ننګونې په میراث پاتې شوې. داعش، د نشه اي توکو مافیا، د وسلو قاچاق او نور ټول هغه موارد چې زمونږ هیواد یې له سیمې او نړۍ بېګانه کړی وو؛ نن په ډېر ښه ډول مدیریت شوي دي. افغانستان اوس د امنیتي ننګونې پر ځای د سیمه ییز ثبات شریک او د اقتصادي پرمختګ په فرصت بدل شوی دی.

درنو حاضرینو!

له دې فرصت څخه په استفادې غواړم د افغانستان د امنیت د موضوع په اړه ستاسي‌ځانګړې توجو ولرم. لومړی باید دا واضحه

وي چې زمونږ او ستاسي سیمه کې د امنیت موضوع د اسلامي امارت له راتګ سره نه ده راپیدا شوې. د دې سیمې امنیتي موضوعات تر څلورو لسیزو زیات تاریخ لري. تېر شل کاله په افغانستان کې بهرنی حضور او له دې غیر مشروع حضور سره د سیمې د ځینو هیوادونو همکاري د امنیتي ستونزو د جوړېدلو اساسي لامل وو. چې له نیکه مرغه په تېرو څلورو کلونو کې د ناامنۍ ټول عوامل په افغانستان کې له منځه تللي، زمونږ نظر دا دی چې دغه مثبت پرمختګ سره همکاري وشي او لانبه مدیریت شي تر څو بیا پخوانۍ تېروتنې تکرار نه شي. زمونږ سیمه باید بیا د تېرو محاسبو او نیمګړو پالیسیو له امله د ناامنۍ قرباني نه شي. تاسي ته مالومه ده چې څه موده وړاندې د څو هیوادونو ګډه اعلامیه خپره شوه چې پکې افغانستان کې د بېلا بېلو ډلو د شتون موضوع مطرح شوې وه. غواړم په ډېر واضح ډول ووایم چې افغانستان کې هېڅ داسې ډله شتون نه لري چې د افغانستان له خاورې په استفادې نورو هیوادونو ته ستونزې جوړې کړي. هیله ده چې له ناامنۍ د ځوریدونکو هیوادونو مسؤلین خپل مسؤلیت په خپله اوږه واخلي. زه په ډېر تأسف سره وایم چې ځینې لوري فعاله هڅه کوي چې په تېرو څلورو کلونو کې د

راغلې آرامۍ او امنیت د ستایلو پر ځای افغانستان سیمې ته د خطر په حیث معرفي کړي. زه دغه هڅې په کلکو ټکو غندم او له ټولو هیوادونو غواړم چې د افغانستان په قضیه کې د عیني واقعیتونو اوخپلو معلوماتو په رڼاکي مستقل دریځ خپل کړي تر څو وتوانېږو د سیمې مشکلاتو ته عملي او مؤثره تګلاره خپله کړو.

زمونږ اطلاعات دا دي چې په دې وروستیو کې داعش او ځینو نورو ډلو د سیمې په نورو هیوادونو کې د تجهیز او روزنې مراکز جوړ کړي دي چې د افغانستان حکومت ته د نګرانۍ او تشویش وړ دي.

همدارنگه په افغانستان کي د مخدره موادو د کښت له بندیدو سره له افغانستان څخه دباندي په بیساري ډول د مخدره موادو کښت، تولید او قاچاق زیات شوی، د سیمې هیوادونه باید په مستقل ډول د یادو موضوعاتو څېړنې او بررسۍ پیل کړي.

محترمو حاضرینو!

په اقتصادي برخه کې غواړم ووایم چې د افغانستان اسلامي امارت په لومړي ځل د ملي پراختیا پنځه کلنه ستراتیژي اعلان کړې چې پلي کېدل به یې د هیواد د تولیدي سکتور، پانګونې، صادراتو او زیربنا د پراختیا له لارې د اقتصاد بنسټونه نور هم پیاوړي کړي.

تېر څلور کاله زمونږ د اقتصادي ټیکاو په لور مثبت سفر د پام وړ لاسته راوړنې درلودلې دي. زه دلته غواړم ځینو مهمو ته یې ستاسي پام راواړوم؛

١ کورنی ناخالص تولید

د اسلامي امارت په پیل کې زمونږ د هېواد ناخالص تولید شاوخوا ١۴,۴ میلیارده ډالره و؛ اوس دغه کچه ١٧,۴ میلیارده ډالرو ته رسېدلې ده – چې د کلني نږدې ٪٣ فیصده اقتصادي ودې نښه ده او د تولیدي سکتور، کورني بازار او د عوایدو د سیستم د ښه مدیریت اړوند پیاوړتیا څرګندوي.

٢ د صادراتو پراختیا

د افغانستان صادرات په تیرو ۴ کلونو کې سالانه له ٧٠٠ میلیونو ډالرو څخه تر ٢ میلیارده ډالرو پورې رسېدلي دي، او اوس افغان محصولات د نړۍ ٧٠ هېوادونو ته صادرېږي – دا د نړیوالو بازارونو ته د لاسرسي او د خارجي عوایدو د زیاتوالي څرګند ثبوت دی.

٣ د وارداتو زیاتوالی او د اخستلو ځواک

د ٢٠٢٠ کال په پرتله واردات مو هرکال له ٦,۵ میلیارده ډالرو څخه تر ١٢ میلیارده ډالرو لوړ شوي – دا د کورني مصرف او د

خلکو د اخيستلو د ځواک د پياوړتيا نښه ده چې د اقتصاد د فعاليت او د ژوند د معيار د ښه کېدو شاخصونه دي.

۴ د بوديجې مالي خپلواکي:

اسلامي امارت اوس ټول دولتي مصارف د داخلي بوديجې له منابعو تمويلوي. په تېره دوره کې هر کال له ۴ تر ٦ ميليارده ډالرو پورې بهرنۍ مرستې د افغانستان د دولت په مصارفو کې شاملې وې؛ اوس مو د مالي استقلال پر لور مهم ګامونه اخيستي دي او کلنۍ عادي او انکشافي بوديجه په مکمل ډول له داخلي عوايدو څخه جوړوو.

۵ بهرنۍ پانګوونه او تعهدات

په تېرو څلورو کلونو کې مو د ۲۱ ميليارده ډالرو پانګونې ژمنې ترلاسه کړې چې له دې څخه تر اوسه ۷ ميليارده ډالر عملي پانګونې ته راړول شوې؛ دا پانګونې په زيربنا، انرژي، کانونو او توليدي پروژو کې د دوامداره ودې سبب ګرځي.

٦ د صنعتي توليد پراختيا

په ۲۰۲۰ کال کې شاوخوا ۳۵۰۰ صنعتي فابريکې په افغانستان کې فعالې وې؛ اوس د فابريکو شمېر له ٦۰۰۰ څخه زيات دی

– دا د تولیدي سکتور د پراختیا، د کورني تولید د زیاتوالي او د کاري فرصتونو د رامنځته کېدو اساسي شاخص دی.

پورته موارد د افغانستان د اقتصادي ثبات او پرمختګ په اړه زمونږ د تېرو څلورو کلونو د هڅو نتیجه ده. دا د پام وړ پرمختګونه دا په ښه کوي چې افغانستان د بل هر وخت زیات د سرمایه ګذارۍ او پرمختګ لپاره په مناسب وضعیت کې قرار لري خو متأسفانه چې د ځینو هیوادونو او نړیوالو سازمانونو لخوا اقتصادي بندیزونه د افغانستان د اقتصاد د لا ډېر غوړاوي مخه نیولې ده. زمونږ شا او خوا ۹ میلیادره ډالره شتمنۍ اوس هم کنګل ده او د بندیزونو له امله مو د اقتصادي ودې او آزاد رقابت وړتیا اغېزمنه شوې ده. له تاسي مې هیله ده ده چې په نړیواله ټولنه کې د افغانستان د شتمنۍ د آزادولو او د بندیزونو د لرې کولو په برخه کې خپل مسؤلیت اداء کړئ.

ښاغلو او اغلو!

څلور کاله وړاندې مونږ له نړۍ سره د تعامل په برخه کې له صفر پیل وکړ. د نړۍ ټولو هیوادونو ته مو پیام وړاندې کړ چې مونږ د اقتصاد محوره او متوازن سیاست په رڼا کې غواړو افغانستان د نړیوالې ټولنې برخه وګرځوو. د سیمې هیوادونو

زمونږ پیام په مثبت نظر واخست چې له امله نن د سیمې له ټولـو هیوادونـو سره نـږدې او دوسـتانه اړیکـې لـرو، همدارنګـه نـور هیوادونه هم دې درک ته رانږدې شوي دي چې د سیاسي تعامـل لار له افغانستان سره د اړیکو یواځینی انتخاب دی.

غواړم یو ځل بیا ووایـم چـې د افغانسـتان اسـلامي امـارت نـه یوازې د سیمې له هېوادونو سره، بلکې د نړۍ له ټولـو هېوادونـو سره د متقابل درناوي او خپلو ارزښتونو په پام کې نیولو سره ښې اړیکې غواړي. مونږ غواړو له ټولو هیوادونو سره پـه مشـترکاتو کار وکړو او د اختلافي مسائلو اړوند ډیالوګ او بحث رامنځ تـه کړو. زمونږ په باور خبرې اتـرې، ناسـتې او مثبـت تعامـل د حـل اساسي او د اعتماد سازۍ یواځینې لاره ده.

قدرمنو حاضرینو!

له دې فرصت څخه په استفادې غواړم څو ځانګړې وړاندیزونه ولرم:

۱ زه له تاسي ټولو هیلـه لـرم چـې د افغانسـتان موضـوع تـه د ځمکنیو واقعیتو پـه نظـر کـي نیولـو سره لـه مسـتقلې او نسـبي زاویې وګورئ. د افغان حکومت هغه هڅې چې د سیمې د امنیت، اقتصاد او سیاسي ثبات په برخه کې یې کړې دي باید له پامه ونه غورځول شي.

۲ دا چې د روسیې فدراسیون لـه اړخـه د اسـلامي امـارت پـه رسمیت پېژندل یـو مثبـت اقـدام وو، هیلـه لـرو لـه دې او ورتـه فارمټونو څخه په استفادې نور هیوادونو هم لـه افغانسـتان سره د عملي همکاریو په لور مثبت ګامونه واخلي.

۳ د اسلامي امارت ټینګـه اراده ده چـې افغانسـتان د سـیمې د اتصال او اقتصادي پرمختګ د نښلون نکته جوړه کړي. اوس ښه موقع ده چې د ستونزو د شاربلو پر ځـای اقتصـادي ښـکېلتیا تـه لومړیتوب ورکړو.

۴ د نشه اي توکو په ضد د مبارزې په برخـه کـې پکـار ده چـې ګډه منطقوي همکاري رامنځ ته کړو تر څو وتوانېږو دغه بدمرغه پدیده په ګډه د سیمې له ټولو هیوادونو پاکـه کـړو. د افغانسـتان اسلامي امارت په دې برخه کې هرې ممکنې همکارۍ ته تیار دی.

په آخر کې مهمه بولم چې د فلسطین د مظلوم ولس درد یاد کړم. په ډېر تأسف سره حاکم نړیوال نظم د غزې د بې ګنـاه ماشـومانو، ښځو او سپین ګیرو په حق کې د روان ظلم په مخنیوي کې ناکام شوی دی.

دې حالت د ملګرو ملتونو په څېر د ټولو نړیوالو ادارو او د بشر د حقوقو فلسفه له لوی سوال سره مخ کړې ده.

هیله ده چې د خبرو اترو په برخه کې روان پرمختګ په یوې داسې ملموسې نتیجې پای ته ورسیږي چې د فلسطین ولس پکې د خپل برخلیک ټاکلو د آزاد حق تر څنګ آرام ژوند ولري. زه بیا هم د سیمې او نړۍ هغه لوبغاړي چې کولای شي په غزه کې د روان ظلم او نسل وژنې مخه ونیسي، داسې عملي اقداماتو غوښتنه کوم چې په دې مهمې موضوع کې خپل مسؤلیت اداء کړي.



# خارجه وزير مولوي اميرخان متقي ته د هندوستان هېواد لخوا رسمي بلنه

هغه افغان ګل يې چې ګلچين به مسلمان کړې
هند به مسلمان کاندې او چين به مسلمان کړې
ستا خوږې خبرې کرامات لري شکرې دي
جار دي شمه ښکلي نازنين به مسلمان کړې
زرکې او کوترې خو دي هسې هم ملګرې دي
باز به دي غلام شي او شاهين به مسلمان کړې

# امنیت شورا هند ته د امیر خان متقي د سفر د بندیز معافیت صادر کړ




د ملګرو ملتونو امنیت شورا د اسلامي امارت د بهرنیو چارو وزیر امیر خان متقي لپاره هند ته د سفر د بندیز معافیت صادر کړی دی.

امینت شورا ویلي، دغه معافیت یې د تېرې سپتمبر میاشتې په ۳۰مه صادر کړی او متقي کولای شي د روانې اکتوبر له ۹مې د دغې میاشتې تر ۱۶مې هند ته سفر وکړي .

د امنیت شورا په اعلامیه کې راغلي: «د ملګرو ملتونو امنیت شورا د سپتمبر په ۳۰مه د ۱۹۸۸ (۲۰۱۱) د پرېکړه لیک پر بنسټ د ۲۰۲۵ کال د اکتوبر له ۹مې د دغې میاشتې تر ۱۶مې، د هند نوې ډیلي ته د امیر خان متقي د سفر د بندیز معافیت تایید کړ«.

که څه هم هند ته د متقي د سفر د موخو په اړه څه نه دي ويل شوي خو د سياسي چارو شنونکي بهر ته د اسلامي امارت د چارواکو سفرونه د سيمې له هېوادونو سره د افغانستان د اړيکو د پراختيا په برخه کې ګټور بولي .

د سياسي چارو شنونکي، جنت فهيم چکري و ويل: «تر هغه چې د ملګرو ملتونو د امنيت شورا اجازه ورنه کړي، دوی هيڅ هېواد ته سفر نه شي کولای. دغه بنديزونه به هغه وخت پايته ورسيږي چې افغانستان په رسميت وپېژندل شي او د اسلامي امارت مشرتابه له تور نوملړه و وايستل شي«. تر دې وړاندې د اسلامي امارت دفاع وزير محمد يعقوب مجاهد هم له قطري چارواکو سره د خبرو لپاره دوحې ته تللی و.



# هند وايي چې ژر به
# اميرخان متقي نوي ډېلي ته سفر وکړي!


افغان الآن
AFGHAN NOW

افغانستان | سیمه | نړۍ | اقتصاد او سوداګري | ساینس او ټکنالوژي | روغتیا | سپورټ | هنر او ادب | لټون

کورپانه / افغانستان / هند وايي چې ژر به اميرخان متقي نوي ډيلي ته سفر وکړي

افغانستان سیمه

هند وايي چې ژر به اميرخان متقي نوي ډيلي ته سفر وکړي

افغان سالار • اکتوبر 4, 2025



هند د جمعې په ورځ تاييد کـړه چـې د ملگـرو ملتونـو د امنيـت شـورا کمېټـې د طالبـانو د بهرنيـو چـارو وزيـر او د طالبـانو جگ‌پوړی غړی مولوي اميرخان متقي ته د معافيت اجازه ورکړې څو د اکتوبر له ۹مې تر ۱۶مې پورې نوي ډېلي ته سفر وکړي.

د هند د بهرنیو چارو وزارت ویاند رندیر جایسوال وویل چې دا معافیت شته، خو د سفر جزئیات یې شریک نه کړل او زیاته یې کړه چې رسنۍ به وروسته تازه معلومات ترلاسه کړي.

متقي چې پر سفر یې له ۲۰۰۱ کال راهیسې د ملګرو ملتونو له لوري بندیز دی، تمه کېږي چې د اکتوبر په ۹مه یا ۱۰مه نوي ډېلي ته ورسېږي.دغه سفر د یوې مهمې ډیپلوماټیکې پېښې په توګه کتل کېږي، ځکه چې هند تر اوسه د طالبانو رژیم په رسمیت نه دی پېژندلی، خو د جمعې په ورځ یې هغه د «افغان بهرنیو چارو وزیر» په نوم یاد کړ.



# مولوي اميرخان متقي او جې شنکر د هند او افغانستان ترمنځ د ډيپلوماتيکو اړيکو د کچې په لوړولو خبرې کړي




بهرنيو چارو وزارت وايي، چې د ياد وزارت وزير مولوي امير خان متقي او د هند د بهرنيو چارو وزير جې شنکر په ټيليفوني خبرو کې د هند او افغانستان ترمنځ د دوو اړخيزو اړيکو پر پياوړتيا، تجارت او د ډيپلوماتيکو اړيکو د کچې پر لوړولو خبرې کړي.

د سرچينې په خبره ښاغلي متقي هند د سيمې مهم هېواد ګڼلی، له افغانستان سره يې اړيکې تاريخي بللي او د متوازن سياست په خپلولو يې له ټولو لوريو سره پر مثبتو اړيکو ټينګار کړی.

د معلوماتو له مخې مولوي امير خان متقي همداراز افغان سوداګرو او ناروغانو ته د هند د ويزو په ورکړه کې د اسانتياوو

او په هند کې د افغان بندیانو د خلاصېدو او هېواد ته د راستنولو غوښتنه کړې.

له بل لوري د هند د بهرنیو چارو وزیر جې شنکر ویلي، چې هېواد به یې له افغانستان سره خپلو همکاریو ته دوام ورکوي او په سیاسي او اقتصادي برخو کې یې پر ګډ کار ټینګار کړی.

جې شنکر همدا ډول د بندیانو قضیو ته د ژر رسېدنې او د ویزو په برخه کې د اسانتیاوو راوستلو ژمنه کړې او پر دې سربېره دواړو لوریو د چابهار بندر په پراختیا هم ټینګار کړی.

## هند ته د متقي سفر؛ نوی ډیلي د څه په لټه کې دی؟




د طالبانو د بهرنیو چارو له وزیر امیرخان متقي څخه د هندوستان هرکلی ښیي چې هندوستان له طالبانو سره خپل سیاست کې بدلون راوستلی هغه هم په داسې یو وخت کې چې د کابل او اسلام آباد ترمنځ اړیکې ترینګلې شوې دي.

که څه هم هندوستان په افغانستان کې د طالبانو حکومت په رسميت نه دی پېژندلی خو د سه شنبې په ورځ يې د طالبانو د بهرنيو چارو وزير هرکلي ته چمتووالی نيولی. هند ته د متقي سفر به يوه اوونۍ وي چې د پنجشنبې په ورځ پيل شو.

په پام کې ده چې متقي به خپل هندي سيال اس جی شنکر سره ووينې چې ورسره به له تروريزم سره د مبارزې او سوداګرۍ او همدارنګه په افغانستان کې د هندوستان د بشري او پراختيايي مرستو اړوند موضوعاتو خبرې وکړي.

هندوستان ته د متقي سفر د ملګرو ملتونو سازمان د هغه اقدام په نتيجه کې ممکن شوی چې دغه سازمان پر هغه د لګيدلي سفر بنديز موقتي ضمانت وکړ. د متقي دغه سفر به نوي ډيلي ته د دې فرصت ورکړي چې د طالبانو حکومت له رسميت پېژندلو پرته په خپل سياسي دريځ کې بدلون راولي.

تمه ده چې متقي به په دغه سفر کې له هندوستانه وغواړي چې پرېږدي په نوي ډيلي کې د افغانستان سفارت له پاره د خپل يو رسمي استازی وګماري او همدارنګه په ممبي او حيدر آباد ښارونو کې د افغانستان قونسلګريو کارمندان زيات کړي.

د هند محتاطه ډيپلوماتيکه لوبه

د څه باندې څلورو کلونو په جریان کې چې طالبان پر افغانستان حاکم دي، نوي ډیلي له کابل سره خپلې ډیپلوماتیکې اړیکې کمې کړې خو په افغانستان کې یې د خپلو بشري فعالیتونو د ساتنې له پاره یوه کلکه ستراتیژیکه تګلاره تنظیم کړې ده.

هندوستان پر افغانستان د طالبانو تر بیا واکمنېدو شاوخوا ۱۰ میاشتې وروسته، د ۲۰۲۲م کال په جون کې خپل یو «تخنیکي ټیم» کابل ته واستاوه تر څو افغانستان ته د خپلو استولو بشري مرستو مدیریت کړي او تر څنګ وګوري چې نوی ډیلی څنګه کولی شي له افغانانو ملاتړ وکړي. طالبان له هماغه وخت راهیسې له هندوستان په نوي ډیلي کې د خپل استازي د منلو غوښتنه کوي.

په دې لړ کې د هندوستان د بهرنیو چارو وزارت چارواکي جې پي سینګ د تېرکال په نومبر کې له طالب استازیو سره څو کتنې درلودې چې په هغو کې یوه مهمه کتنه د طالبانو د دفاع سرپرست وزیر ملا محمد یعقوب سره وه. خو کابل سره د نوي ډیلي د تعامل تر ټولو ستر زیګنال هغه و چې کله د هندوستان د بهرنیو چارو وزارت ارشد ډیپلومات ویکرم میسري د روان کال په سر کې کابل ته سفر وکړ او هلته یې د طالبانو د بهرنیو چارو له وزیر سره

ولیدل چې اوس د هند خارجه وزیر جی شنګر ورته د نـوي ډیـلي بلنه ورکړې ده .

د هندوستان او طالبانو ترمنځ اړیکې په داسې وخت کې ګرمـې شوي چې پاکستان سره د طالبانو اړیکې بـرخلاف د خرابېـدو پـه حال کې دي. اسلام آباد د طالبانو له رژیم څخه د نورو مسائیل تر څنګ په دې ناراضه دی چې په وینا یې تروریستان د افغانســتان له پولې پاکستان ته اوړي او دلته حملې کوي. پاکســتان حتــی د خپلې همدغې ادعا پر اساس د افغانستان په خـاوره کــې بمبـارۍ هم کړي دي.

د ترمپ د بګرام هوایي اډې غوښتنه او اختلافات

په افغانستان کې د هندوستان پخوانی سفیر، ګوتم مکوپادهیـا، وایي طالبان هڅه کوي چې د هند په څېر یو لوی سیمه ایز قدرت سره په تعامل کولو خپلې دیپلومـاتیکې اړیکـې لـه پاکسـتان او چین څخه پراخې کړي.

مکوپادهیا وایي: «دغه اقدام تر یوه حده د اسلام آباد د هغې ادعا ننګونه ده چې د افغانستان پـه چـارو کـې خپـل حضـور ضروري ګڼي، ځکه چې د ولسي اړیکـو پـه ځـانګړې توګـه د پښــتنو پـه مرسته، ځان د پاکستان په پرتله دوه برابر ډېـر خپلـواک ښـیي او

خپلې امنيتي ستونزې ورسره د يو با اعتماده شريک په توګه شريکوي«.

هغه زياتوي: «دا د يو اړونده نړېوال کريکټر په توګه د ځان د معرفي کولو له پاره يو ګام هم دی، په ځانګړې توګه چې [افغانستان ته] د امريکا متحده ايالاتو، چين او روسيې له خوا د پام اوښتو پر وخت کې«.

د هندوستان له لورې دا خبره د يادونې وړه ده چې د دغه هېواد له پاره ارزښتناکه ده تر څو پاکستان، چين او روسيه له طالبانو ملاتړ وکړي او د ترمپ د بګرام هوايي اډې له غوښتنې سره مخالفت وشي. نوي ډيلي روانه اوونۍ په يوه ګډه اعلاميه کې وويل چې بهرني پوځي استقرار د سيمې د امنيت له پاره د «نه منلو» دی.

د هند له پاره په افغانستان کې د نفوذ د ډېرولو فرصت

د افغانستان د چارو کارپوه شانتی ماريت دسوزا، په وينا د متقي سفر هم «د هند او افغانستان د ګډو يووالي ته اشاره کوي.«

ديسوزا، چې د خپلواکي څېړني فورم مانترايا مشر۔ دی، دويچه ويله ته وويل: «د طالبانو رژيم اړ دی چې د خپل تعامل او مشروعيت افق پراخ کړي، په داسي حال کي چي د نوي ډيلي

اجندا دا ده چي د افغانستان له اوسنیو واکمنانو سره په تدریجي ډول خپلې اړیکې زیاتي کړي، ترڅو خپل ستراتیژیک ځای بیرته ترلاسه کړي«.

هند اوس دا فرصت لري چي په کابل کي د پراختیایي هڅو په زیاتولو، ظرفیت جوړولو، تخنیکي مرستو او د طبي او تعلیمي موخو له پاره د ویزو ورکولو له لاري خپل حضور بیا پیاوړی کړي.

هغې زیاته کړه، »خو، دا به ګستاخي وي چي که ووایو چي طالبان له هند سره د انحصاري اړیکو په لټه کي دي، ځکه چي هغوی قصد لري چي یوه متوازنه بهرنۍ پالیسي وساتي، دا هغه څه دي چي متقي یې په مکرر ډول یادونه کړې ده«.

طالبان له پاکستانه د واټن نیولو هڅه کوي

د دوه اړخیزو ابعادو هاخوا، دا سفر له مهمو قدرتونو سره د هند پر اړیکو اغېز لري، په ځانګړې توګه د امریکا متحده ایالاتو، روسیې، ایران او چین چي ټول یې له طالبانو سره په مختلفو کچو خبري اتري کوي. د نوي ډیلي د څېړنیز مرکز، آبزرور ریسرچ فاونډېشن (ORF) د ستراتیژیکو مطالعاتو د پروګرام مشر هارش پنت وویل، طالبانو دا ښوولې ده چي نه غواړي هند عصباني کړي.

پنت دویچه ویله ته وویل: «په ځینو برخو کې، هغه محتاطانه عادي کول چې موږ یې شاهدان یو، لکه تدریجي لیدني او تعاملات د هغه هوسایني احساس منعکس کوي چې اوس په هند کې د افغانستان په اړه موجود دی. هغه څه چې د دوی په بیا راتګ سره نه لیدل کیده«.

پنت له هند سره د طالبانو د اړیکو لیوالتیا ته په اشارې سره وویل: «تر اوسه پوري طالبانو دا په ډاګه کړې ده چې دوی به یو خپلواک لوبغاړی وي؛ هغوی نه غواړي چې افغانستان د پاکستان یوه برخه وګرځي. په حقیقت کې دوی د پاکستان او د هغه د پوځ د دې مفکورې پر وړاندې چې افغانستان د هند پر وړاندې د ستراتیژیک عمق په توګه وکاروي، مخالفت کړی دی«.

چین د کابل او اسلام آباد ترمنځ د اړیکو د ښه کولو هڅه کوي

پنت په دې باور دی چې هند به د افغانستان او طالبانو سره نه یوازې د بشري دلایلو له پاره، بلکې د ستراتیژیکې ګټو له پاره هم خپلو اړیکو ته دوام ورکړي.


پنت په ۱۹۸۰ لسیزه کې د شوروي اتحاد له خوا د افغانستان د اشغال پر مهال د پاکستان له خوا د مجاهدینو ډلو ملاتړ ته په اشارې سره وویل: »دا د دې له پاره ده چې ډاډ ترلاسه سي چې د

افغانستان او پاکستان اړیکي بیرته هغه حالت ته و نه ګرځي لکه پــه ۱۹۸۰ لســیزه کــي چــي وې». پاکســتان څنګــه د نــوي جیوپولیتیک اړیکو په لټه کي دی؟

پاکستان دغه راز په ۱۹۹۰ لسیزه کي د طالبانو رژیم په راتګ سره هغه په رسمیت وپیژاند او مرسته یې ورسره وکړه.

هغه زیاته کړه: »همدارنګه د چین رول، لکه څنګه چي چین هڅه کړې ده چي افغانستان او پاکستان سره نږدې کړي، خنثی سي».

پنت، چي د لندن په کینګز کالج کي تدریس کـوي، وویـل چـي طالبان او هند دواړه هوډمن دي چـي »د اړیکـو یـو ډېـر پیـاوړی میکانیزم رامنځته کړي.»«دوی له څو هیوادونو سره اړیکي نیولي دي، او د هند رول ته په پـام سره پـه ځـانګړې توګـه اوس چـي د طالبانو اړیکي له پاکستان سره خرابي دي، هند مهم شریک دی.»



# د طالبانو بهرنیو چارو وزیر امیر خان متقي هند ته د سفر شننه: اهمیت او اجنډا

د طالبانو د سرپرست حکومت د بهرنیو چارو وزیر، امیر خان متقي، د ۲۰۲۵ کال د اکتوبر په ۹ مه د یوې اونۍ لپاره هند ته ورسېده. دا د ۲۰۲۱ کال د اګست په میاشت کې په کابل د طالبانو له واکمنیدو وروسته هند ته د طالبانو د کابینې د یوه وزیر په کچه لومړنی رسمي سفر دی. د ملګرو ملتونو امنیت شورا د طالبانو پر بندیزونو کمیټې لخوا د سفر د بندیز لنډمهالي لرې کولو یوه ځانګړې معافیت له دې سفر سره مرسته وکړه، چې د هند او طالبانو ترمنځ د اړیکو په بیا رغولو کې یو مهم پړاو په نښه کوي.

د سفر شالید او اهمیت:

د هندوستان ټایمز د راپور له مخې، د ملګرو ملتونو د بندیزونو معافیت: د متقي پر سفر د بندیز لرې کول، چې د ملګرو ملتونو امنیت شورا د طالبانو پر بندیزونو کمیټې لخوا د سپتمبر په ۳۰ مه تصویب شو، د دې سفر اساسي زمینه برابره کړه. متقي په ۲۰۰۱ کال کې د سفر بندیز، د شتمنیو کنګل کول او د وسلو

بندیز په شمول د ملګرو ملتونو د بندیزونو لاندې و. د پاکستان په مشرۍ د دې کمیټې لخوا د دې بندیزونو لنډمهالې لرې کول، د طالبانو سره د سیمه ایزو او نړیوالو تعاملاتو لپاره د یوې نوې کړکۍ پرانیستل په ګوته کوي.

د پالیسۍ بیا کتنه: که څه هم هند تر اوسه د طالبانو حکومت په رسمي توګه په رسمیت نه دی پیژندلی، خو دا لوړ پوړی تعامل د افغانستان په اړه د هند په پالیسۍ کې عملي بیا تنظیم منعکس کوي. دا په ډاګه کوي چې هند چمتو دی چې د افغانستان اوسني وضعیت ته په پام سره له طالبانو سره په عملي توګه ښکیل شي.

سیمه ایز او نړیوال پیغام: دا سفر د طالبانو د حکومت لپاره یو مهم ډیپلوماتیک پرمختګ دی، چې هڅه کوي نړیوال مشروعیت ترلاسه کړي. دا سیمې او نړۍ ته دا پیغام هم لیږي چې هند، د یو لوی سیمه ایز ځواک په توګه، د افغانستان سره د تعامل لپاره د لارو په لټه کې دی، حتی د طالبانو تر واک لاندې.

د متقي د سفر اجنډا

د دوه اړخیزو اړیکو او سیمه ایزو مسلو په اړه خبرې اترې: د هند د بهرنیو چارو وزارت ویاند، رنډیر جیسوال، د متقي په راتګ د تود هرکلي ترڅنګ وویل چې دوی هیله لري چې له هغه

سره د دوه اړخيزو اړيکو او سيمه ايزو مسلو په اړه خبرې اترې وکړې. دا په ډاګه کوي چې اجنډا به د پراخو موضوعاتو په اړه وي، چې له سياسي مسلو څخه تر اقتصادي همکاريو پورې شامل وي.

د بهرنيو چارو وزير اېس جی شنکر او د ملي امنيت سلاکار اجيت دووال سره کتنې: تمه کيږي چې متقي به د خپل شپږ ورځني سفر په اوږدو کې د بهرنيو چارو وزير اېس جی شنکر او د ملي امنيت سلاکار اجيت دووال سره پراخې خبرې اترې وکړي. دا کتنې د هند د امنيتي او بهرنيو پاليسيو په جوړولو کې د افغانستان د اهميت منعکس کوي.

د دارالعلوم ديوبند مدرسې او تاج محل ليدنه: د سياسي او ديپلوماتيکو ليدنو ترڅنګ، متقي به د دارالعلوم ديوبند مدرسې او تاج محل هم وګوري. دا ليدنې کيداى شي د کلتوري او مذهبي اړيکو يو اړخ ولري او يا هم د طالبانو لپاره د يوه نرم انځور وړاندې کولو هڅه وي. سوداګريزو ډلو او په هند کې د افغان ټولنې له غړو سره کتنې: متقي به د خپلې اوسيدنې پر مهال له سوداګريزو ډلو او په هند کې د افغان ټولنې له غړو سره هم وګوري. دا په ډاګه کوي چې طالبان د افغانستان د اقتصادي پراختيا او په بهر کې ميشتو افغانانو سره د اړيکو د پياوړتيا ليوالتيا لري.

پخوانۍ اړیکې: دا لومړی ځل نه دی چې متقي له هندي چارواکو سره تعامل کوي. د روان کال په مې میاشت کې، د بهرنیو چارو وزیر جی شنکر ویلي وو چې هغه له متقي سره "ښه خبرې" کړې وې، او د کشمیر په پاهلګام کې د اپریل ۲۲ مې د ترهګریز برید د غندلو په خاطر یې د متقي ستاینه کړې وه. دا پخوانۍ اړیکې د هند او طالبانو ترمنځ د مخ پر ودې غیر رسمي چینلونو شتون په ګوته کوي.

د امیر خان متقي هند ته سفر د سیمه ایزې او نړیوالې ډیپلوماسۍ په برخه کې یو مهم پرمختګ دی. دا نه یوازې د طالبانو لپاره د نړیوال مشروعیت په لټه کې یو فرصت دی، بلکې د هند لپاره هم فرصت دی چې په افغانستان کې خپلې ستراتیژیکې ګټې خوندي کړي او د دې هیواد په راتلونکي کې رغنده رول ولوبوي. که څه هم هند تر اوسه د طالبانو حکومت په رسمیت نه دی پیژندلی، خو دا لوړ پوړی تعامل د سیمې په سیاسي منظره کې د عملي ډیپلوماسۍ او نوو پرانیستل شویو امکاناتو نښه ده. د دې سفر پایلې به بې له شکه د افغانستان او سیمې د راتلونکي اړیکو لپاره لار پرانیزي.

# هندوستان افغانستان
# او د مولوي اميرخان متقي سفرونه

# مولوي امیر خان: هند ته مې سفر د کابل او نوي ډېلي ترمنځ په اړیکو کې تاریخي بدلون دی

ژوندۍ

کورپاڼه دولت او سیاست نړۍ سوداګرۍ

## مولوي امیر خان: هند ته مې سفر د کابل او نوي ډېلي ترمنځ په اړیکو کې تاریخي بدلون دی

اکتوبر 11, 2025 54



د بهرنیو چارو وزیر مولوي امیر خان متقي له خپل هندي سیال ډاکټر ایس جی شنکر سره په نوي ډیلي کې ناسته ترسره کړه.

په دې ناسته کې د دواړو هېوادونو تر منځ د سیاسي اړیکو د پیاوړتیا، اقتصادي همکاریو د پراختیا، د ولسونو تر منځ په تګ او راتګ او پر سیمه‌ییزو موضوعاتو هر اړخیزې خبرې وشوې.

مولوي اميرخان متقي هند ته خپل سفر د دواړو هېوادونو د اړيکو برخه کې يو مهم او تاريخي بدلون وباله.

نوموړي هند د سيمې يو مهم هېواد وباله او ويې ويل، د افغانستان او هند تر منځ نه يوازې دا چې ډيپلوماتيکې اړيکې شته، بلکې دواړه هېوادونه يو له بل سره تاريخي، تمدني او ولسي پيوستون لري چې له پېړيو راهيسې دوام لري.

همداراز د بهرنيو چارو وزير د نشه‌يي توکو پر ضد مبارزې، سيمه‌ييزو اقتصادي پروژو او ټرانسپورتي دهليزونو په برخو کې د متقابلې همکارۍ پر اهميت ټينګار وکړ.

ښاغلي متقي وويل، افغانستان کې د پانګونې لپاره ګڼ فرصتونه رامنځته شوي دي، هندي پانګوال کولای شي چې په کرنه، روغتيا، کانونو، برېښنا، ترانسپورټ او نورو برخو کې پانګونه وکړي.

دغه‌راز نوموړي هيله څرګنده کړه، چې په هند کې د افغان بنديانو ستونزو ته رسېدنه وشي، تر څو خپل هېواد ته ستانه شي او همدا ډول د واګه بندر د خلاصېدو او د ويزو په برخه کې اسانتياوې را منځته شي.

د هند د بهرنیو چارو وزیر جی شنکر د امنیت د ټینګښت، د نشه‌یي توکو د قاچاقو د مخنیوي او نورو برخو کې د اسلامي امارت هڅې وستایلې او ټینګار یې وکړ، چې د دوه اړخیزو اړیکو د پیاوړتیا لپاره به تعامل ته دوام ورکوي.

نوموړي همدا راز په کابل کې د هند د سفارت د کچې له تخنیکي ماموریت څخه دیپلوماتیکې کچې ته د لوړولو اعلان وکړ او هم یې په دهلي کې د اسلامي امارت د دیپلوماتانو د منلو هوکړه وکړه.

همدا ډول د هند بهرنیو چارو وزیر په ننګرهار او کونړ ولایتونو کې د وروستیو زلزلو په اړه یو ځل بیا خواخوږي څرګنده کړه او له افغان ولس سره د هند د بشري مرستو په دوام یې ټینګار وکړ.

نوموړي د افغان بندیانو د ستونزو د حل او د ویزو د مشکلاتو د حل په اړه خپله ژمنتیا وښوده.


ورته مهال دواړو لوریو د هوایي دهلیز د پیل هرکلی وکړ او څرګنده یې کړه چې دې ته به نوره پراختیا هم ورکړي.

همدارنګه دواړو لوریو د سوداګرۍ په برخه کې د ګډې کمیټې په جوړولو هوکړه وکړه، چې هند به د پراختیایي پروژو په ځانګړي

توګه د روغتیا، برېښنا، زیربناوو او مرستو زیاتولو په برخه کې خپله ښکېلتیا نوره هم ژوره کړي.

د ناستې په پای کې دواړو لوریو په سیمه کې د سولې او ثبات او د متقابل باور د ودې پر اهمیت ټینګار وکړ.

## هند ته د متقي سفر
## او د دوه اړخیزو اړیکو د کچې لوړولو هڅې




هند ته د متقي سفر او د دوه اړخیزو اړیکو د کچې لوړولو هڅې

هند ته د بهرنیو چارو د وزیر امیرخان متقي وروستی سفر په ۲۰۲۱ زېږیز کال کې د اسلامي امارت له بیا واکمنېدو وروروسته، یو له مهمو ډیپلوماټیکو پرمختګونو ګڼل کیږي .

نوموړي دغه سفر کې د هند د بهرنیو له چارو وزیر جې شنکر سره وکتل او د سیاسي، اقتصادي او سیمه‌ییزو همکاریو د پراختیا په تړاو یې ورسره خبرې وکړې.

د هند بهرنیو چارو وزیر دغه کتنه کې و ویل چې هېواد به یې په کابل کې خپله سفارت بېرته پرانیزي.

جي شنکر و ویل: «هند په بشپړه توګه د افغانستان حاکمیت، ځمکنۍ بشپړتیا او خپلواکۍ ته ژمن دی. زموږ تر منځ نږدې همکارۍ به ستاسو له ملي پرمختګ او دغه راز له سیمه‌ییز ټیکاو سره مرسته وکړي. د دې همکارۍ د پیاوړتیا لپاره ویاړم چې نن په کابل کې سفارت ته د هند د تخنیکي ماموریت د کچې د لوړېدو اعلان کوم«.

دغه کتنه کې امیرخان متقي هم د دواړو هېوادونو د تاریخي اړیکو پر اهمیت ټینګار وکړ او زیاته یې کړه چې افغانستان د هند په ګډون د سیمې له ټولو هېوادونو سره ښې او متقابلې اړیکې غواړي.

د افغانستان د اسلامي امارت د بهرنیو چارو وزیر، امیرخان متقي و ویل: «خوښ یم چې نن په ډیلي کې یم او دا سفر به د دواړو هیوادونو ترمنځ متقابل تفاهم زیات او پیاوړی کړي او په دې اړیکو کې به یو نوی فصل پرانیزي. موږ هیله لرو چې افغانستان او هند به په رسمي کچه او په بېلابېلو برخو کې خپل تعاملات او تبادلې زیاتې کړي. موږ هیله لرو چې د مذاکراتو او خبرو له لارې وکړای شو د خپلمنځي تفاهم کچه لوړه کړو«.

متقي دغه راز له هندي رسنیو سره په یوې خبري غونډه کې و ویل چې د هېڅ هېواد پوځي حضور نه مني او ټینګار یې وکړ چې د افغانستان یوه لوېشت خاروه هم، د بل چا په ولکه کې نه ده.

هغه په دې اړه و ویل: «زموږ تاریخ شاهد دی چې افغانانو هېڅ کله هم په خپل هېواد کې د بهرنیو ځواکونو حضور نه دی منلی او په راتلونکي کې به یې هم ونه مني. زموږ دا دریځ روښانه او پریکنده دی چې افغانستان یو ازاد او خپلواک هېواد دی او په راتلونکي کې به هم ازاد او خپلواک پاتې شي. که هېوادونه غواړي له موږ سره اړیکې ټینګې کړي، کولای شي د ډیپلوماټیکو یا اقتصادي ماموریتونو له لارې اقدام وکړي خو پوځي حضور به موږ هیڅ کله ونه منو«.

د سیاسي چارو شنونکي، داوود شیراز و ویل: «دا یو مهم پرمختګ دی چې متقي صاحب هند ته سفر کړی او د هغه هېواد له لوړپوړو چارواکو سره یې کتلي دي. غوره به دا وي چې د هند له لومړي وزیر سره هم وګوري«.

دا په داسې حال کې ده چې د اسلامي امارت له واکمنېدو وروسته، دا لومړی ځل دی چې د بهرنیو چارو د وزیر په مشرۍ د اسلامي امارت یو لوړپوړی پلاوی هند ته تللی دی.

# د متقي او جې شنکر د خبري غونډې جزييات



د هند بهرنيو چارو وزير جې شنکر د افغانستان اسلامي امارت د بهرنيو چارو له وزير اميرخان متقي سره په يوه خبري غونډه کې اعلان وکړ چې کابل کې به د هند ډيپلوماټيکه استازولي د سفارت تر کچې لوړه شي.

جې شنکر دغه غونډه کې زياته کړې چې هند د افغانستان حاکميت، ځمکنۍ بشپړتيا او خپلواکۍ ته ژمن دی.

هغه و ويل چې افغانستان او هند د ودې او پرمختګ لپاره پر خپلو ژمنو ولاړ دي او کابل او نوې ډيلي بايد د ترهګرۍ پر وړاندې مبارزه کې خپلې هڅې همغږې کړي.

د هند د بهرنیو چارو وزیر دغه راز افغانستان ته د ۲۰ امبولانسونو، د ام ار ای او سي ټي سکن ماشینونو، د واکسیناسیون او د سرطان ضد درملو د برابرولو خبر ورکړ.

جې شنکر په دې اړه و ویل: «د ۲۰ امبولانسونو ډالۍ کول زموږ د ښه نیت بله نښه ده چې پنځه یې زه په سمبولیک ډول تاسو ته شخصاً سپارم».

هغه له ګاونډیو هېوادونو د افغان کډوالو پر جبري ایستلو اندېښنه څرګنده کړه او ټینګار یې وکړ چې هېواد به یې د راستنېدونکو لپاره د کورونو جوړولو په برخه کې همکاري وکړي.

دغه لوړپوړي هندي چارواکي و ویل: «د هغو افغان کډوالو وضعیت چې په زور ایستل شوي، د ژورې اندېښنې وړ دی. د هغوی عزت او معیشت ته درناوی ډېر مهم دی. هند ژمن دی چې د دغو کسانو لپاره د کورونو په جوړولو او د هغوی د ژوند د بیارغونې په برخه کې نوره مرسته هم وکړي».

نوموړي د افغانستان او هند ترمنځ د اوبو مدیریت او اوبولګولو په برخه کې اغېزناکې همکارۍ ته په اشارې و ویل چې نوې

ډيلي چمتو ده څو د افغان لـوري لـه لېوالتيـا سره سـم، د اوبـو د دوامداره مديريت په برخه کې له کابل سره همکاري وکړي.

هغه د کابل او نوې ډيلي ترمنځ د نويو الوتنـو پـر پيـل خوښـي څرګنده کړه او زياته يې کړه چې دواړه هېوادونه د سـوداګرۍ پـه برخه کې ګډې ګټې لري.

د هند بهرنيو چارو وزير زياته کړه چې نوې ډيلي به د افغان زده کوونکو لپاره د خپلو ښـوونيزو او روزنيا لـوړو پروګرامونـه هـم زيات کړي.

هغـه پـه دې اړه وويـل: «زمـوږ ښـوونيز او د روزنيا لوړولـو پروګرامونـه تـل د افغانسـتان د ځـوان نسـل د ودې لپـاره وو. دا پروګرامونه به د افغان زده‌کوونکو لپاره پراخ کړو څو په هند کـې خپلو لوړو زده‌کړو ته دوام ورکړي».

د هنـد د بهرنيـو چـارو وزيـر پـه دغـه ناسـته کـې د افغانـانو د ورزشي روزنياو د ودې يادونه وکړه او اعلان يې وکړ چې هېـواد به يې د افغانستان له کريکټ سره خپلې مرستې پراخې کړي.

جې شنکر د افغانستان د کرېکت په اړه و ويل: «د افغانستان په کرېکټ کې د سترو استعدادونو راڅرګندېدل ربښتيا هم د ستاينې

وړ دي او هند خوښ دی چې له افغان کرېکټ سره خپلې مرستې پراخوي«.

هغه همداراز اعلان وکړ چې د ۲۰۲۵ کال د اپرېل میاشتې راهیسې افغانانو لپاره د هند د ویزو نوی سیستم رامنځته شوی او اوس د درملنې، سوداګرۍ او ښوونیزو برخو کې ویزې صادرېږي.

دغه غونډه کې د افغانستان اسلامي امارت د بهرنیو چارو وزیر امیرخان متقي ویلي، کابل له نوې ډېلي سره د متقابل درناوي، سوداګرۍ، ولسي، سیاسي او اقتصادي اړیکو غوښتونکی دی.

، متقي زیاته کړې چې اسلامي امارت چمتو دی چې د دواړو هېوادونو ترمنځ د هوکړې لپاره یو مشورتي میکانیزم جوړ کړي؛ داسې یو میکانیزم چې د دوه اړخیزو اړیکو د پیاوړتیا پر بنسټ عمل وکړي.

## د کابل-نوې ډېلي د ډیپلوماټیکو اړیکو د کچې لوړول؛ د متقي د سفر اجنډا



هندي رسنیو راپور ورکړی چې نوې ډېلي ته به د امیر خان متقي په

سفر کې د دواړو هېوادونو ترمنځ د ډیپلوماټیکو اړیکو د کچې لوړولو او د کونسلي خدمتونو د پراختیا په اړه هم خبرې وشي.

د راپورونو لمخې، د اسلامي امارت د بهرنیو چارو وزیر به د هند له بهرنیو چارو وزیر او د ملي امنیت له سلاکار سره وګوري.

امنیتي مسایل او د همکاریو پراختیا هم د متقي د سفر په اجنډا کې شته.

هندي رسنیو لیکلي: «یو له مهمو بحثونو به دا وي چې کابل کې د هند سفارت پرانیستل شي. دواړه خواوې ښایي د سفیرانو د ټاکلو او د کونسلي حضور د پراختیا پر سر هوکړه وکړي. ښایي متقي د ملي امنیت سلاکار اجیت دووال سره هم وویني. ترهګرۍ پر وړاندې مبارزې ته به هم مذاکراتو کې لومړیتوب ورکړل شي. افغانستان او هند دواړه نن له پاکستان سره ستونزه لري؛ نو له همدې امله به د یادو خبرو محور د ترهګرۍ پر ضد مبارزه او امنیتي اړیکې وي».

د سیاسي چارو شنونکي، ګل محمد الدین محمدي و ویل: «که هند افغانستان په رسمیت وپېژني، دا ګام کولای شي نور هېوادونه هم وهڅوي خو په دې مانا به نه وي چې هغه هېوادونه

به د هند لار تعقیب کړي، ځکه هر هېواد خپلې ملي ګټې تعقیبوي«.

هندي رسنیو تر دې وړاندې هم راپور ورکړی و، چې د اسلامي امارت رسمیت پېژندنه د دغه سفر له مهمو موضوعاتو ده.

د سیاسي چارو شنونکي جنت فهیم چکری و ویل: «دا یو ښه فرصت دی چې وکولای شو افغانستان لپاره د هند اقتصادي او سیاسي ملاتړ جلب کړو«.

د یادونې ده، چې د اسلامي امارت تر بیا واکمنۍ وروسته؛ دا هند ته د یوه لوړپوړي چارواکي لومړی سفر بلل کیږي.

# هند د افغانستان د اوبو د مدیریت او مهار په برخه کې د بشپړې همکارۍ ډاډ ورکړی



د هند د بهرنیو چارو وزیر «ایس جې شنکر» د افغانستان له بهرنیو چارو وزیر مولوي امیر خان متقي سره د دوه اړخیزې ناستې پر مهال ویلي، چې هند د افغانستان د اوبو د مدیریت او مهار په برخه کې له کابل سره همکاریو ته په بشپړ توګه ژمن دی.

شنکر په دې ناسته کې د افغان کډوالو د وضعیت په اړه هم اندېښنه څرګنده کړې او ویلي یې دي، چې د جبري ستنېدونکو افغانانو «ژوند او وقار» د هند لپاره ډېر ارزښت لري. نوموړي ډاډ ورکړی، چې هند به د دغو کډوالو لپاره استوګنځي جوړ کړي او بشري مرستو ته به دوام ورکړی.

د هند د بهرنیو چارو وزیر د افغانستان له لوري د هند د «کان کیندنې» شرکتونو ته له بلنې هرکلی کړی او ژمنه یې کړې، چې هېواد یې د اقتصادي پانګونې او ګډو پرمختیایي پروژو د پیاوړتیا لپاره چمتو دی. بل‌خوا، د افغانستان د بهرنیو چارو وزیر مولوي امیر خان متقي د هند د مثبتو دریځونو ستاینه کړې او ټینګار یې کړی، چې افغانستان د سیمه‌ییزو همکاریو او اقتصادي تعامل پر پراختیا باور لري.



مهارول غواړي کونړ د سیند سرشارې اوبه

په ابیارۍ په مړاوو للمو کې بیا سا راوله!

خپلې اوبه خپلې غلې په خپله ځمکه باندې

محتاج اولس له زمانه د "خودکفا" راوله!

# هند سره اړیکې ورځ تر بلې پیاوړې کیږي



د افغانستان اسلامي امارت د بهرنیو چارو وزیر امیرخان متقي هند ته د خپل سفر په لړ کې؛ په نوې ډیلي کې د افغانستان سفارت کې ویلي، اسلامي امارت د یوې متوازنې او اقتصادي تګلارې لمخې له هند سره خپلې اړیکې پراخوي.

نوموړي و ویل، چې له خپل هندي سیال جې شنکر سره یې د نشه‌یي توکو پر ضد مبارزې، امنیتي موضوعاتو، په افغانستان کې د هند پر پانګونې او د دواړو هېوادونو ترمنځ د سوداګرۍ کچې پر لوړولو خبرې کړې دي .

د افغانستان اسلامي امارت د بهرنیو چارو وزیر، امیر خان متقي په دې اړه زیاته کړه: «په تېرو څلورو کلونو کې د افغانستان او هند اړیکې ورځ تر بلې ښې شوي او موږ واورېدل

چې د هند بهرنیو چارو وزارت غواړي کابل کې خپل ډیپلوماټیک ماموریت د سفارت تر کچې لوړ کړي«.

د اسلامي امارت د بهرنیو چارو وزیر د خپلو خبرو په دوام د کابل او اسلام‌اباد د اړیکو په اړه و ویل، چې پاکستان کې ځینې ځانګړي کړۍ هڅه کوي د دواړو هېوادونو ترمنځ اړیکې خرابې کړي.

نوموړي ټینګار وکړ، چې د تحریک طالبان پاکستان (ټي ټي پي) غړي په افغانستان کې نشته او هغه څه چې اسلام‌اباد یې ګواښ بولي، په حقیقت کې د پاکستان کورني بې‌ځایه شوي خلک دي.

امیر خان متقي و ویل: »موږ د پاکستان له ولس او سیاسي شخصیتونو سره هېڅ ستونزه نه لرو خو ځینې ځانګړې کړۍ هڅه کوي وضعیت خراب کړي. افغانستان د خپلو پولو، فضا او حقونو ساتنه کوي او که څوک کومه تېروتنه وکړي، سمدستي ځواب ورکول کیږي«.

متقي همداراز و ویل، اسلامي امارت د زده کړو مخالف نه دی او دا مهال په افغانستان کې د نجونو زده کړې په بشپړ ډول نه دي بندې شوي، بلکې تر بلې خبرتیا ځنډول شوې دي.

د هغـه پـه خـبره، دا مهـال پـه افغانسـتان کـې لـس میلیونـه زده‌کوونکي په زده کړو بوخت دي، چې لږ تر لږه ۲,۸ میلیونه یې نجونې دي.

بل‌خوا، پاکستان د هند او د افغانستان اسلامي امارت د بهرنیـو چارو وزیرانو د ګډې اعلامیې پر یوه برخه نیوکه کـړې او ویـلي یې دي، چې جامو او کشمیر د هند د خاورې برخه ګڼـل د ملګـرو ملتونو د امنیت شورا د پرېکړه‌لیکونو ښکاره سرغړونه ده.

سیاسي شنونکي، ظهور الله ظاهر پـه دې اړه و ویـل: «لـه هغـه وخته چې پاکستان له هند څخه خپلواکي اخیسـتې، د افغانسـتان او هند له اړیکو خوښ نه دی».

د یادونې ده، دا په تېرو څلورو کلونو کې لومړی ځل دی چـې د اسلامي امارت یو لوړپوړی چارواکی هند ته سفر کوي.

ټاکل شوې، چې امیرخان متقي دغه پنځه ورځني سـفر کـې لـه ځینو نورو هندي چارواکو سره هم وګوري.

## هنـــد د افغانســـتان دفــاعيي هــوايي سيســـتم ( رادار ) جوړوي.

د ښاغلي مولوي اميرخان متقي د سفر پرمهـال روز نيـوز خبـر ورکـړی چـې: هنـد سيســتم دفــاع هــوايی (رادار) افغانســتان را می‌سازد






# د طالبانو او هند تعامل ته د «ایکس پریس» کتنه




نوموړي رسنۍ لیکي، کله چې طالبانو د ۲۰۲۱ کال په اګست کې کابل ونیو، له هغه وخت راهیسې هند په تدریجي او پرله پسې ډول له هغوی سره اړیکې پیل کړې.

دغه رسنۍ کاږي، یوه ستره پرمختیا د ۲۰۲۵ کال په جنورۍ کې رامنځته شوه، کله چې د هند د بهرنیو چارو وزیر ویکرام میسري په دوبۍ کې د افغانستان له بهرنیو چارو وزیر امیر خان متقي سره وکتل. اوس متقي خپل لومړي رسمي سفر لپاره هند ته

راغلی، چې د جمعې په ورځ یې د هند د بهرنیو چارو له وزیر اېس جي شنکر سره وکتل او نوموړي اعلان وکړ، هند به خپلې اړیکې پیاوړې او په کابل کې به خپل سفارت بېرته پرانیزي.

دا د دوی ترمنځ په مې میاشت کې له مثبتو خبرو وروسته کېږي، چې له پاهلګام ترهګریز برید وروسته د هند او پاکستان ترمنځ اوربند وشو او طالبانو په یوه غږ دغه برید وغانده.

د اړیکو دا لړۍ تاییدوي چې نوي ډیلی دا حقیقت مني چې طالبان، د اوس لپاره، یوازینی ځواک دی چې پر ټول افغانستان د کنټرول وړتیا لري. دا د دې اعتراف هم دی چې په سخته سیالۍ کې له ګاونډیانو سره اړیکې ساتل یوه جیوستراتیژیکه اړتیا ده.

د طالبانو او پاکستان ترمنځ اړیکې په وروستیو کې سختې خرابې شوې دي. اسلام اباد طالبان په دې تورن کړي چې تحریک طالبان پاکستان ته یې پناه ورکړې ده او د افغانستان په خاوره کې یې د هغوی پر پټنځایونو هوایي بریدونه کړي دي. د پنجشنبې په ورځ، طالبانو پاکستان په کابل او پکتیکا ولایتونو کې پر چاودنو تورن کړ.

په ورته وخت کې، د افغان کډوالو ډله ییز اخراج د پاکستان له لوري اړیکې نورې هم خرابې کړې دي. په دې ترینګلي حالت

کې، د هند دریځ د جمعې په ورځ متقي ته د جي شنکر په څرګندونو کې څرګند و، چې نوموړي ټینګار وکړ هند او افغانستان د "پرمختګ او سوکالۍ لپاره ګډه ژمنتیا" لري، چې "د پولې پورې غاړې ترهګرۍ د ګډ ګواښ له امله له خطر سره مخ دي" او باید له "ترهګرۍ سره په ټولو بڼو کې د مبارزې لپاره همغږې هڅې" وشي. نوی ډیلي باید له طالبانو سره له خپلو مخ پر ودې اړیکو کار واخلي ترڅو افغانستان د هند ضد ترهګریزو ډلو مخه ونیسي.

د ایکس پریس په باور، د خوراک، روغتیایي پاملرنې، ناورینونو له امله رامنځته شوي زیانونه او له بنسټیزو پروژو هاخوا، هند په وروستیو کې په نړیواله کچه د طالبانو ملاتړ ښودلی چې له پاکستان، چین، او روسیې سره یوځای یې د متحده ایالاتو ولسمشر ډونالډ ټرمپ د بګرام هوایي اډې د نیولو پر وړاندې مخالفت وکړ.

د جي شنکر او متقي لیدنه روښانه کوي چې طالبان له هند څخه غواړي چې له افغانستان سره لا زیاتې اړیکې ولري، چې د "پېړیو راهیسې اوږدو مدني او خلکو ترمنځ اړیکو" ته اشاره کوي.

دا داسې مهال دی چې د دوشنبې په ورځ، د ملګرو ملتونو د بشري حقونو شورا موافقه وکړه چې په افغانستان کې د سرغړونو د څېړلو لپاره "یو فعال، خپلواک پلټنې میکانیزم" رامنځته کړي.

د دې رسنۍ په خبره، دا هم هغه لامل دی چې سره له ډېرو اړیکو، هند لا هم په رسمي ډول د طالبانو حکومت نه پېژني. که خبرې ونه شي، خپل خطرونه لري. بېجنګ لا دمخه له طالبانو سره د پانګونې او امنیتي مهم تړونونه لاسلیک کړي دي، او هند نشي کولای افغانستان، چې د سیمې لپاره خورا مهم هېواد دی، په بشپړ ډول د چین مدار ته پرېږدي. نوی ډیلي باید له همدې امله له کابل سره یوه احتیاطي اړیکه وساتي، عملي ګټې د افغانستان خلکو د هوساینې لپاره له خپلې ژمنتیا سره انډول کړي.



# پاکستان هند ته د امیرخان متقي پر سفر څه وايي؟




په افغانستان کې د طالبانو حکومت د بهرنیو چارو وزیر امیر خان متقي د هند پلازمېنې ډیلي ته رسېدلی دی. په ۲۰۲۱ کال کې واک ته له رسېدو وروسته دا لومړی ځل دی چې یو لوړپوړی طالب چارواکی هند ته سفر کوي.

د طالبانو حکومت لپاره ډیلي ته د ښاغلي متقي شپږ ورځنی سفر له سیمه ییزو ځواکمنو هېوادونو سره د ډیپلوماتیکي راشې درشې زیاتولو له اړخه هم خورا مهم بلل کېږي.

که څه هم د دې لیدنې اجنډا په هکله هېڅ یوه لوري څه نه دي ویلي، خو د چارو شنونکي وایي، سوداګري او امنیتي مسائل به ښایي د اجنډا په سر کې ځای ولري.د هند مشهورې انګلیسي-

ورځپاڼې 'د هندو' په رپوټ کې ویل شوي، ښاغلي متقي ته بـه د بهرنیو چارو وزیر بشپړ پروتوکـول ورکـړل شي او د هنـد بهرنیـو چارو وزیر ایس جی‌شنکر به له ښـاغلي متقـي سره د اکتـوبر پـر لسمه د ډیلي په حیدارباد هاوس ماڼۍ کې ویني.

د هند بهرنیو چارو وزارت ویاند رندهیر جېسوال بیـا پـر خوالـه رسنۍ ایکس ښاغلي متقي د هرکلي تر څنګ لیکلي: "موږ به لـه هغه سره پر دوو اړخیزو اړیکو او سیمه ییز مسائلو خبرې وکړو".

د هندي رسنیو په رپوټونو کې ویل شوي، متقي بـه خپـل سـفر کې د سوداګرو له استازو سره ویني او دغه راز به د یوې دینـي مدرسې او تاج محل لیدنه هم وکړي، چې د محبت یادګار بلل کېږي.

د یادونې ده، چې د امیر خان متقي په ګډون د طالبانو لوړپوړي چارواکو نومونه د ملګرو ملتونو په هغو لیستونو کې شامل دي، چې د سفر بندیزونه پرې لګېدلي او شتمنۍ یې کنګـل شـوې دي او د هند سفر لپاره ښاغلي متقي ته د ملګرو ملتونو امنیت شـورا له لوري ځانګړې اجازه ورکړل شوې ده.

له تاریخي پلوه هند او افغانسـتان تـودې سـیاسي او اقتصـادي اړیکي درلودل، خو پـه افغانسـتان کـې دویـم ځل د طالبـانو لـه واکمنېدو وروسته ډیلي پـه کابـل کـې د خپـل سـفارت دروازې وتړلې.

یو کال وروسته یې بیا د خپل سفارت یوه برخه پرانیستله، چې په وینا یې د سوداګرۍ، بشري او طبي مرستو لپاره اسانتیا رامنځته شي.


دغه راز لوړپوړو هندي چارواکو له طالب مشرانو سره څو ځله لیدنې درلودې او خبرې یې کړې دي.

همدا تېره جنورۍ کې ښاغلي متقي له لوړپوړي هندي دیپلومات (د بهرنیو چارو مرستیال وزیر) وېکرم مسري سره په دوبۍ کې لیدلي وو.

دا لیدنه په افغانستان کې واک ته د طالبانو له رسېدو وروسته د هند او افغانستان تر منځ په لوړه کچه لومړنۍ دیپلوماتیکه اړیکې وې.

له روسیې پرته هېڅ یوه هېواد تر اوسه د طالبانو حکومت په رسمیت نه دی پېژندلی او تېره جمعه د هند بهرنیو چارو وزارت ویاند په یوه خبري غونډه کې د هغې پوښتنې له ځواب ورکولو ډډه وکړه، چې ایا هند به د طالبانو حکومت په رسمیت وپېژني او که نه.

بي بي سي لیکي:




د پاکستان دفاع وزیر خواجه اصف وایي، "رښتیا دا دي، چې افغانستان زموږ پر وړاندې دسیسه کوي".

د چارو شنونکي وايي، د هند سيال پاکستان به ډيلي ته د ښاغلي متقي سفر له نژدې ځاري، چې په وروستيو کې يې له طالبانو سره اړيکي خړپړې شوي دي.

ښاغلی متقي داسې حال کې هند ته سفر کوي، چې پاکستاني چارواکي په دغه هېواد کې د ناامنيو پړه پر هغو وسله والو اچوي، چې د دوی په وينا په افغانستان کې پټنځايونه لري.

د اکتوبر پر اوومه د پاکستان له سما شخصي ټلويزيون سره په خبرو کې، د دغه هېواد دفاع وزير خواجه اصف د امير خان متقي د هند د سفر په اړه خپل نظر ښرګند کړ. هغه وويل چې له افغانستان سره د پاکستان اړيکي تل (ترخې) وې او اوس نورې هم خرابې شوې دي.

په هغو خبرو کې خواجه اصف زياته کړه "که تاسو په تاريخ کې شاته وګورئ، افغانستان وروستی هېواد و چې پاکستان يې په رسميت وپيژاند. له هغه وخته راهيسې تر اوسه پورې داسې يو فرصت هم نه دی راغلی چې افغانستان له پاکستان سره د دوستۍ يا وروروګلوۍ اړيکه ساتلې وي. سره له دې چې د ورته مذهب درلودونکي دي، دوی هيڅکله داسې اړيکه نه ده ساتلې".

نوموړي وویل، "رښتیا دا دي، چې افغانستان زموږ پر وړاندې دسیسه کوي. زموږ سرتېري هره ورځ شهیدانېږي. ډېری سرتېرو په دې جګړه کې خپل غړي له لاسه ورکړي دي. ډېری یې له خپلو ماشومانو څخه جلا شوي دي. ایا دا د ګاونډیو ترمنځ اړیکه ده؟"

له هند سره د افغانستان د اړیکو په اړه، ښاغلی اصف وایي، "حقیقت دا دی چې افغانستان پرون هم له هند سره و، نن هم له هند سره دی او سبا به هم له هند سره پاتې شي".

همدا تېره میاشت د پاکستان لومړي وزیر شهباز شریف د طالبانو حکومت ته په یوه خبرداري کې وویل: "زه غواړم نن افغانستان ته یو څرګند پیغام ورکړم او هغه دا چې دوی باید د پاکستان او ټي‌ټي‌پي (تحریک طالبان پاکستان) تر منځ یو وټاکي".

پاکستان په ورته مهال هلته مېشت افغان کډوالو ته هم د وتلو ضرب الاجل ټاکلی و، چې له تېرېدو وروسته یې سلګونه زره کډوال بېرته افغانستان ته ستانه کړل شوي دي.

په افغانستان کې د طالبانو حکومت په پاکستان کې په ناامنیو کې لاس درلودل په کلکه ردوي او پر دغه هېواد تور پورې کوي، چې هلته له مېشتو کډوالو سره ناوړه چلن کوي.




## هند ته د اميرخان متقي سفر څومره مهم دی؟

کارپوهان د سيمې وضعيت ته په کتو هند ته د امير متقي سفر مهم بولي.

Author,نياز فاروقي، دنده،بي‌بي‌سي ډيلي

۱۳ تله ۱۴۰۴ - ۵ اکتوبر ۲۰۲۵

د ملګرو ملتونو له لوري د سفر د معافيت له تصويب وروسته، په افغانستان کې د طالبانو حکومت د بهرنيو چارو وزير امير خان متقي راتلونکې اونۍ هند ته سفر کوي. کارپوهان د سيمه‌ييز تيکاو حالت ته په پام دې سفر ته د يوه مهم ګام په سترګه ګوري.

د هند د بهرنيو چارو وزارت وياند په يوه خبري کنفرانس کې متقي ته د ورکړل شوي معافيت تصديق وکړ، خو دا يې ونه ويل چې ايا د طالبانو دغه لوړ پوړی چارواکی به هند ته راځي که نه.

خو د طالبانو د بهرنیو چارو وزارت یوه چارواکي بي بي سي سره خبرو کې ومنله چې متقي به هند ته سفر وکړي. هغه د نورو جزییاتو له ورکولو ډډه وکړه.

د افغان طالبانو پر مشرانو د سفري بندیزونو له کبله، د ملګرو ملتونو له امنیت شورا د معافیت له ترلاسه کولو وروسته، د دوی مشران کولی شي بل هېواد ته سفر وکړي.

دا به په ۲۰۲۱ کال کې پر افغانستان د طالبانو له بیا واکمنېدو وروسته، هند ته د طالبانو د حکومت د یوه وزیر لومړنی رسمي سفر وي.

هند تر اوسه د طالبانو حکومت په رسمیت نه دی پېژندلی، خو په وروستیو کې یې له طالبانو حکومت سره د اړیکو پراخېدو چټکتیا لید کېږي.

په مې میاشت کې د هند تر واک لاندې کشمیر په پاهلګام سیمه کې تر برید وروسته، د هند د بهرنیو چارو وزیر له طالبانو د بهرنیو چارو له وزیر سره ټلېفوني خبرې وکړې.

د نړیوالو اړیکو کارپوهان وايي، د متقي سفر د هند او افغانستان دواړو لپاره یو مهم ډیپلوماټیک فرصت دی، ځکه چې دا د لسیزو پخوانۍ دښمنۍ پای ته رسولو هیلې ټوکوي.



هند په تېر کې د افغان طالبانو د مخالفو ډلو ملاتړ کړی، چې په هغوی کې هغه ډلې هم وې چې تر ۲۰۲۱ پورې یې د افغان حکومت مشري کوله. په داسې حال کې چې طالبان د هند د سیال پاکستان د لاس اله بلل کېده.

'افغان اړخ کې ډېر څه روان دي'

هند ته د متقي سفر په داسې وخت کې کېږي چې د امریکا پخواني ولسمشر ډونلډ ټرمپ له کابل سره نږدې د بګرام هوایي اډې د بېرته ترلاسه کولو خبرې راپورته کړې.

د جندل پوهنتون کې د افغان مطالعاتو مشر- پروفیسر- راغوو شرما وایي، په دې وخت کې د متقي راتګ له دې کبله مهم دی چې په افغانستان کې د چین نفوذ زیاتېږي او روسیې هم له طالبانو سره ډیپلوماټیکې اړیکې پراخې کړې دي.

د هغه په وینا، د پاکستان له استخباراتي ادارې سره د نږدېوالي له امله هند له افغان طالبانو سره په اړیکو کې احتیاط کړی دی.

شرما وایي، 'د متقي سفر دا ښیي چې په افغان محاذ کې ډېر څه روان دي. دا هغه حقیقت په گوته کوي چې د طالبانو واک ته له رسېدو وروسته پیل شوې ډېره پټه او احتیاطي لیکه اغېز ښیي'.

د کلکتې د عالیه پوهنتون کې د افغان-هند پر اړیکو څېړونکی محمد ریاض وایي، له ۲۰۱۰ کال راهیسې دا روښانه کېده چې افغان طالبان بېرته د افغانستان په سیاسي صحنه کې راڅرگندېږي.

د هغه په وینا، په هماغه وخت کې د نړۍ بېلابېلو هېوادونو له دوی سره اړیکې پیل کړې، خو هند له دوی سره په اړیکو کې ځنډ وکړ. هغه وایي، 'هند له طالبانو ځان لرې ساتلی و، خو اوس داسې نه ده'. که څه هم هند د طالبانو کابل ته له راتگ وروسته خپل ډیپلوماتیک کارکوونکي بېرته ور وبلل او مخامخ ډیپلوماتیکې اړیکې یې ودرولې، خو ډېر ژر یې خپله ستراتیژي بدله کړه.

'ډیلي دا احساس کړې چې له طالبانو بشپړ واټن ناشونی دی'

په ډيلي کې مېشت د نړيوالو اړيکو کارپوه پروفيسر اجې درشن بهېرا وايي، 'هند ډېر ژر خبرې اترې پيل کړې، چې له طالبانو دا ډاډ ترلاسه کړي چې دوی به خپله خاوره د هند ضد فعاليتونو لپاره ونه کاروي'. د هغه په وينا، ډيلي دا احساس کړه چې له طالبانو بشپړ واټن ساتلو تګلاره ناشونې ده.

پروفيسر بهېرا وايي، د طالبانو حکومت د رسميت پېژندلو پرته مرستې، او له شريکوالۍ پرته هلته شتون، له طالبانو سره د هند په پاليسۍ کې توازن څرګندوي.

کله چې د دواړو لورو ترمنځ يو څه باور بېرته جوړ شو، د ځايي رسنيو د راپورونو له مخې طالبانو په ۲۰۲۲ کال کې ډيلي ته خپل يو سفارتي استازی ولېږه. خو هند لا تر اوسه ورته د افغان سفارت د چارو د سمبالولو اجازه نه ده ورکړې.

په ۲۰۲۴ کال کې راپورونه خپاره شول چې د طالبانو يوه سفارتي استازي د ممبۍ کونسلګرۍ چارې سمبال کړې، خو دواړو هېوادونو پر دې کوم رسمي بيان نه دی خپور کړی.

په ۲۰۲۲ کال کې هند په کابل کې خپل سفارت په محدود ډول بېرته پرانيست، او په ۲۰۲۵ کال کې يې د بهرنيو چارو سکرتر وېکرم مصري په دوبۍ کې له متقي سره وليدل. بالاخره د ۲۰۲۵

کال مې په میاشت کې دواړو بهرنیو چارو وزیرانو د پاهلګام له برید وروسته پر ټلیفون خبرې وکړې.

خو د اېس جې شنکر او متقي له دې خبرو اترو وروسته، د دواړو هېوادونو له لوري خپرو شویو ویناپاڼو د دوی د ملي لومړیتونو انځور وړاندې کړ.

هند پر ملي امنیت خبرې وکړې، ځکه دوی غواړي افغانستان بیا د هند ضد وسله والو ډلو پټنځای نه شي، په داسې حال کې چې افغانستان د ویزې او سوداګرۍ یادونه وکړه، ځکه د دوی هڅه دا ده چې په نړیوال کچه پېژندنه او پانګونه ترلاسه کړي.

سره له دې چې چین او روسیه له طالبانو حکومت سره نږدې دي، د ملګرو ملتونو د بندیزونو له کبله د طالبانو مشران بې له اجازې نړیوال سفرونه نه شي کولی، او له همدې امله د دوی لپاره په نړیواله کچه محدود فرصتونه دي. همدغه ټکي دي چې د کارپوهانو په وینا، هند ته د متقي سفر اهمیت لري.

د متقي د راتلونکي سفر اجنډا نه ده اعلان شوې، خو کتونکي تمه لري چې دا به د دواړو حکومتونو د لومړیتونو یو انځور وړاندې کړي، څه چې مهمه نه ده دواړه اړخونه دې یو ډول اجنډا ولري.

محمد رياض وايي، 'هند په افغانستان کې ډېرې ګټې لري، چې له پامه غورځول يې ممکن نه دي. په ځانګړې توګه کله چې د طالبانو مخالفې ډلې تېتې شوې دي او نړيوالو ځواکونو هم ملاتړ نه لري'.

د هغه په وينا، هند په افغانستان کې د خپل دريځ ساتلو لپاره له طالبانو حکومت سره نږدېوالي پراخوي او په همدې وخت کې خپل پخواني افغان ملګري ګوښي کوي.

کارپوهان وايي، هند په افغانستان کې د بشري حقونو پر حالت اندېښنې لري، خو سره له دې هم طالبان له پامه نشي غورځولی.

د چين او پاکستان د نفوذ کمولو هڅه؟

رياض وايي، له افغان طالبانو سره د ډيلي اړيکې له سيمه‌ييز امنيت سره هم تړلې دي، چې په هغې کې د پاکستان د استخباراتي ادارو له لوري د طالبانو او نورو وسله والو ډلو د نيابتي ډوله کارولو اندېښنې هم شته.

د هغه په وينا، په افغانستان کې د چين د نفوذ د کمولو لپاره هند هلته د اوږدې مودې پانګونې پر غوراويو هم غور کوي.

پروفيسر بهېرا وايي، هند منځنۍ لاره غوره کړې چې په رسمي توګه د طالبانو له رسميت پېژندلو پرته له دوی سره محدود خو بامعنا اړيکې ډاډمنې کړي.

هغه وايي، 'دا لاره د اړیکو کرښې خلاصې ساتي او افغانستان د هند ضد ترهګرو ډلو له پټنځای کېدو ژغوري'.

متقي چې ویل کېدل په سپټمبر کې به هند ته سفر وکړي، د ملګرو ملتونو له لوري پر طالبانو د لګول شویو سفري بندیزونو له کبله سفر ونه کړ. خو د سپټمبر په ۳۰، د ملګرو ملتونو امنیت شورا ورته د اکتوبر له ۹ تر ۱٦ پورې ډیلي ته د سفر اجازه ورکړه.

هغه به د اکتوبر په پای کې په مسکو فارمېټ خبرو اترو کې د ګډون لپاره د روسي استازو سره هم ووینې.

پروفیسر شرما وايي، 'د طالبانو لپاره دا یو فرصت دی چې خپلو خلکو ته دا پیغام ورکړي چې دوی د پاکستان ګوډاګیان نه دي، لکه چې پر دوی له اوږدې مودې راهیسې دا تور لګول کېږي'.

خو کارپوهان فکر کوي، له طالبانو سره د هند نږدېوالي ظاهراً منفي اړخونه هم لري. ځینې کارپوهان وايي، دا به د افغان وګړو په دې انګېرنه کې زیاتوالی راولي چې پاکستان او هند دواړه افغانستان د جګړې د ډګر په توګه کاروي.

پروفیسر شرما وايي، 'که دا حقیقت وي یا نه، تاثرات د یوه هېواد د ولسي فکر د انځور په جوړولو کې مهم رول لوبوي.

دا زموږ لپاره ډېر ښه نه دي'. هغه وايي، د متقي دا سفر بـه بـې له شکه د اړیکو پرمخ بیولو پر لور یو مهم ګام وي.





# د افغان_هند دیپلوماتیکو اړیکو ته د پاکستان ترهیدلې ننداره؛ څه پکار دي؟

خالقیار احمدزی لیکي:

نن د افغانستان د بهرنیو چارو وزیر مولوي امیر خان متقي له خپل هندي سیال ښاغلي ډاکټر ایس جې شنکر سره د هند په پلازمینه نوي دهلي کې ناسته ترسره کړه؛ چې د سیاسي اړیکو د پیاوړتیا، د اقتصادي همکاریو د پراختیا، د اولسونو تر منځ په تګ راتګ او پر سیمه‌ییزو موضوعاتو یې هر اړخیز بحثونه ترسره کړل.

په صحي برخه کې د لاسنیوي، د تجارت پر زیاتوالي او کابل کې د هند د سفارت پر خلاصون سربېره، دواړه لوري پر ګڼو دوه اړخیزو مسائلو وغږېدل.

خو د غونډې تر تدویر مخکې پاکستان یوځل بیا خپل د تربګنۍ څخه ډک اصالت د کابل پر وړاندې څرګند کړ او پر افغان خاوره یې د ناروا تجاوز هڅه وکړه.

پاکستاني پوځ د ډیورند فرضي کرښي ته څېرمه دپکتیکا په مرغی ساحه کی په یوه ملکی بازار بمبار وکړ او د کابل پلازمیني قلمرو یې هم نقض کړ.

د افغانستان دفاع وزارت که څه هم سملاسي فزيکي غبرګون ونه ښوود، خو خبرداری يې ورکړ چې تر دې وروسته که وضعيت هر څومره ترينګلی کيږي عواقب به يې د پاکستان پوځ ته راجع وي.

پاکستان چې د ا.ا.ا له راتګ وروسته يې د کابل پر وړاندې څو مخيزه لوبه کړې او له مخامخ بريدونو نيولې، بيا د حکومت د سياسي مخالفينو تر پړسولو پورې؛ ټولې مخربې لارې يې په يو نه يو ډول آزمويلې دي، اوس پر دې پوهيږي چې کابل کې يو مرکزي خپلواک حکومت کې دوی هغسې خپلو مخربو طرحه شويو اهدافو ته نه شي رسيدای، چې له کلونو يې په طرحه ريزي کار کړی ؤ.

بلخوا هند چې دا مهال د سلګونه ميليونه مسلمانو پرګنو کوربتوب کوي، له افغانستان سره اړيکې ورته ځکه هم مهمې بريښي چې د ا.ا.ا حکومت د خپلو علياء ملي ګټو په رڼا کې، په صادقانه توګه له ټولو لوريو سره مثبتې اړيکې غواړي، نو هند هم د خپل سياسي لرليد لمخې د خپلو اوږدمهاله ګټو پر اساس واقعيت درک کړ او له ا.ا.ا سره مخامخ ديپلوماتيک ميز ته را وړاندې شو .

پنجابی رژیم چې خپله او نیول شوې خاوره کې د امنیت د استقرار توانايي نه لري او د خپلو ناکامیو پړه یې تل پر نورو اچولې، دا مهال په یوه سخت وضعیت کې پریوتی دی؛ له هند سره ترینګلې اړیکې یې پرخپل ځای، له ایران او نورو ګاونډیانو سره هم د سرې تورې یاري ورپاتې ده.

چین یې هم د ټیشو پېپر په توګه کاروي او امریکايي بادار ته سر خم کولو هڅې یې هم تر اوسه بې پایلې مخته تللې دي.

له هندسره د افغانستان پیاوړې اړیکې کولای شي، چې سیمه کې دغه سپین سترګی ګاونډی لا منزوي او رسوا شي او په کور دننه ستونزې به یې هم همداسې اغیزلې پرځای پاتې وي.

پاکستان پوهیږي چې افغانستان له شپږو هېوادونو سره پوله لري، خو پر دغه واقعیت سترګې پټوي چې ولې د افغانستان نور ګاونډیان په امن دي او دغه هیواد کې هره ورځ غوبل جوړ وي؟ځواب یې واضح دی چې خپل ملت یې په خپله ورسره لوبیږی او دا ددغه هېواد د څو زرخریده مشرانو د ناسمو سیاسي لوبو ثمره ده.

له هندسره د افغانستان پیاوړې اړیکې کولای شي، چې سیمه کې دغه سپین سترګی ګاونډی لا منزوي او رسوا شي او په کور دننه ستونزې به یې هم همداسې اغیزلې پرځای پاتې وي.

افغانستان د سیمې او فرا منطقې د تجارتي اړیکو لپاره د یوه ښه ځلورلاري په توګه ثابتېدلای شي او دا اړتیا اوس ټولو سیالانو درک کړې، که یاده چاره په واقعیت بدلیږي؛ نو د خپلو ګټو لپاره به هیڅ هیواد د یوه هوسا افغانستان نا آرامي نه شي زغملای او نه به هم د سیمې په کچه دغه بدمرغه ګاونډی خپلې بدې موخې دلته تعمیلولای شي.

ا.ا.ا ته پکار دي چې د اوس لپاره ځینې اړتیاوو ته د توان تر حده لومړیتوب ورکړي، چې لومړی هدف ټول تمرکز د ملي دفاع لپاره د با ارزښته وسایلو، الوتکو او پرمختللو جنګي تجهیزاتو پر رانیولو او بل هم د خپلو ملي، عقیدوي او کلتوري ارزښتونو په چوکاټ کې له بهرنۍ نړۍ سره د اړیکو پراختیا ده.

دغه راز په ملي کچه یو لړ نور ګامونه هم شته چې حکومتونه کولای شي، د اړتیا تر بریده ترې کار واخلي.

که دې واړو ډګرونو کې ملموس هدف ته ورسیدو، بیا به مو هیڅ لوری مخې ته د ودریدو تاب ونه لري؛ نه به مو هغه زرخریده افغان نما څیرې څوک ور خپلې کړای شي، چې تر پرونه یې هر ډول ته مختلف اتڼ زده کړی ؤ او تر ننه یې هم خلک کاروي.

# دارالعلوم دیوبند
# او افغانستان عالمان

# دارالعلوم دیوبند کې افغان ارزښت

د ارواښاد نادرخان له وژلو وروسته د هند علماء د هغه زوی [محمدظاهر خان] ته د فاتحې او غمرازۍ د پاره ددې مدرسې د مهتمم [مولانا قاري محمد طیب] په مشرتوب کابل ته راغلل، چي د دولت تر څنګ ادبي انجمن، تجارانو، جمیعت علماء، روڼ اندو او اولس ئې پراخ هر کلی وکړ او دولت په ځانګړې ډول د باندنیو چارو وزیر [سردارعلي محمدخان] په درنو مراسمو ښه راغلاست ورته ووایه او د کابل تر ټولو مناسب مېلمستون شاهي قصر کې ځای پر ځای سول او د مېلمستیا تر اخره پوري د انیس څو ګڼې ځانګړي ورته چاپ کړل سوې.

ددې درونډ هرکلي او دوستۍ په بدله کي دیوبند مدرسې شورا پرېکړه وکړه چي ورپاتې تعمیراتي بودیجه کې دې یوه درې منزله ودانۍ جوړه شي .

دغه وداني د یوه کال په اوږدو کې جوړه او د دارالعلوم دیوبند لوېدیځه دروازه شوه چې کچه ئې ۵۴×۴۲ کېدله، کال وروسته د پرانیستولو په نیت د افغانستان باچا د هند د لوري په رسمي توګه دعوت او په درانه هر کلي هند ته ورسېد.

د غونډې ځای کې اټکل شل (۲۰) زره کسانو ګډون لاره چې د مسلمانانو تر څنګ سیکانو او هندوانو هم ګډون لاره او د عربي ښه راغلاست [اهلاً وسهلاً] تر څنګ ګڼ هندي ژبي شعارونه هم وو.

غونډې ته باچا په فارسي خبري وکړې او دغه دروازه د [دولت خداداد افغانستان زنده باد] په چیغو پرانیستل شوه .

باچا محمد ظاهر شاه هند کې د افغان سفیر سردار نجیب الله په ملتیا د دیوبند مدرسې عمومي دفتر، درسګاه او لرغونې وداني وکتل او وورسته ئې د مولانا شبیر احمد عثماني تفسیر [کابلی تفسیر] ورته ډالۍ کړ چې د صدراعظم محمد هاشم خان په ځانګړې پاملرنه کابل کې په خورا ښه ډول چاپ سو.

وروسته تر پرانستلو دغه نوې وداني/دروازه د [باب ظاهر] په نامه ونومول سوه چې اوس د خوشخطۍ څانګه په کې فعاله ده او د دیوبند د علماوو د لاس اثار ګنډل کېږي.

دیوبند مدرسه د اسلامي نړۍ د ستر پوهنتون (الازهر پوهنتون) څخه وروسته د نړۍ دوهمه ستره سرچینه ده چې د اسلامي او مروجه علومو د زده کړې لپاره ورته د نړۍ له ګوټ ګوټ څخه مسلمانان راځي.

ددغه سفر په اړه د سید محبوب رضوي په رساله


[شاه افغانستان دارالعلوم ديوبند ميں] او حيات طيبه د سابق مهتمم دارالعلوم ديوبند علامه مولانا قاري محمد طيب صاحب رحمه الله کتلی شئ



باب الظاهر - د هندوستان د اتر پرديش ايالت په ديوبند مدرسه کې د افغانستان د پخواني پاچا اعليحضرت محمد ظاهر شاه په نوم نومول شوې دروازه.

هيره دې نه وي چې دغه مدرسه د اسلامي نړۍ تر ټولو ستره ديني مدرسه ده.

# مولوي اميرخان متقي په هند کې
# د دارالعلوم ديوبند له مشرتابه سره په ليدنه کې
# د علمي اړيکو د پياوړتيا په اړه خبرې وکړې




د افغانستان د بهرنيو چارو وزير مولوي اميرخان متقـي د هنـد د ستر ديني او علمي مرکز دارالعلوم ديوبند له مشرتابه، استادانو او طالب‌العلمانو سره ليدنه وکړه.

د ليدنې پر مهال مولوي اميرخان متقي د دارالعلوم ديوبند د ديني، ښوونيز او دعوتي فعاليتونو سـتاينه وکـړه او د دواړو هېوادونـو ترمنځ د علمي او فرهنګي اړيکو د پياوړتيا پر اهميت يې ټينګـار وکړ.

د بهرنیو چارو وزیر مولـوي امیرخـان متقـي وویـل، دارالعلـوم دیوبند د اسلامي نړۍ یو له هغو بنسـټونو څخـه دی چـې د علـم، تقوا او اصلاح په ډګر کې یې مهـم رول لوبـولی او د افغانسـتان دیني عالمان له دې مرکز سره ژور تاریخي، فکري او عاطفي تړاو لري.

د دارالعلوم مسوولینو هم د افغانستان له اسلامي امـارت سره د ورورولۍ، علمي او دیني اړیکو د لا ټینګښت هیله څرګنده کړه او د مولوي امیرخان متقي دا لیدنه یې د دواړو ملتونو ترمنځ د تفاهم او د دینـي – فرهنګي اړیکو د پیاوړتیا په لړ کې مهمه وبلله.

دغه‌راز د دارالعلوم دیوبند له لوري د افغانستان د بهرنیو چـارو وزیر ته د احادیثو اعزازي سند ورکړل شو او د فضیلت دستار یې پر سر کړای شو.

په پای کې دواړو لوریو د علمي تبادلو او متقابل تګ او راتګ د دوام غوښتنه وکړه.



طلوع نیوز

کورپاڼه | افغانستان | نړۍ | سوداګریز | ویډیو | سپورتي | کلتور او هنر | روغتیا |ستاسو نظر

# هند کې د دیوبند له دارالعلوم د امیر خان متقي لیدنه

· لیدلوري

FACEBOOK TWITTER EMAIL لیدلوری + نوري تولنیزي شبکي



متقي دغه ديني مدرسه کې د تود هرکلي له امله مننه وکړه او زیاته یې کړه چې هیله لري د افغانستان او هند اړیکې لا ډېرې پیاوړې شي.

اړوند خبرونه

هند ته د متقي سفر او د دوه اړخیزو اړیکو د کچې لوړولو هڅې >

امنیت شورا هند ته د امیر خان متقي د سفر د بندیز معافیت صادر کړ >

د افغانستان اسلامي امارت د بهرنیو چارو وزیر امیرخان متقي نن (شنبه، د تلې ۱۹مه) دعلماو، استادانو او د سیمې د یو شمېر اوسېدونکو په تود هرکلي سره، هند کې د دیوبند له دارالعلوم چې تر ټولو پخوانۍ ديني مدرسه بلل کیږي، لیدنه وکړه .

متقي دغه ديني مدرسه کې د تود هرکلي له امله مننه وکړه او زیاته یې کړه چې هیله لري د افغانستان او هند اړیکې لا ډېرې پیاوړې شي.

امیرخان متقي و ويل: «دا سفر تر دې دمه ډېر ښه تېر شوی. نه یوازې د دیوبند دارالعلوم علما، بلکې د سیمې ټول خلک هم دلته راغلي دي. زه له هغوی مننه کوم چې ماته یې داسې تود هرکلی

وکـړې. د افغانســتان او هنـد د اړیکــو راتلـونکی ډېـر روښــانه ښکاري«.

د هند د علماو د ټولنې مشر و ویل چې هېواد یــې لـه افغانســتان سره علمي او ښوونیزې اړیکې لري.

د هند د جمعیت علماو مشر، مولانا ارشد مدني و ویل: «موږ لـه افغانستان سره علمي او ښوونیزې اړیکې لري او همدارنګه زموږ د ازادۍ جهاد کې هم هغوی لـه مـوږ سره مرسـته کـړې ده. زه دا وایم، څنګه چې موږ د نړۍ ستر ځواک بریټانیا تـه ماتـه ورکـړه، همداسې هغوی هم د نړۍ سترو ځواکونو، روسیې او امریکا سره مبارزه وکړه او هغوی یې مات کړل«.

د سیاسي چارو شنونکي، سید حامد حسیني و ویـل: «د دیوبنـد مدرسه د احنافو په مذهب کې یو تاریخي او معتبر مرکز دی چـې میلیونونه خلک یې په ټوله نړۍ کې درناوی کوي«.

دا په داسې حال کې ده چې تېره ورځ امیرخان متقي د هند له بهرنیو چارو وزیر سره وکتل او د سیاسي او اقتصادي اړیکو د پراختیا، په ځانګړي ډول کابل کې د هند سفارت د بیا پرانیستلو په اړه یې خبرې وکړې.

## د هند جمعیت علماو مشر:

## مونږ د نړۍ ستر ځواک برتانیا ته ماتې ورکړه افغانانو د نړۍ سترو ځواکونو، روسیې او امریکا ته ماتې ورکړه

د هند د جمعیت علماو مشر، مولانا ارشد مدني و ویل: «موږ له افغانستان سره علمي او ښوونیزې اړیکې لرو او همدارنګه زموږ د ازادۍ جهاد کې هم هغوی له موږ سره مرسته کړې ده. زه دا وایم، څنګه چې موږ د نړۍ ستر ځواک بریتانیا ته ماته ورکړه، همداسې هغوی هم د نړۍ سترو ځواکونو، روسیې او امریکا سره مبارزه وکړه او هغوی یې مات کړل».



یادونه: د هندوستان د عالمانو مشر شیخ الحدیث مولانا ارشد مدني د ډېرو افغان عالمانو استاذ د نړۍ په کچه لوی عالم او مجاهد شیخ الحدیث مولانا حسین احمد مدني فرزند ارجمند دی

# دیوبند او افغانان،
# یو ځلې بیا په دې لار راشه

قاري عبدالستار سعید لیکي:

د افغانستان خارجه وزیر مولوي امیر خان متقي هند ته د سفر په لړ کې دارالعلوم دیوبند ته ورغلی. په میډیا کې له راغلیو انځورونو ښکاري چې استقبال یې کمساری دی. دغه استقبال یوازې رسمي او تشریفاتي نه دی، بلکې صمیمیت او معنویت په کې له ورایه ښکاري. د دارالعلوم دیوبند علماء او طلباء داسې احساسوي لکه کوم ورک نادرک خپلوان یې چې له ډېرو مودو وروسته کور ته راغلی وي او اوس نه پوهیږي څنګه، په کومه ژبه او کومو احساساتو یې هرکلی وکړي.

هوکې، د هند له اسلامي ټولنې په خاص ډول دارالعلوم دیوبند سره د افغانانو اړیکه همدومره پخوانۍ، همدومره ژوره، همدومره محکمه او همدومره له مینې او معنویت ډکه ده.

که له دې راتېر شو چې د لوی هند تر زړه پورې د اسلام بیرغ د محمود غزنوي په لاس رسېدلی و، نو تاریخ شاهد دی چې په دې هواره او زرخیزه سیمه د زر کلن اسلامي حاکمیت تداوم د

غوريانو، ايبک او التمش خاندان، خلجيانو، لوديانو او سوريانو د وينو او خولو مرهـون دی، هغـوی چـې پـه يـو نـه يـو ډول يـې د افغانستان له مردخيزې جغرافيې سره تړاو درلود.

په معاصر تاريخ کې که د احمد شاه بابا د پـاني پـت حماسـه نـه وای، نو د هند د مسلمانانو وروستۍ تکيې ( بابري دولت) له خپل وخت نه سل کاله وړاندې د سقوط شرايط پوره کړي وو. د احمـد شاه بابا او علامه شاولي الله صاحب ليک راليک، د ميسـور لـه ټيپو سلطان او د بنګال، اړيسـه او بيهـار لـه نوابـانو سره د شـاه زمان مکاتبې، له شاه محمد اسمعيل او سيد احمد شهيد نه د امير دوست محمد خان تـود هرکلـی او د مولانـا عبيداللـه سـندهي پـه مشرۍ د وريښمين دوسمال تحريک او جلاوطنه حکومت څخه د امير حبيب الله کوربتوب د دې زر کلنې دوستۍ هغه وروسـتۍ پردې دي چې تاريخ په خپله حافظه کې ځای ورکړی.

خو غرني افغانسـتان همـوار هنـد تـه يـوازې صـف مـاتوونکي غازيان، رسا ويشتونکي سپاره او نه ماتيدونکې فاتحـان نـه دي ډالۍ کړي. بلکې د علم او عرفان په برخه کې يې هم په دې خاوره پيرزوينې درلودلې دي. د چشتيه او نقشـبنديه مجدديـه روحـاني

کورنیو غونډې د هند د اکثرو علمي او روحاني سلسلو ریښې بیرته تر افغانستان پورې رسیږي.

بالمقابل افغانستان هم د لوی هند له علمي، روحاني او فرهنګي ثروت او ظرفیتونو څخه په پراخه پیمانه علمي او عرفاني استفاده کړې ده. په خاص ډول له اوومې هجري پیړۍ وروسته چې د افغانستان علمي مراکز هم د ماوراء النهر د علمي بنسټونو په شان د چنګیزي تاړاک د آسونو تر څوو لاندې دل شول، له دې تاړاک نه په څنګ پاته هند د حنفي ـ ماتریدي منهج د علمي، کلامي، فکري او روحاني مرکزیت اعتبار خپل کړ.

بیا به که د افغانستان علماء کرامو د حنفي فقهې متعبر کتاب الهدایه لوست نو په بیاض یې د هند د ملا الهداد حاشیو پام جلباوه. د مشکات مغلقات یې د محدث دهلوي ( مولانا عبدالحق) په اشعة اللمعات حل کول،په تصوف کې یې د حلول عقیده د امام رباني شیخ احمد سرهندي په مکتوباتو رد کوله او د کلیوالي مدرسو د طالبانو په لاسونو کې درسي کتابونه او شروح لکه نور الانوار، سلم العلوم، مسلم الثبوت، شمس البازغة، قاضي، حمدالله او ډېر نور د هندي علماء کرامو لکه ملا احمد جیون، قاضي محب الله بهاري، عبدالحکیم سیالکوټي، ملا محمود

جونپوري، نظام الـدين السـهالوي، عبـدالحی اللکنـوي، قـاضي محمد مبارک، مولوی حمدالله سـنديلوي او نـورو تصـنيفات وو. اما دغه علمي افاده او استفاده يو اړخيزه نه وه، ځکه که ژور نظر وشي هندي علماوو اکثر هغه قواعد او متون تشريح کـړي چـې د افغانستان د علماوو لکه سعد الدين تفتـازاني، ميـر سـيد سـند او نورو پښتانيو علماوو په لاس ليکل شوي يا وضع وو.

د بابري دولت له سقوط او پر هند د انګريزي اشغال له پيـل سره د دې وېره موجود وه چې دغه د علـم او عرفـان زانګـو بـه خـدای مکړه د مسلمانانو دوهم اندلس وي. خـو دا د ديوبنـد د مؤسسـينو مولانا محمد قاسم نانوتوي او مولانا رشيد احمد ګنګوهي په شان دردمنې هستۍ وې چې نه يوازې د هند د مسلمانانو بلکې د ټولې جنـوبي اسـيا د مسـلمانو ولسـونو عقيـدوي، فکـري او فرهنګـي خونديتوب يې تضمين کړ. هغوی د دارالعلوم ديوبند په نـوم يـوه داسې مدرسه تأسيس کړه چې د استعمار او باطلو فرقو لـه اذيـت څخه يې سوچه او منل شوي حنفي ــ ماتريدي منهج ته نجات ورکړ.

دارالعلوم ديوبند په هند کې د يوه لوی علمي، روحاني او فکري تحريک پيلامه شو، ورپسې د همدې سلسـلې نـورې کـړۍ لکـه مظاهر علوم سهارنپور او نـدوة العلـماء لکهنـو پـه شـان مـدارس تاسيس شول. دې مدارسـو د شـيخ الهنـد او علامـه شـبير احمـد

عثماني غونډې خلک وروزل چې کابلی تفسیر یې زموږ د ټـولنې تر ټولو معتبره ژباړه او مشهور تفسیر ګڼل کیږي. همدلته مولانـا خلیل احمد سهارنپوري تربیه شو چې په المهند علی المفند کې یـې ماتریدي عقیـده لـه سره تعریـف او پـه سـنن ابـوداود یـې د بـذل المجهود په نوم نړیواله پیژندل شوې شرحه ولیکله. همدلته مولانـا محمود الحسن ګنګوهي مدرس و چې امت تـه یـې پـه ۳۱ ټوکـه کې فتـاواې محمودیـه وړانـدې کـړه. همدلتـه علامـه انـور شـاه کشمیري د تدریس په مسند تکیه وهلـې وه چـې عـرب او عجم علماء یې نبوغ ته ګوته په غاښ و او بالاخره همدې علمي تسلسل علي میان مولانا ابوالحسـن عـلي نـدوي وزیـږاوه چـې د عجمـو علماوو د تندې آب ګڼل کیده.

لکه وړاندې چې وویل شول د دارالعلوم دیوبنـد پـه پـیروي پـه ټول بر صغیر کې د ورته مدارسو د تأسیس لړۍ پیل شوه. همـدا مدارس و چې د انګریزي سل کلـن اشـغال پـه تـورتم کـې یـې د برحقې اسلامي عقیـدې، سـوچه فکـر او فرهنـګ پیلـوزی بـل سـاتلی و او مسلمانان یې نسل په نسل له د غربي فرهنګي یرغل له تاثیراتو ساتل.

په دې سلسله کې له افغانستانه هم ډېر د علم تږي له دې چینـې اوبه شوي دي. د افغانستان د سپین ږیرو علماوو ژوندلیکونه کـه ګورئ داسې په کې ډېر پیدا کیږي چـې پـه دیوبنـد کـې د شـیخ

الهند، علامه کشمیري یا مولانا حسین احمد مدني د تلمذ ویاړ لري. دا هم مسلمه ده چې د افغانستان د اکثرو فارغو علماء کرامو د احادیثو د سند سلسله په دیوبند یا سهارنپور ورځي او بیا تر شاه محمد اسحاق، شاه عبدالعزیز او شاه ولي الله محدث دهلوي پورې رسیږي.

که د دیوبند علماء کرامو د دیني تعلیماتو او مفاهیمو د ساتنې، تشریح او تبیین لپاره خولې تویې کړې، نو زموږ د هیواد علماوو او طلباوو بیا د همدې دین د حفاظت لپاره د تن وینې قربان کړې دي. همدغه د اشتراک نقطه ایجابوي چې د افغانستان د علماوو او دارالعلوم دیوبند تر منځ همیشنۍ اړیکې رامنځته او دغه هیره شوې تاریخي خپلوي راتازه شي.

دارالعلوم دیوبند ته د افغانستان د بهرنیو چارو د وزیر سفر د دې تاریخي دوستۍ د راژوندي کولو یوه ښه پیلامه ګڼل کیدای شي. باور لرم چې د دارالعلوم دیوالونو او درسګاوو به د افغان هیئت د ځانګړي مسنون سیرت او صورت، ږیرو او لونګیو په لیدو د حال په ژبه ویلي وي چې:

یو ځلې بیا په دې لار راشه

په پخوانو پلونو دې پرېوتل ګردونه

## دیوبند: د هند هغه سیمه چې د افغانستان طالبانو ورسره فکري تړاو لري




سید عبدالله نظامي، دنده،بي بي سي، ۲۰ تله ۱۴۰۴ - ۱۲ اکتوبر ۲۰۲۵




د طالبانو حکومت د بهرنیو چارو وزیر امیر خان متقي هند ته د خپل سفر یو مهم تم ځای دیوبند دارالعلوم ټاکلی و. هلته په رسېدو يې خورا تود هرکلی وشو.

ښاغلي متقي په خپلو خبرو کې وویل له دې ځای سره اړیکې یوازې مذهبي اړه نه لري "سیاسي او تاریخي ویاړلې اړیکې شته".

د طالبانو حکومت د بهرنیو چارو وزارت د درېیم ریاست مشر ذاکر جلالي وایي "دواړه هېوادونه کولای شي د دارالعلوم دیوبند د دغې تاریخي رابطې له لارې د دوه اړخیزو اړیکو په فرهنګي او فکري ډګر کې یو نوی باب پرانیزي. دا به نه یوازې د علمي همکارۍ سبب شي، بلکې د سیمې د اعتدال، دیني دقیق فهم، او متقابل درناوي د فضا پیاوړتیا ته به هم لاره هواره کړي." د طالبانو ډېرو پلویانو دیوبند ته د ښاغلي متقي د ورتګ ستاینه کړې.

د طالبانو د غورځنګ یو پلوی لیکوال عبدالستار سعید، دیوبند مدرسه کې د امیر خان متقي د هرکلي په تړاو لیکلي "دغه استقبال یوازې رسمي او تشریفاتي نه دی، بلکې صمیمیت او معنویت په کې له ورایه ښکاري. د دارالعلوم دیوبند علماء او طلباء داسې احساسوي لکه کوم ورک نادرک خپلوان یې چې له ډېرو مودو وروسته کور ته راغلی وي او اوس نه پوهېږي څنګه، په کومه ژبه او کومو احساساتو یې هرکلی وکړي."

دا داسې مهال دی چې افغانستان کې د طالبانو حکومت او پاکستاني دولت ترمنځ اړیکې تر بل هر وخت ترینګلې دي. پاکستان په تېرو دوو لسیزو کې د طالبانو د وسله وال فعالیت په ملاتړ تورنېده خو اوس د دواړو خواوو ترمنځ ترنګلتیا تر بل هر

وخت ناسازي خوا ته روانه ده. او له دیوبنده په لیدنه کې هم ښایي پاکستان ته یوه نغوته وي.

دیوبند فکري بهیر

دیوبند دارالعلوم یوه اسلامي مدرسه ده چې د هند د اتر پردېش ایالت په سهارنپور ولسوالۍ کې د دیوبند په ښارګوټي کې موقعیت لري. دې مدرسې له هند او د نړۍ د سویلي اسیا د هېوادونو لوی دیني عالمان روزلي دي. دا مدرسه د ۱۸۰۰ کلونو په وروستیو کې د سید محمد عابد، فضل الرحمن عثماني، مهتاب علي دیوبندي او نورو لخوا جوړه شوه.

دیوبندیه بیا یو سني اسلامي غورځنګ دی چې اسلامي فقه او حنفي مذهب خپله لار ګڼي. د دغه غورځنګ بنسټ د نولسمې پېړۍ په پای کې د هند په دیوبند ښار کې د همدغې لوی دینې مدرسې په شاوخوا کې کېښودل شو چې له بېلابېلو سیمو په کې زدکوونکي په زدکړو بوخت وو، او نوم یې هم له همدغه سیمې سره وتړل شو.

دغه غورځنګ د محمد قاسم نانوتوي، رشید احمد ګنګوهي، اشرف علي تهانوي، او خلیل احمد سهارنپوري په څېر مشرانو له لوري، د ۵۸-۱۸۵۷ کال د هند پاڅون په ترڅ کې د برتانیایي

نیواک پر وړاندې رامنځته شو. دیوبند په سویلي اسیا کې پر مسلمانانو د نا اسلامي کلتوري اغېزو مخالفت وکړ او هڅه یې وکړه چې دودیزې اسلامي لارښوونې وپالي.

دغه غورځنګ د ۱۹۱۹ په نومبر کې د جمعیة علماء هند سیاسي او مذهبي ډلې بنسټ کېښود. دوی د هند بېلابېلو ډلو ته د یوالي بلنه ورکوله چې په هند کې د بریتانوي پوځي د حضور پر وړاندې یو موټي شي.

د "جمعیة علماء هند" عالمانو په ځانګړې توګه هند کې د کلتوري تنوع پر مسایلو ډېر پام ساته او د هند د وېش له مفکورې سره یې مخالفت کاوه، ځکه دوی باور درلود چې په یو متحد هند کې د مسلمانانو د مذهبي آزادۍ ساتنه ډېره مهمه ده.

دا فکري بهیر یوازې په هند کې دننه پاتې نه شو. تر افغانستان او ان سویلي افریقا هم ورسېد.

د ۱۹۴۷ کال د هند له وېش وروسته، د سیاسي لاملونو له کبله د پاکستاني او افغان څانګو اړیکې د هند له اصلي مرکز سره کمې شوې دي.

د دیوبند پر لارویانو له لویه سره نیوکه کېږي چې تر ډېره په دودیزو مضمونونو تمرکز ساتي او عصري علومو، انګرېزۍ ژبې

او نوې ټیکنالوژۍ ته ارزښت نه ور کوي، چې لـه املـه یـې لـه زدکړو وروسته ډېر کسان د اوسـنۍ نـړۍ د اقتصـادي او فکـري ننګونو پر وړاندې له ستونزو سره مخامخېږي.

په ډېرو دیوبندي مدرسو کې د نجونو د زده کړو محدودیت یا له عصري زدکړو د دوی جلا کول، د بشري حقونو او ښـځو د ازادۍ د فعالانو سختې نیوکې پاروي. د ډېرو کارپوهانو بـاور دا دی، د طالبانو حکومت هغه پرېکړه چې د نجونو پر لـوړو زدکـړو بنـدیز لګـوي، تـر ډېـره لـه همـدې فکـري ریښـو سرچینـه اخـلي.


د طالبانو حکومت د بهرنیو چارو وزارت

اوس مهال په پاکسـتان کـې د دیوبنـد د نظریـې ځینـې سـخت دریځه لاررویان د "بریلوي" او "اهل حدیث" په څېر له نـورو سـني فرقو او شیعه مسلمانانو سره په عقیدوي مناظرو او جنجالونو کې ښـکېل دي، چـې ډېـر کلـه فرقـه ییـز تـاوتریخوالی هم پـه کـې

پېښېږي. پر دوی دا نیوکه هم کېږي چې د مذهبي تنوع په اړه د دیوبند د بنسټګرو پېروي نه کوي.

دیوبند اوس د یوه فکر او ایډیالوژۍ بڼه غوره کړې او د سویلي اسیا په ډېرو هېوادونو کې زرګونه پلویان لري. دوی کې د تصوف د لارې ځینې سوله پالې ډلې هم شته چې پر تاوتریخوالي باور نه لري. ځینې د وسله والو فعالیتونو پلوي دي او وسله وال هم لري.

**له دیوبند سره د طالبانو تړاو:**

افغانستان کې د طالبانو د غورځنګ بنسټګر مشر ـ ملا محمد عمر او نور لوړ پوړي مشران یې، جلال الدین حقاني، شیخ عبدالحکیم او نژدې ټولو مهمو مشرانو یې د پښتونخوا په اکوړه خټک حقانیه دارالعلوم کې زدکړې کړي.

حقانیه مدرسه د پاکستان له جوړېدو یوه میاشت وروسته د ۱۹۴۷ کال په سپټمبر کې جوړه شوه. بنسټګر یې شیخ عبدالحق و چې د خپل پلار مولانا معروف ګل یوه وړه مدرسه یې په یوه لوی دیني مرکز بدله کړه. هغه په دیوبند کې زدکړې کړې وې او هلته څه موده د استاد په توګه هم پاتې شوی و. د شیخ عبدالحق له مړینې وروسته زوی یې مولانا سمیع الحق او لمسي یې حامد الحق د جمعیت علمای پاکستان د سیاسي او مذهبي ډلې مشري

او د حقانیه مدرسې پالنه هم کوله.دا ګوند د هند د جمعیت علمای هند یو خانګ و چې د پاکستان له بیلتون وروسته د دغه هېواد پر یوه ګوند بدل شو او پاکستاني دولت یې بشپړ ملاتړ کاوه.

په ۱۹۸۰ کلونو کې چې د شوروي خلاف جګړې ته د افغان مجاهدینو لیکې پیاوړې کېدلې، د پاکستان د پوځي مشر-جنرال ضیاالحق له لوري تر ۱۰۰۰ ډېرې دینې مدرسې جوړې شوې چې لویه برخه یې پښتونخوا کې وې. حقانیه مدرسه یوه له هغو مرکزونو وه چې لویه پانګونه پرې کېده.

مولوي عبدالغني چې په پښتونخوا کې یې زدکړې کړي وایي، "افغانانو لپاره دا مدرسه ځکه مهمه وه چې له دیوبند سره زموږ اړیکې پخوانۍ وې او دا د دیوبند یوه اصلي څانګه بلل کېده." هغه وايي دیوبند زموږ د خلکو لپاره یوازې یوه مدرسه نه ده، یو فکر او دا چې ایډیالوژي ده.له ۲۰۰۱ کال وروسته چې امریکا په افغانستان کې پوځي حضور درلوده، حقانیه مدرسې د طالبانو د وسله والو فعالیتونو ملاتړ کاوه. په ۲۰۲۱ کې د طالبانو له بیا واکمنېدو وروسته چې د پاکستان او افغانستان کې د طالبانو حکومت اړیکې خړې پړې شوې، حقانیې مدرسې د خپلې اغېز ثابتولو هڅه وکړه خو ډېر بریالي نه و.




**د حقانيه مدرسې يوه مرستيال رشيد الحق هغه مهال نيويارک ټايمز ورځپاڼې ته ويلي وو، "دا د مدرسې لپاره يو وياړ دی چې فارغان يې اوس وزيران دي او د طالبانو په حکومت کې لوړې دندې لري". خو وروسته داسې بربښېده چې د پاکستان د دولت پيغام د حقانيه مدرسې له لارې د طالبانو مشرانو ته په اغېزناک ډول نه رسېده.** د نجونو د زدکړو په اړه هم د اکوړه خټک حقانيې مدرسې له خپله اړخه دا څرګنده کړې وه د طالبانو د ټول تګلارو ننګه نه کوي.

**د ۲۰۲۳ په جنورۍ کې د حقانيه مدرسې سمبالګر مشر ـ مولانا حامد الحق بي بي سي ته وويل، "افغانستان کې د نجونو پر زدکړو د طالبانو محدوديتونه پر لوېديځ د فشار لپاره دي او له اسلام او کولتور سره څه تړاو نه لري".**

د ۲۰۲۵ کال د اکتوبر پر ۱۱مه د طالبانو حکومت د بهرنیو چارو د وزیر سفر او په دیوبند کې یې پراخ هرکلی افغانستان کې د طالبانو د غړو سترګې له پاکستانه هند ته کږې کړې او ډېرو دغه پخوانی بنسټ د اړیکو یو مهم مرکز یاد کړ هغسې چې د طالبانو د بهرنیو چارو وزارت یوه چارواکي ذاکر جلالي ویلي "د افغانستان د بهرنیو چارو د وزیر وروستی سفر دیوبند ته او هغه تود هرکلی چې افغان پلاوي ته ورکړل شو، دا ژور تاریخي پیوند بیا ژوندی کړ. اوس تر بل هر وخت زیات دا فرصت شته چې دغه علمي او روحاني رابطه له سره احیا شي. دارالعلوم دیوبند کولای شي د افغانستان د شرعي علومو له مرکزونو سره په تدریس، تبادله او علمي همکاریو کې رغنده رول ولوبوي".

که څه هم د دیوبند پخوانی نوم او ځواک هغسې پاتې نه دی او د هند حکومت تر سخت فشار لاندې پایي خو سمبولیک ارزښت یې د ډېر وخت لپاره ساتل کېدلی شي.

دا پیوند او تړاونه هغسې چې د هند او پاکستان په ویش کې اغېزمن شوي داسې ښکاري چې په اوږده موده کې به لاهم د ډیلي، اسلام اباد او کابل د واکمنو په تګلارو کې ډېر ثبات ونه لري او دغه مذهبي ادرس ته به ډېر کله د سیاست په عینکو کې کتل کېږي.

# د کابل د برید پر سبا ورځ پاکستان کې خونړۍ جګړې او بریدونه

## د برید سبا ورځ پر پاکستان توره شپه وه!

کله چې پاکستاني پوځ پر کابل برید وکړ، نو د کابل جان د خاوره چې د صحابه کرامو، اولیاوو، عالمانو او مجاهدینو څخه ډکه ده، نو پر سبا ورځ یې د پاکستان څخه څو چنده غچ واخېستل شو.ډېرې اسماعیل خان خونړۍ جګړه کې ۷۵ پوځیان ووژل شول

**رسنۍ: په ډېره اسماعیل خان کې د پولیسو پر روزنیز مرکز ډلهییز برید لسګونو تنو ته مرګ ژوبله اړولې**



دېره اسماعیل خان کي د تېرې شپې برید له امله ۵۰ پاکستاني پولیس وژل شوي

تاند ( شنبه د تلې – میزان ۱۹مه) پاکستاني سرچینو رسنیو ته خبر ورکړی چې د کوزې پښتونخوا په دېره اسماعیل خان کې د پولیسو پر روزنیز مرکز د بریدونو په پایله کې شاوخوا ۵۰ پاکستاني پولیس وژل شوي دي. دا برید تېره شپه له یو ځانمرګي برید وروسته پیل شو. بل لورته بیا یو ... Continue reading

تاند تاند 0

تاند (شنبه، د تلې/ میزان ۱۹ مه) پاکستاني رسنیو راپور ورکړی چې په ډېره اسماعیل خان کې د پولیسو پر روزنیز مرکز ډله ییز برید له شپږو ساعتونو وروسته، د شپږو بریدګرو او د اوو پولیسو د وژل کېدو په پایله کې پای ته رسېدلی دی.

د راپورونو له مخې، په دې برید کې ۱۳ تنه ټپیان شوي او شاوخوا ۲۰۰ پولیس له مرکز څخه روغ ایستل شوي دي. برید د یو موټر بم په چاودنه پیل شوی و.

پاکستاني رسنیو ویلي چې دا برید د دغه هېواد د تحریک طالبان (TTP) له لوري د ډیره اسماعیل خان د راتا کولاچي په سیمه کې شوی دی. بریدګرو لومړی له چاودېدونکو موادو ډکه لاری د پولیسو د روزنیز مرکز له اصلي دروازې سره ټکر کړې او چاودنه یې کړې چې له امله یې د دیوال یوه برخه ړنګه شوه او یو پولیس ووژل شو.

له چاودنې وروسته، بریدګرو چې د پولیسو یونیفورم یې اغوستي وو، د مرکز انګړ ته ننوتل او بېهدفه ډزې یې وکړې. یو بریدګر د لاسي بم په واسطه ووژل شو. د پولیسو او وسله والو بریدګرو ترمنځ سخته نښته څو ساعته روانه وه، او بریدګرو څو ځله لاسي بمونه وکارول.

د راپورونو پر بنسټ، د پاکستان د پولیسو او امنیتي ځواکونو ګډ عملیات د شپږو ساعتونو وروسته پای ته ورسېدل او ټول شپږ بریدګر ووژل شول. پاکستاني چارواکو ویلي چې له

بریدګرو څخه د ځانمرګو واسکټونه، چاودېدونکي مواد او مهمات ترلاسه شوي دي.

په دې برید کې ۱۳ نور کسان هم ټپیان شوي چې ټول د روزنیز مرکز کارکوونکي او زده‌کوونکي دي. نژدې ۲۰۰ کسان د مرکز له ودانۍ خوندي ایستل شوي دي.

د پولیسو یوه لوړپوړي افسر، صاحب‌زاده سجاد احمد، تأیید کړې چې د پېښې سیمه تصفیه شوې او د لا نورو پلټنو عملیات روان دي.

د راپورونو له مخې، په «اتحاد المجاهدین پاکستان (IMP)» پورې تړلو اکاونټونو د برید مسوولیت منلی او ویلي یې دي چې بریدګرو د هغو کامرو په وسیله، چې په ځانونو پورې یې تړلې وې، دا برید په ژوندۍ بڼه خپراوه.

په همدې حال کې، په ټي ټي پي پورې تړلو اکاونټونو د هغو یوټیوبرانو، خبریالانو او د اېکس (پخوانی ټویټر) کاروونکو سکرین‌شاټونه خپاره کړي چې د پېښې د تلفاتو شمېر یې په ناسم ډول تر ۵۰ تنو پورې ښودلی و.

دا برید یوه د هغې شپې پر سبا وشو، چې پاکستان پر کابل هوایي برید وکړ.

په همدغه ورځ بل خونړی برید :


افغانستان انټرنشنل
پروګرامونه افغانستان نړۍ ښځې کلتور او ټولنه معلومات او ټېکنالوژي سپورت

تي تي پي: په خیبر پښتونخوا کې مو په بېلابېلو بریدونو کې اته امنیتي کسان وژلي دي

د خیبرپښتونخوا په تېرا کې د پوځیانو پر پوستو تحریک طالبـان مجاهدین ورختلي دي، او ۱۴پوځیان یې پکې وژلي دي.

په همدغه ورځ :

د پلوڅو مجاهدینو په لاس ۱۵ پوځیان نیول شوي او بیـا حـلال شوي دي.

په دغه ورځ بل خونړی برید :

په باجوړ ایجنسی کې د تحریک طالبانو زمریان پر پوځي چـونۍ (بالاحصار ) ورننوتلي دي او۲۴ پوځیان یې پکې وژلي دي.



**په همدغه ورځ لاهور کې:** د تحریک لبیک د لاسه تر ۱۱۲زیاتو پولیسو او پوځیانو ته مرګ ژوبه ور اوښتې ده، چې یو راپور یې رانقلوو:




د تحریک لبیک پاکستان لخوا د سازمان شوي لاریون ګډونوال چې له پنجابه د پلازمېنې اسلام اباد پر لور ښوخېدلي، لاهور ته نږدې مریدکې ښار ته رسېدلي دي .

د لاهور امنیتي چارواکي وايي، له دغو احتجاج کوونکو سره تازه اخ‌وډب کې ۱۱۲ پولیس سرتېري ټپیان شوي او لسګونه نور بېدرکه دي.دوی اندېښنه ښيي چې بېدرکه پولیس به د لاریون د ګډونوالو لخوا یرغمل نیول شوي وي.

له دې سره تحریک لبیک پاکستان بیا ادعا کوي چې د پولیسو له اړخه د زور او ځواک د کارېدو پایله کې د دوی لسګونه غړي

ټپیان شوي دي.تحریک لبیک د څو کسانو د وژل کېدو ادعا هم کړې، خو بي‌بي‌سي په خپلواک ډول دا ادعا نشي

تحریک لبیک پاکستان له لاهور تر اسلام اباد پورې د 'فلسطین میلیوني مارچ' او په اسلام اباد کې د امریکا د سفارت مخې ته د احتجاج اعلان کړی.



**د سترې معرکې اتل**




افغانـــان د هیچـــا د زور پــه وړانــدې پــه ملا نه دي خم شوي.
هرچـــا یـــې چـــې حوصـــلې ازمـــایلې مات شوي دي.
قـاري فصـیح الـدین فطرت لوی درستیز



« صــحیح ده مــوږ بــه داســې توغنــدی ونلــرو چــې اســلام ابــاد پــری وولــو، خــو دلتــه سـل میــتری کــی دی یــو عسکر هم ولاکه ژونـد رانه وکړی».
حاجي مالي خان
د لوی درستیز مرستیال

# د غچ اخيستنې بريدونه
# د مابنام په ۸ بجې پيل شول

# د معرکې له ډګره خبرونه!

د انتقام اخېستنې بريدونه چې د اسلامي امارت زعيم عاليقدر اميرالمؤمنين شيخ القران والحديث مولوي هبة الله اخندزاده حفظه الله تعالى په هدايت د اسلامي امارت دفاع وزير مولوي محمد يعقوب مجاهد په قومانده د ډېورنډ په تپلې کرښه ۲۷ځايه د تکبير په يو غږ پيل شول، سپکې او درنې وسلې پکې وکارېدلې، د پاکستاني پوځيانو ۲۵پوستې ونيول شوې غنيمتونه ترې راوړل شول، او پوستو ته اورونه واچول شول، او طالب ځواکونه له کرښې ها غاړې پوځيانو پسې لاړل، تر دې چې د شپې پر ۱۲بجو د قطر، سعودي عربستان په وړاندېزونو اسلامي امارت قيادت لخوا جګړه ودرول شوه، او تر سهار اذان پورې بېرته طالب ځواکونه له کرښې راواوښتل، چې يو څو بېلګې يې دا دي:

پکتيا : د اريوب ځاځيو کې له درو محاذونو ګوى، سپينه شګه، ماڼې جبې څخه پر پنجابي دښمن چټکه جګړه وشوه، چې په يو ځل يې درې پوستې ترې فتحه کړې، او غټې وړې اسلحې يې غنيمت کړې، او زيات پوځيان يې ووژل او ژوندي يې هم ترې راوستل، او مجاهدين تر کرښې واوښتل، تر هغې چې ترې منګل سيمې ته پسې ورسېدل.

او هلته یې د داعش پټن ځایونه هم له منځه یوووړل، سهار لمانځه مهال مجاهدین بېرته خپلو پخوانیو مورچلونو ته راورسېدل.

او په دې جریان کې یې د ګوي لویه دروازه هم په ټانګ پسې راټړلې او کوټکي بازار ته یې راوړې چې اوس هم دلته پرته ده.

او د دې ترڅنګ یې د ګوي کټارونه، جالونه او اغزن سېمونه هم راکټ کړي او موټرو کې یې ترې راوړي دي. د جګړې راپور رسنیو هم خپور کړ: تازه خبر


ځایي سرچینې طلوع‌نیوز ته وایي، د پکتیا په اریوب ځاځیو ولسوالۍ کې د افغان پوله ساتو او پاکستاني لوري تر منځ څو شېبې وړاندې نښته پیل شوې او لا هم دوام لري.

د سرچینې په خبره، دغه نښته د اریوب ځاځیو په سپینه شګه، ګیوي، منې جبه او د ډیورنډ فرضي کرښې ته څېرمه سیمو کې رامنځته شوې ده.#طلوع‌نیوز

#خبرتازه ! منابع محلی به طلوع‌نیوز می‌گویند که دقایقی پیش درگیری میان نیروهای امارت اسلامی افغانستان و طرف پاکستان در ولسوالی آریوب زازای ولایت پکتیا آغاز شده و هنوز هم ادامه دارد. به گفته منابع، این درگیری در مناطق سپینه‌شگه، گیوی، منی‌جبه و نواحی نزدیک به خط فرضی دیورند رخ داده است. #طلوع‌نیوز د یادونې ده چې اریوب کې یوازې د زغنې پوستې ۱۴پنجابیان وژل شوي دي.


د پکتیا په اریوب ځاځیو کې د افغان پوله ساتو
او پاکستاني ځواکونو ترمنځ نښته روانه ده
طلوع نیوز
www.tolonews.com


11:25 pm
11:25 pm
11:25 pm
11:25 pm




شړنګهار جوړ کړئ، د غشو او د توروزلمو
کندې ډکې کړې د وخت په دې مغرورو زلمو

ډنډې پټان ځاځي:

ځايي خلک وايي، د پکتيا په ډنډ پټان ولسوالۍ کې هم له پاکستاني لوري سره نښته پيل شوې او خلک له خپلو سيمو د تېښتې په حال کې دي.

دوی وايي، پاکستانی لوري په سترو وسلو ملکي ځايونه په نښه کوي. ورته مهال سرچينې طلوع‌نيوز ته وايي، د خوست په ځاځي ميدان ولسوالۍ کې هم له پاکستاني لوري سره جګړه روانه ده. #طلوع‌نيوز



خوست: مېدان ځـاځي چـې پـه هـر حکومـت او پېـر کـې یـې دپاکستان ډیورنډ کرښې او خاصکر د اغزن تار پرېکولو کې ویاړ لري، دا ځل یې هم مجاهدینو اغزن تارونه او کټارونه پرېکړي دي او مجاهدینو پوستې فتحه کړې او هغې غاړې ته په دښمن پسـې وراوښتي دي.ځیني علمیات یې رسنیز شوي هم دي، له:

دفاع وزارت کې سرچینو طلوع‌نیوز ته ویلي چـې د افغانسـتان اسلامي امارت ځواکونو له پاکستاني ځواکونو سره په نښتو کې ځینې پوستې نیولي دي. د سرچینې په خبره، پـه کـونړ او هلمنـد ولایتونو کې هم د فرضي کرښې هاغې غاړې ته یوه یوه پوسته له منځه تللې ده. #طلوع‌نیوز




Khost Mili · Follow
3h
د خوست ولایت د ځاځي میدان ولسوالۍ د پالوګې په سیمه
کې دوه تنه پاکستاني پوځیان د جګړې پر مهال په تېښته حالت
کې ژوندي نیول شوي دي
د خوست ولایت مقام ویاند مستغفر ګربز ویلي یاد پوځیان اوس
د افغان ځواکونو سره په ولکه کې دي او د پېښې په تړاو نور
جزئیات به وروسته له رسنیو سره شریک شي
خوست په ځاځي میدان ولسوالۍ په پالوګه
کې دوه پاکستاني پوځیان ژوندي نیول شوي


تازه خبر
افغان ځو/اکونه ځاځی میدان کې
له اغزن تار اووښتي
Afghan Vibe

خوست کې د ط.البانو ځایي سرچینو ویلي د جګړې پرمهال یې اته پاکستاني پوځیان وژلي او دوه تنه یې ژوندي نیولي.

له خوست ولایت څخه ځایي سرچینې خبر ورکوي، چې ددغه ولایت په ځاځي میدان کې ط.الب ځواکونو اغزن سیم پرې کړی او هاغاره پوستې یې نیولې دي. د ط.البانو له منځه ځینې سرچینې ادعا کوي، چې هلته په نښتو کې یې د پاکستاني لوري اته تنه پوځیان وژل شوي دي.

سرچینې زیاتوي چې له یوې پوستې یې اته میله وسله هم غنیمت کړې ده. د خوست د ط.البانو د والي ویاند مستغفر ګربز وایي، چې د دغه ولایت په ځاځي میدان ولسوالۍ کې یې دوه پاکستاني پوځیان ژوندي نیولي.



پکتیکا: د پکتیکا ولایت د برمل په ولسوالۍ کې هم د ډېورنډ پر فرضي کرښې په ډېر شدت سره جګړه شوې، طالبانو د پنجابیانو ځخه پوستې نیولې، او انګور اډې دروازه یې په بمونو الوځولې ده.





ننګرهار:

په ختیځ کې د طالبانو د 201 خالد بن ولید قول اردو چارواکي وايي چې د ننګرهار د اچین په «باندر» او د دور بابا ولسوالۍ په «ماشین ناو» سیمو کې یې د پاکستاني ځواکونو پر وړاندې جګړه پیل کړې ده.


له دې قول اردو څخه په خپره شوې خبرپاڼه کې راغلي چې جګړه کې د پاکستاني ځواکونو امنیتي پوستې تر نیول کېدو وروروسته په بمونو الوزول شوې دي.

خبرپاڼې زیاته کړې چې دغه راز یې د کونړ ولایت په «غاښي کنډو» او ځینو نورو سیمو کې هم پر پاکستاني پوستو بریدونه پیل کړي، خو د تلفاتو په اړه یې څه نه دې ویلي.

طالبانو ویلي دا بریدونه یې پر کابل د پاکستان د وروستیو بریدونو په غبرګون کې پیل کړي دي.

له دې سره-سره طالبان خبر ورکوي په هلمند، کندهار، پکتیا او د کونړ په ماڼوګي کې یې هم پر پاکستاني پوله ساتو بریدونه کړي دي او له هغوی سره په سختو جګړو اخته دي.

طالبانو په ځينو دې بريدونو کې د پرمختګ او د پاکستاني پوله ساتو د امنيتي پوستو د نيولو ادعاوې هم کړې دي، خو تر اوسه يې خپلواک پخلی نه دی شوی



کونړ: په کونړ کې هم د ناړۍ ولسوالۍ کې پر پاکستاني پوځیانو په چټکه توګه جګړه وشوه، چې یو شمېر پوستې یې ترې فتحه او پوځیان یې پکې ووژل.

کندهار:

د کندهار په معروف ولسوالۍ کې هم زمریانو پر ګېدړذاتو پنجابیانو سخت بریدونه کړي او شپږ غلیمان یې وژلي دي.



**هلمند:**

**د افغانستان اسلامي امارت سرحدي ځواکونو د هلمند په بهرامچه کې هم د پاکستاني ځواکونو پر وړاندې جګړه پیل کړې ده.**

**د هلمند د اطلاعاتو او فرهنګ رییس حافظ راشد هلمندي طلوع‌نیوز ته و ویل، چې جګړه د بهرامچې ولسوالۍ په شکیج، بي بي جاني او صالحان سیمو کې روانه ده.**

#طلوع‌نیوز



**پاکستانۍ رسنۍ: طالبانو د پاکستان ۲۰ پوستې نیولي دي!**

په کابل کې د یوې خبري غونډې پر مهال ذ.بي.ح الله م.جا..هـد




ادعا وکړه چې د "جوابي عملیاتو" پـر مهـال دوی د پاکســتان ۲۰ پوستې نیولې وې، خو جګړه تـر پـای وروسـته بېرتـه ورسـپارل شوې دي۔

د ذ.بیح .الله م.جا.هد د دې ادعا په اړه د پاکستان پوځ تر اوسـه هېڅ غبرګون نه دی ښودلی۔

ذ.بیح. الله م.جا.هد تور ولګاوه چې د داعش مشر پـه پاکســتان کــې دی او دا ډلــه اوس هــم د پاکســتان پــه خیبرپښــتونخوا او بلوچستان ایالت کې فعاله ده۔

هغه وویل: "په افغانستان کې د.ا.ع.ش له منځه وړل شـوې ده، خو په پاکستان کې د دې ډلې روزنیـز مرکزونـه شـته. نـو ځکـه نړیواله ټولنه باید دې موضوع ته پاملرنه وکړي."

ذ.بیح .الله م.جا.هد ادعا وکړه چې په افغانستان کـې وروسـتی برید هم د د.ا..ع.ش کار و، او د دې ډلې جنګیـالي لـه پاکسـتانه راغلي وو.

هغه زیاته کړه چې د افغانستان د بهرنیو چارو وزیر هند ته سفر د هېڅ هېواد پر ضد نه دی، او هېڅ هېواد ته پکار نه دي چې پرې اندېښنه ولري.


Salam Watandar · Follow
1h

د اسلامي امارت ویاند ذبیح‌الله مجاهد وایي، د دیورند فرضي کرښې په اوږدو کې د اسلامي امارت ځواکونو د تېرې شپې عملیاتو کې ۵۸ پاکستاني نظامیان وژل شوي او ۳۰ نور ټپیان دي.

هغه وویل، دغو عملیاتو کې د پاکستاني پوځ ۲۵ پوستې هم نیول شوي او د هغوی ګن شمېر پوځي مهمات د اسلامي امارت د ځواکونو لاس ته ورغلي.

ښاغلي مجاهد زیاته کړه چې جګړه کې ۹ مجاهدین هم وژل شوي ۱۶ ټپیان دي.

#سلام‌وطندار

# پر ډیورنډ د طالبانو ستره جګړه




نن ټکی اسیا (یکشنبه، ۲۰ تله ۱۴۰۴): د پاکستان پوځ د یوې خبرپاڼې په خپرولو سره منلې چې تېره شپه د افغانستان له لوري د ډیورنډ کرښې په اوږدو کې د دوی پر پوځي مراکزو بریدونه شوي چې په ترڅ کې یې ۲۳ تنه عسکر وژل شوي او ۲۹ تنه نور ټپیان شوي دي.

طالبانو ویلي چې دوی د افغانستان د حریم د نقضولو او په برمل کې د بمبار په غچ کې تېره شپه د ډیورنډ کرښې په اوږدو کې په مختلف ولایاتو کې هم مهاله بریدونه تر سره کړل چې په ترڅ کې خپل اهداف تر سره کړل او د قطر او سعودي په منځګړیتوب یې جګړه بس کړه.




د پاکستان پوځ ومنله چې په فرضي کرښه باندې له افغان ځواکونو سره د تېرې شپې نښتو کې یې ۲۳ پوځیان وژل شوي.

د ۲۹ ټپیانو راپور هم ورکړل شوی.

اسلامي امـارت خبر ورکړی چې تر دې دمه ۵۸ پاکستاني نظامیان وژل شوي او ۳۰ تنه نور ټپیان شوي. او ۲۵پوستې فتحه شوي دي.

## د جګړې ځینو تلفاتو انځوریزې پېلګې:


دا چې د جګړې ځانګړی راپور او معلومات محترم ذبیح الله مجاهد صیب په ګوته او تشریح کړي دي، دلته یې ځینې مواد چې په خواله رسنیو لاس په لاس کېدل، رانقلوو:

بي بي سي لیکي: چې د پاکستان پوځ منلې، چې ۵۸ پوځیان یې وژل شوي، او تر ۱۰۰ زیات شدید زخمیان دي:






1971 کې
بنګال😂
Pakistan Army's Pants removing
ceremony during 1971 surrender
2025 کې
افغانستان


بېړنۍ
د پاړه چينار روغتونونو کې بېړنۍ
حالت اعلان شو
@HINDUKUSH_O
WWW.HINDUKUSHPA.COM








پا.کستان ملي ما.تم اعلان کړ
facebook/mashalvoice








نورو
تازه خبر







# د پاکستاني پوځیانو لخوا پر ولسي خلکو بریدونه

TOLOnews
10h ·

د هلمند د اطلاعاتو او کلتور رییس، راشد هلمندي طلوع‌نیوز ته وویل چې پاکستاني خواکونو نن (یکشنبه) د هلمند د بهرامچې ولسوالۍ د حاجي حلیم کلي کې پر ولسي خلکو د هاوان برید کړی چې له امله یې یو ولسي وګړی شهید شوی او بل ژوبل دی.
#طلوع‌نیوز



# پاکستاني پوځيانو ۷ ولسي افغانان نيولي او وژلي دي!



اطلاعات روز: له هلمند څخه ځايي سرچينې وايي خبر ورکوي چې د پاکستان پوله ساتونکو ځواکونو اووه ځوانان هغه مهال په ډزو وژلي چې هغوی غوښتل د بهرامچې ولسوالۍ ته واوړي.

د سرچينو په وينا، دا پېښه نن (دوشنبه، ۲۱ د تلې) مازديګر مهال رامنځته شوې خو سرچينې د وژل شويو کسانو هويت نه دی په ډاګه کړی خو دومره ويل شوي چې ټول د هلمند ولايت اوسېدونکي وو.بل لور ته له سيمې ځيني ځايي خبريالان راپور ورکوي چې دا کسان لومړی د پاکستاني ځواکونو له لوري نيول شوي او وروسته وژل شوي دي.

## د اسلامي امارت تلفات

د اسلامي امارت د دین او خاورې ساتونکو مجاهدینو ته اوښتو تلفاتو کې ۷ مجاهدین په شهادت رسېدلي دي او یو تر ۲۰ پورې زخمیان دي، چې له هغې جملې څخه یو هم دا نازولی شهید دی. چې ټول ملت یې د احسان پوروړی وګرځاوه.



چې په برج یې بله خښته نه ځاېږي
شهادت مو تر اسمانه پورې دنګ دی

# د غچ اخیستنې بریالي بریدونه
# په ۱۲بجې پای ته ورسېدل

## مجاهد: پر فرضي کرښه جګړه د قطر او سعودي عربستان په غوښتنه و درول شوه

د ایران، قطر او سعودي عربستان په ګډون ځینو هېوادونو د کابل او اسلام‌اباد ترمنځ پر فرضي کرښه جګړې ته غبرګون ښودلی او ټینګار یې کړی چې ستونزې باید په معقول ډول د خبرو له لارې حل شي. دغو هېوادونو په جلا جلا اعلامیو کې ویلي، د سولې او ثبات د ټینګښت په موخه د ټولو سیمه‌ییزو او نړۍوالو هڅو ملاتړ کوي.

د قطر د بهرنیو چارو وزارت په اعلامیه کې راغلي: «د بهرنیو چارو وزارت له دواړو خواو غواړي چې خبرو، ډیپلوماسۍ او زغم ته لومړیتوب ورکړي او هڅه وکړي چې د اختلافاتو د مهار لپاره داسې لارې غوره کړي چې د تاوتریخوالي د پراختیا مخه ونیسي، څو سیمه‌ییز ثبات او امنیت تامین شي».

د ایران د بهرنیو چارو وزارت ویلي: «د بهرنیو چارو وزارت ویاند ټینګار وکړ، چې د ایران اسلامي جمهوریت د خپلې شاوخوا سیمې سولې او ثبات ته ځانګړې پاملرنه کوي او چمتو دی چې د دواړو ګاونډیو او اسلامي هېوادونو ترمنځ د ترینګلتیا کمولو لپاره هر ډول مرسته وکړي».

د سیاسي چارو کارپوه، سید قریب‌الله سادات په دې اړه و ویل: «د جګړې دوام په دغه راز شرایطو کې د هر هېواد په زیان دی او یوازینۍ حل لار په پاکستان کې د افغانستان او افغانستان کې د پاکستان د سفارت له لارې تفاهم دی».

په ورته مهال د اسلامي امارت ویاند پـه یـوه خـبري غونـډه کـې ویلي چې د قطر او سـعودي عربسـتان پـه غوښـتنه دغـه نښـتې درېدلې؛ خو خبرداری یې ورکړی، که پاکستان بیا کوم اقدام وکـړي، نو د اسلامي امارت له لوري به ورته مناسب ځواب ورکړل شي.

د اسلامي امارت ویاند، ذبیح‌الله مجاهد په دې اړه و ویل: «قطر او سعودي عربستان دواړو د جګـړې د بندېـدو غوښـتنه وکـړه او اسلامي امارت جګړه ودروله؛ خو نن سهار موږ داسې راپورونـه تر لاسه کړل چې د پاکستان له لوري بریدونه شوي دي. که دغـه بریدونه دوام وکړي، افغانستان د خپلې د دفاع حق لري».

بل لور ته د پاکستان ولسمشر اصف علي زرداري ویلي، هېواد یې د خپلو ګټو او ځمکنۍ بشپړتیا دفاع ته ژمن دی.

د دغه هېواد د بهرنیو چارو وزیر اسحاق ډار او د کورنیو چـارو وزیر محسن نقوي ادعا کوي، چې د اسلامي امـارت د ځواکونـو له لوري پر پاکستان بریدونه له نړۍوالو قوانینو ښکاره سرغړونه ده.


صف علي زرداري ويلي: «د افغانستان له خاورې د هند د ملاتړو ډلو له لوري ترسره کېدونکي بريدونه يو مستند شوی واقيعت دی، چې دا خبره د ملګرو ملتونو د امنيت شورا د پرله‌پسې څېړنيزو راپورونو له لوري تاييد شوې ده».

د افغانستان اسلامي امارت د بهرنيو چارو وزير امير خان متقي، چې دا مهال په هند کې دی، د افغانانو د يووالي يادونه کړې او ويلي يې دي: "که څه هم د افغانانو ترمنځ ښايي کورني اختلافات وي خو که يو بهرنی هېواد د دوی په چارو کې لاسوهنه وکړي، نو ټول خلک، علما او حکومتي مشران يو موټی کيږي او يوځای ورته دريږي».

د افغانستان او پاکستان ترمنځ دا ترينګلتيا وروسته تر هغې راپورته شوه چې پاکستان د افغانستان حريم تر پښنو لاندې کړ او پر پکتيکا يې هوايي بريدونه وکړل.

ورپسې د اسلامي امارت د ملي دفاع وزارت د غچ اخيستنې په موخه د ډيورنډ فرضي کرښې په اوږدو کې د پاکستان پر امنيتي پوستو بريدونه پيل کړل، چې د يکشنبې شپې تر دولسو بجو يې دوام وکړ.

## د افغانستان پر خاوره د پاکستاني د هوايي برید په ځواب کې بریالي انتقامي عملیات وشول.




کورپاڼه دولت او سیاست نړۍ سوداګري ویډیو لوبې

دولت او سیاست | دولت

ملي دفاع وزارت: د افغانستان پر خاوره د پاکستان د هوايي برید په ځواب کې بریالي انتقامي عملیات وشول

اکتوبر 12, 2025 | 90




ملي دفاع وزارت وايي، چې د اسلامي امارت ځواکونو د پاکستاني پوځ له لوري په مکرر ډول د افغانستان د حریم نقضولو او د افغانستان پر خاوره د هوايي برید په ځواب کې د

ډيورنډ فرضي کرښې په اوږدو کې د پاکستاني امنيتي ځواکونو پر مراکزو انتقامي بريالي عمليات وکړل.

د ملي دفاع وزارت په وينا، دغه عمليات تېره شپه ۱۲ بجې پای ته ورسېدل.

ياد وزارت دغه راز ګواښ کړی، چې که مقابل لوری بيا د افغانستان حريم نقض کړي زموږ ځواکونه د خپل حريم دفاع ته چمتو دي او کلک ځواب به ورکړي.

پاکستاني پوځ د تېرې جمعې پر شپه يو ځل بيا د افغانستان هوايي حريم نقض کړ. د ډيورنډ کرښې ته څېرمه د پکتيکا په مرغې ساحه کې يې پر يو ملکي بازار بمبار وکړ او د پلازمېنې کابل قلمرو يې هم نقض کړ.

د افغانستان اسلامي امارت ملي دفاع وزارت د يوې اعلاميې په خپرولو سره دغه عمل د افغانستان او پاکستان په تاريخ کې يو بې‌ساري، له تشدد ډک او کرغېړن اقدام ياد کړ او په کلکو ټکو يې وغانده.

دغه‌راز ګواښ يې وکړ، چې له خپل حريم څخه دفاع زموږ حق دی او له دې اقداماتو وروسته که وضعيت هر څومره ترينګلی کېږي عواقب به يې د پاکستان پوځ ته راجع وي.

نن شپه بیا د اسلامي امارت ځواکونـو پـه ځـواب کـې د ډیورنـډ فرضي کرښې په اوږدو کې د پاکستاني پوځ پر مراکزو انتقـامي بریالي عملیات وکړل.

دا عملیات د افغانستان په ختیځ ولایت کونړ، سویل ختیځ خوست، پکتیا، پکتیکا او په سویلي هلمند ولایتونو کې شوي دي.

په دې عملیاتو کې پاکستاني لـوري تـه درانـه ځـاني او مـالي زیانونه اوښتي دي

د هلمند ولایت مقام ویاند مولوي محمد قاسم ریاض ویلي، چـې تېره شپه د دې ولایت د بهرامچې ولسوالۍ اړوند د ډیورند فرضي کرښې په اوږدو کې د انتقامي عملیاتو پر مهال د اسلامي امارت د ځواکونو له لوري ۱۵ پاکستاني سرتېري وژل شوي دي.

د ښاغلي ریاض په وینا، د اسلامي امـارت ځواکونـو دغـهراز د پاکستاني پوځ درې امنیتي پوسـتې نیـولې او د دوی یـو شـمېر وسلې یې هم د غنیمت په توګه ترلاسه کړې دي.



# د هېواد پر فرضي کرښه وضعیت تر بشپړ کنټرول لاندې دی

ملي د افغانستان ملي راډيو تلويزيون ژوندۍ کورپاڼه دولت او سیاست نړۍ سوداګ

مولوي ذبیح‌الله مجاهد: د هېواد پر پولو او فرضي کرښه وضعیت تر بشپړ کنټرول لاندې دی

اکتوبر 12, 2025 14



د افغانستان اسلامي امـارت ویانـد مولـوي ذبیح‌اللـه مجاهـد د حکومت د اطلاعاتو او رسنیو په مرکز کې د وروستیو پېښـو پـه تړاو په خبري کنفرانس کې ویلي، چې د افغانستان په ټولو رسمي

پولو او فرضي کرښه کې وضعیت تر بشپړ کنټرول لاندې دی او د غیرې قانوني کړنو مخه نیول شوې ده.

نوموړي ټینګار کړی، چې پر افغانستان تېري کوونکو ته غاښماتوونکی ځواب ورکول کېږي.

دغه‌راز د افغانستان اسلامي امارت د ملي دفاع وزارت د خپلو شته امکاناتو څخه کار اخلي، تر څو د ټولو پولو او فرضي کرښې اپراتیفي پوښښ لا پیاوړی شي. په دې وروستیو کې یادې موخې ته د رسېدو لپاره د افغانستان اسلامي امارت د ملي دفاع وزارت یو لړ ځانګړي اقدامات تر کار لاندې نیولي دي.

د ښاغلي مجاهد په خبره، په عمومي توګه د افغانستان امنیتي وضعیت د ډاډ وړ دی او په ډېر بهتر حالت کې قرار لري. همدارنګه د افغانستان په ټوله جغرافیه کې هېڅ ډول تهدید شتون نه لري او په تیرو اتو میاشتو کې کومه د پام وړ سیاسي امنیتي پیښه نه ده را منځته شوې.

له دې مخکې کوم لوی او واړه بریدونه چې د افغانستان په ګاونډ کې د فتنې او فساد له مراکزو څخه تنظیم او ترسره شوي وو د هغو ټول عاملین نیول شوي او یا وژل شوي دي.

مولوي ذبیح‌الله مجاهد زیاته کړې، چې موږ د سیمې او نړۍ له هېوادونو سره د اسلامي شریعت په رڼا کې د خپل هېواد او خلکو علیا مصالحو او ملي ګټو ته په کتو ښه تعاملات او ښـه مفاهمـه لرو، د ستونزو د حل په برخه کې لومړیتوب تفاهم ته ورکـوو، پـه تفاهم باور لرو او په دې برخه کې ښې لاسته راوړنې هم لرو.

دغه‌راز اوس په پیاوړې توګه دا درک را منځ ته شـوی، چـې د افغانستان امنیت او ثبات د سیمې او نړۍ د امنیت او ثبات لپاره یو حیاتي ارزښت لري.

د ښاغلي مجاهد په وینا، د افغانستان په ګاونډ کـې ځینـو خاصـو کړیو ته په افغانستان کې موجود بهـتره امنیتـي وضـعیت او پـه سیاسي، اقتصـادي او ټـولنیزو برخـو کـې پرمختګونـه خونـد نـه ورکوي او په افغانانو یې نه لورېږي، نو ځکه یې یو لړ دسیسو ته مخه کړې ده. دا ځانګړې کړۍ د پاکستان په پوځ کې یوه حاکمه ډله ده.

زموږ د معلوماتو له مخې باوري یو، چې د دوی لـه افغانسـتان ضد سیاستونو سره د پاکستان اکثره نظامیان، سیاسیون، احـزاب، علماء کرام او د پاکستان متدین ولس هیڅ توافق نه لري او هغوی پخپله هم د دې مستبدې کړۍ له خپلسرـو او دیکتاتورانـه کړنـو څخه تر پوزو راغلي دي. همدې خاصې کړۍ په افغانستان کې د تشویشونو د ایجاد لپاره یو لړ اقدامات پیل کړي دي.

# د انتقامي بریدونو مثالي پایلې

## په انتقامي عملیاتو کې ۵۸ پاکستاني پوځیان وژل شوي

ژوندۍ کورپانه دولت او سیاست نړۍ سودا

مولوي ذبیح‌الله مجاهد: په انتقامي عملیاتو کې ۵۸ پاکستاني پوځیان وژل شوي

اکتوبر 12, 2025 10



د اسلامي امارت ویاند مولوي ذبیح‌الله مجاهد ویلي، چې د هېواد په بېلابېلو ولایتونو کې د ډیورنډ فرضي کرښې په اوږدو کې د افغان سرتیرو په انتقامي عملیاتو کې ۵۸ پاکستاني پوځیان وژل شوي او شاوخوا ۳۰ نور ټپیان دي.

ښاغلي مجاهد زیاته کړې، په دې عملیاتو کې تر شلو ډېرې پوستې نیول شوې او وسلې او نور پوځي مهمات هم تر لاسه شوي دي.

مولوي ذبیح‌الله مجاهد یو ځل بیا د افغانستان د ځمکني او هوايي حریم پر دفاع ټینګار کړی او ویلي یې دي، چې پر افغانستان تېرې کوونکو ته غاښ‌ماتوونکی ځواب ورکول کېږي.

د اسلامي امارت ځواکونو د پاکستاني پوځ له لوري په مکرر ډول د افغانستان د حریم نقضولو او د افغانستان پر خاوره د هوايي برید په ځواب کې تېره شپه د ډیورنډ فرضي کرښې په اوږدو کې د پاکستاني امنیتي ځواکونو پر مراکزو انتقامي بریالي عملیات وکړل.



که تور اوربل مې مېراتېږي

په وطن ننګ دی لالی نه منع کومه

## له افغان پوله ساتو ځواکونو د هېوادوالو پراخ ملاتړ او پر پاکستان نیوکې



د ډیورنډ پر فرضي کرښه د افغانستان اسلامي امارت ځواکونو او پاکستاني پوځیانو ترمنځ له نښتو وروسته، هېوادوال د اسلامي امارت د ځواکونو په ملاتړ ټینګار کوي او وايي، د پاکستان له لوري د افغانستان د هوايي حریم سرغړونه په کلکو ټکو غندي.

دوی وايي، د خپلو امنیتي سرتېرو ترځنګ ولاړ دي او په هر ډول حالاتو کې یې ملاتړ کوي.

د کندهار اوسېدونکي محب‌الله و ویل: «که اړتیا وي، موږ به هم د مجاهدینو او د اسلامي امارت له اردو سره د جګړې ډګر ته لاړ شو».

د کابل اوسېدونکي، فرشتې و ویل: «له امنیتي ځواکونو مننه کوو؛ هغوی تل د هېواد ساتنه کړې، موږ به تل د دوی ترځنګ ولاړ یو او هر څه چې مو په وس وي، له هغوی سره به همکاري کوو».

ځینې نور هېوادوال له نړۍوالو بنسټونو غواړي، چې د افغانستان له حریم د پاکستان پرله‌پسې سرغړونې په جدي توګه وڅېړي.

د دوی په باور، د هېواد د ځمکنۍ بشپړتیا ساتنه د ټولو ګډه مسوولیت دی او نړۍوال بنسټونه باید په دې برخه کې جدي پاملرنه وکړي.

د پکتیا اوسېدونکی، بیت‌الله په دې اړه وایي: «اسلامي امارت ښه ځواب ورکړ؛ د پاکستان پر وړاندې ټول ولس د دوی تر څنګ ولاړ دی».

د کابل اوسېدونکي، عبدالغفور و ویل: «موږ د اسلامي امارت، د خپل هېواد او خپلې خاورې دفاع کوو؛ هېڅ بهرني دا حق نه لري چې زموږ په خاوره کې لاسوهنه وکړي».

د هېواد په بېلابېلو ولایتونو کې خلکو د اسلامي امارت د ځواکونو ملاتړ اعلان کړی او ټینګارېې کړی، چې د ملي حاکمیت دفاع او د هر ډول بهرني تېري ځواب د افغان ولس مشروع حق دی.

د پکتیا اوسېدونکی، کابل جان په دې اړه وایي: «اسلامي امارت نه غواړي له چا سره دعوه وکړي خو پاکستان پر موږ ظلم کوي».

د کابل اوسېدونکي، ګل‌محمد و ویل: «موږ له نړۍوالې ټولنې غواړو چې د پاکستان د دغه راز کړنو مخه ونیسي».

د افغانستان او پاکستان د ځواکونو ترمنځ تېره شپه (یکشنبه) د فرضي کرښې په اوږدو کې سخته جګړه پیل شوه او د شپې تر ۱۲ بجو یې دوام وکړ.

د افغانستان اسلامي امارت دفاع وزارت وایي، د غچ اخیستنې په نوم دغه عملیات یې پر پکتیکا د پاکستان د برید او د دغه هېواد له لوري د افغانستان د هوایي حریم د نقض په غبرګون کې کړې دي.




د افغان ملت اصلي وارثان

يا عابدَ الحَرَمينِ لوْ أبصرْتَنا

لَعلمْتَ أنّك في العبادةِ تَلْعبُ

# د اسلامي امارت ویاند: مولوي ذبیح الله مجاهد خبري کنفرانس


کورپاڼه دولت او سیاست نړۍ سودا

ژوندۍ

د وروستیو پېښو په تړاو د مولوي ذبیح‌الله مجاهد خبري کنفرانس!

اکتوبر 12, 2025 4

**بسم الله الرحمن الرحیم**

الحمدلله الذي نصر عبده، و أعز جنده، و هزم الأحزاب وحده. لا اله الا الله وحده لا شريكه له، له الملک و له الحمد، و هو على کل شیئ قدیر، اما بعد:نن غوارم د افغانستان د ټولو پولو او فرضي کرښې د امنیت، د افغانستان د عمومي امنیتي وضعیت او

فرضي کرښې ته نږدې د فتنې او فساد د ځينو خوځښتونو پـه اړه يو لړ توضيحات او غوښتنې ولرم.

الحمدلله د افغانستان په ټولو رسمي پولو او فرضي کرښه کـې وضعيت تر بشپړ کنټرول لاندې دی. تر ډېره بريده د غيـر قـانوني کړنو مخه نيول شوې او د افغانستان اسلامي امارت د ملي دفاع وزارت د خپلو شته امکاناتو څخه کار اخلي، تر څو د ټولـو پولـو او فـرضي کرښـې اپراتيفـي پوښـښ لا پيـاوړی شي. پـه دې وروستيو کې يادې موخې ته د رسيدو لپاره د افغانستان اسلامي امارت د ملي دفاع وزارت يو لړ ځانګړي اقدامات تر کار لانـدې نيولي دي.

الحمدلله په عمومي توګه د افغانستان امنيتي وضعيت د ډاډ وړ دی او په ډېر بهتر حالـت کـې قـرار لـري. د افغانســتان پـه ټولـه جغرافيه کې هيڅ ډول تهديد شتون نه لري، په تيرو ۸ مياشتو کې کومه د پام وړ سياسي امنيتي پيښه نه ده را منځته شـوې او لـه دې مخکې کوم لوی او واړه بريدونه چې د افغانستان پـه ګاونـډ کې د فتنې او فساد له مراکزو څخه تنظيم او تـرسره شـوي وو، د هغو ټول عاملين د لوی الله په نصرت نيول شـوي يـا وژل شـوي دي. ځينې مغرضې کړۍ له تيرو څو اونيو را پديخوا هڅه کـوي،

چې د افغانستان د خلکو ذهنیت مغشوش، ګډوډ او د افواهاتو او پروپاګند په خپرولو سره تشویشونه ایجاد کړي، د افغانستان متدین ولس باید ډاډه واوسي او دې افواهاتو ته اعتبار ورنه کړي. موږ د سیمې او نړۍ له هیوادونو سره د اسلامي شریعت په رڼا کې د خپل هیواد او خلکو علیا مصالحو او ملي ګټو ته په کتو ښه تعاملات او ښه مفاهمه لرو او د ستونزو د حل په برخه کې لومړیتوب تفاهم ته ورکوو او په تفاهم باور لرو او په دې برخه کې ښې لاسته راوړنې هم لرو. اوس په پیاوړې توګه دا درک را منځته شوی، چې د افغانستان امنیت او ثبات د سیمې او نړۍ د امنیت او ثبات لپاره یو حیاتي ارزښت لري.

داسې بریښي چې متأسفانه د افغانستان په ګاونډ کې ځینو خاصو کړیو ته په افغانستان کې موجود بهتره امنیتي وضعیت او په سیاسي، اقتصادي او اجتماعي برخو کې پرمختګونه خوند نه ورکوي او په افغانانو یې نه لوریږي، نو ځکه یې یو لړ دسیسو ته مخه کړې.

دا ځانګړې کړۍ د پاکستان په پوځ کې یوه حاکمه ډله ده. زموږ د معلوماتو له مخې باوري یو چې د دوی له افغانستان ضد سیاستونو سره د پاکستان اکثره نظامیان، سیاسیون، احزاب، علماء

کرام او د پاکستان متدين ولس هيڅ توافق نه لري او هغوی پخپله هم د دې مستبدې کړی له خپلسرو او ديکتاتورانه کړنو څخه تر پوزو راغلي. همدې خاصې کړی په افغانستان کې د تشويشونو د ايجاد لپاره يو لړ اقدامات تر لاس لاندې نيولي.

١ .په نړيوال ستيج په هر پلټفورم کې د افغانستان او افغانستان اسلامي امارت په اړه پروپاګند کوي، د تشويشونو د ايجاد هڅې کوي او منفي تأثرات خپروي.

٢ .کاذب اطلاعات توليدوي او د هغو چينلونو له لارې يې، چې د نړۍ د فريب لپاره يې را منځته کړي، تر هيوادونو رسوي. دا کاذب اطلاعات زياتره د افغانستان څخه د امنيتي تشويشونو په ايجاد را ټول وي او دا يې اوس يوه سوداګري ګرځيدلې.

٣ .د افغانستان او پاکستان د شريفو ملتونو تر منځ د فاصلې د زياتولو او نفرتونو د ايجاد هڅه کوي او غواړي د اسلامي امارت په اړه د پاکستان د متدين ولس ذهنيت خراب کړي او د پاکستان امنيتي ستونزې چې اصلي عامل يې د همدې کړۍ ناسم سياستونه دي، افغانستان ته منسوب او خپله ناکامي پټه کړي، دې کړۍ د پاکستان د امنيتي ستونزو د حل لپاره ټولې منطقي او معقولې هڅې سبوتاژ کړې او کلک مخالفت ورسره لري، دوی

اصلا یوه ځانګړې اجنډا مخته وړي او نه غواړي سیمه په بشپړه توګه له تاوتریخوالي او جګړې څخه پاکه شي.

۴ .د افغانانو په منځ کې ډول ډول توپیرونو ته لمن وهي او غواړي ځینې افغانان په خپل دام کې را ګیر او د افغانستان د ملي امنیت په ضد یې وکاروي، دوی ته د ناسم فکر او کاذبې روحیې د ورکولو هڅې کوي.

۵ .په دې مهمه زماني مقطع کې چې افغانستان ځینې سیاسي او اقتصادي پرمختګونه تجربه کوي، له افغانستان سره په فرضي کرښه کې شخړو ته لمن وهل، د افغانستان د هوایي قلمرو نقض او کرښې ته نږدې په عامه ځایونو بمباری چې الحمدلله هر ځل غابښ ماتوونکی جواب ورکول شوی او دا دې ټولو ته جوته وي چې افغانستان له خپل ځمکني او هوایي حریم څخه د دفاع حق لري او کوم تیری بې جوابه پرینږدي.

٦ .په خپله خاوره کې یې د داعش پروژې په موجودیت او پټنځایونو باندې سترګې پټې کړې دي، چې هم خپل دیني علماء کرام او خلک پرې وژني، هم د افغانستان او هم د نړۍ امنیت او ثبات پرې تهدیدوي او خطرناکه لوبه یې پیل کړې ده. تاسې ته بهتره معلومه ده چې کله افغانستان تر اشغال لاندې و، د هیواد په

ختیځو ولایتونو کې د داعش د فتنې ظهور د کرښې هغې خوا د اورکزیو له ساحې څخه وشو. په سر کې یې د سعید خان په نامه یو پاکستاني وګړي قرار لاره او په لښکر کې یې د پاکستان د مختلفو صوبو څخه سلګونه وګړي شامل وو. د اسلامي امارت مجاهدین له یوې خوا له اشغالګرو سره په مبارزه بوخت وو او له بلې خوا یې د همدې فتنه ګرې ډلې پر ضد د خپلې اسلامي عقیدې پر اساس او د مظلومو افغانانو د نجات لپاره مبارزه او جګړه کوله.

اسلامي امارت له فتحې مخکې او وروسته د دې فتنه ګرې ډلې پر ضد، چې د اسلام او جهاد د بدنامۍ لپاره را منځ ته شوې وه او د دیني مراکزو او خوځښتونو په ضد کار ترې اخیستل کیږي سخته مبارزه وکړه او ډیرې قربانۍ یې ورکړې او بالاخره یې فتنه ګر وځپل او خپله خاوره یې د دوی له وجود څخه پاکه کړه. د دې فتنه ګرې ډلې پاتې غړي په خیبر پښتونخوا او بلوچستان کې، خپلو اصلي سیمو ته وتښتیدل او هلته یې نوي پټنځایونه او مراکز ایجاد کړل. د نړۍ له بیلابیلو هیوادونو څخه یې جلب او جذب پیل کړ او کوم کسان یې چې استخدامول هغه یې د پاکستان له غربي پولې او د کراچۍ او اسلام اباد له هوایي

ډګرونو څخه خپلو مراکزو ته را انتقالول، چې بیا یې تکفیري فکر او د قتل عامونو او تخریبي کړنو روزنه ورکوله.

موږ ته د کره ثبوتونو د رسیدو او دقیقو استخباراتي معلومـاتو له مخې، په تهران کې د سردار سلیماني په تلین ترسره شوی برید، په مسکو کې ترسره شوی برید له همدې مراکزو څخه پلان، تنظیم او ترسره شول، چې هغه هېوادونه هم پرې خبر دي.

همدغه راز په افغانستان کـې پـه دینـي علماء کرامـو، امـارتي شخصیتونو، مجاهدینو او عامو خلکو زیات خـونړي بریدونـه پـه همدې مراکزو کې پلان او له همدې مراکزو څخه تنظیم او تـرسره شـوي. بریـدګر او تنظیمـوونکي یــې لـه همـدې مراکـزو څخـه افغانستان ته را لیږل شوي وو، چې پـه دې اړه کـافي شـواهد او اسناد موجود دي.

مثلا: په کابل کې په شیخ رحیم الله حقاني صاحب تقبله الله؛

په هرات کې په شیخ مجیب الرحمن انصاري صاحب تقبله الله؛

د اهل تصوف په ځینو خانقاوو او مساجدو؛ پـه هـرات، غـور او کابل کې.

د اهل تشیع په ځینو مساجدو، زیارت کوونکو

او په کابل کې د هندوانو په معبد بریدونه؛ په کندهار او کندوز کې د افغانستان بانک په څانګو .

او په کابل کې د بهرنیو چارو وزارت په کارکونکو دوه ځله مرګوني بریدونه؛

د فرامینو او حکمونو د تعقیب او نظارت د لوی ریاست په کارکوونکو بریدونه؛

د بلخ په والي شهید حاجي مزمل تقبله الله؛

د مهاجرینو په وزیر شهید الحاج خلیل الرحمن حقاني تقبله الله؛

د ښهرسازۍ وزارت پر مرستیال،

د نیمروز د ولایت په مقام

او د بدخشان په ولایت کې پر امنیه قوماندان، مرستیال والي؛

د کانونو او پټرولیم پر رییس تقبلهم الله

او یو شمیر نورو مسؤلینو، مجاهدینو او عامو خلکو بریدونه؛ په کابل کې د چینایانو پر هوټل، د روسیې پر سفارت، په بامیانو ولایت کې پر خارجي سیلانیانو او په تخار کې پر چینایي وګړو بریدونه او دې ته ورته نور...

زموږ د دقیقو اطلاعاتو له مخې ځايي وسلوالو چې د (۲۰۲۵) کال په (فبروري )میاشت کې د بلوچستان په مستونګ سیمه کې چې د ساعین بالفساد یا داعشي فتنه ګرو په پټنځایونو او مراکزو کوم برید ترسره کړی وو هلته يې تر دیرشو پورې داعشي فتنه ګر وژلي وو، چې د یو شمیر مسؤلینو په شمول ځینې خارجي اتباع هم پکې شامل وو او ځینې اروپايي پاسپورټونه هم له همدې مراکزو لاس ته ورغلي وو، تحلیل دا ده چې اروپایي اتباع همدلته راغلي، روزل شوي او بیرته د بریدونو لپاره اروپايي او نورو هیوادونو ته استول شوي.

همدغه راز خاص اطلاعات د دې ښودنه کوي چې دا فتنه ګره ډله بیا په همدې مراکزو کې د تنظیمیدو په حال کې ده او په پلان کې لري چې هم په خارج کې او هم په افغانستان کې بریدونه ترسره کړي او دا ځل کیدای شي په خارج کې په بریدونو کې د تاجکستاني اتباعو په ځای د نورو هیوادونو له اتباعو څخه کار واخلي ځکه تاجکستاني اتباع زیات افشا شوي.

سربیره پر دې زموږ د اطلاعاتو له مخې د داعش د خراسان څانګې مشر شهاب المهاجر او د ده نږدې همکاران عبدالحکیم توحیدي، سلطان عزیز عزام او د داعش له مرکزي څانګې سره د

اړیکو تنظیموونکی او په اصطلاح د مکتب صدیق مسؤل صلاح الـدین رجـب د پاکسـتان پـه خـاوره کـې موجـود او پـټ دي، د افغانستان اسلامي امارت په جدي توګـه غوښـتنه کـوي چـې دا اشخاص یا اسلامي امارت ته وسپارل شي او یـا دې د پاکسـتان حکومت له خپلې خاورې څخه اخراج کړي او پـه دې توګـه دې د پاکستان حکومت خپل مسؤلیت ترسره او خپلې ژمنې پوره کړي.

همدا راز دې افغانستان پر وړانـدې لـه منفـي برخـورد، د حـریم نقضولو او نورو پارونکو کړنو لاس په سره شي، کنه یادې کړنـې به په طبیعي ډول خورا منفي او نا مطلوب عواقب ولري.




وَأَعِدُّوا لَهُمْ مَا اسْتَطَعْتُمْ مِنْ قُوَّةٍ

# پاکستان د پرغلګرو کرایې دفتر او د خوارجو پلاژمېنه ده

له دې حقیقته هېڅوک سترګې نشي پټولی، چې پاکستان چې کله هم د انګلېس یرغل له لارې زېږېدلی دی، په سېمه کې د اسلامي وحدت، او امن لپاره د امریکې او برېتانیې د اجرتي سنګر په توګه کارېدلی دی. دا هم له چا پټه نده چې داعش د اوباما زېږانده ډله ده، چې د منځنۍ اسیا او خاصتاً د اسلامي امارت او القاعدې مجاهدینو د ځپنې په موخه یې راجوړه کړه، چې دې فتنې په سوریه کې هم ډېر سپېڅلي مجاهدین په شهادت ورسول، البته د افغانستان په سرزمین کې دا فتنه د اسلامي امارت سپېڅلو غازیانو د سختې قربانۍ په نتېجه کې په نطفه کې خنثا شوه، خو دا چې کله امارت د پاکستان غلامۍ په لومو کې رېیر نشو، نو د فشار آلې په توګه پاکستان خپل ټول کوشش وکړ، چې افغانستان یوځل بیا په د جګړې په ډګر بدل کړي، خو الله تعالی یې دا ارمان خاورې ایرې کړ. البته یو څو کسان یې د مختلفو حربو له لارې دومره استخدام کړل، چې زمونږ یو څو د سر سړي یې رانه جلا کړل، چې هغوی ته د اسلامي امارت ویاند مولوي مجاهد صیب هم اشاره کړې ده.

# له ما دې ډېر د سر سړي خوړلي!

پښتو کې متل دی چې سمندر چې څومره ژور وي هومره خاموش وي، د اسلامي امارت قیادت ډېر ژور، حوصله ناک، هوښیار، او د یو لوی ملت او امت مشرۍ صلاحیتونه او استعدادونه لري، ځکه هغه پېښې چې د نیمې نړۍ مشران یې نشي زغملای دوی یې د یو لوی ارمان په هدف په پراخه سینه په زړه تېروي. دا چې اوس پر پاکستان د لیونتوب لړې راغلې دي، خپل تېر د راتلونکي په هېنداره کې ګوري، او هغه کرغېړن اعمال چې دوی په اویا کلونو کې د افغانستان سره ترسره کړي دي، د هغوی د محاسبې توان نلري، او نه د افغان ملت د وحدت او ارام په کتلو کې د دوی ژوند ، سکون او د خولې ډوډۍ پاتې کېږي، بلکې دوی ډېرې لسیزې د افغانستان د هجرتونو، جهادونو ، زخمونو، وینو او دردونو په بدل کې له قاتلانو او مقتولانو اجرتونه ترلاسه کړي دي، له موټروۍ نېولې، تر اېټمونو پورې یې ټولې شتمنۍ د افغانستان ملت د وینو او اوښکو قیمتونه دي، د همدې له وجې د فرعون دغه اولاد په هېواد کې د موسی لاروی، د سر سړي راپرېښودو دمه نده کړې، او دغه ادم خور وخت په وخت زمونږ د ارمانونو پسرلي، د زړونو غمي او د سر سړلي

خوړلي دي. چې دلته د رئيس الـوزرا مولـوي ربـاني، وزيردفـاع ملاعبيدالله ، د افغانستان لويه سرمايه استاذياسر او نـورو درنـو شخصيتونو د شهادتونو او وحشتونو يادونه نکـوم، چـې دوی پـه ښکاره او سپينه ورځ رانه وړي دي، بلکې د هغه يو شهيد يادونه کوم، چې د درديدلو افغان مهاجرينو مهربان او ملنګ وزير چې د داعش په لاس يې را شهيد کړ.

## پر ستر جهادي شخصيت، مهاجرينو وزير

## د امت شهيد الحاج خليل الرحمن حقاني بريد

څرنګه چې د اسلامي امارت وياند په نن‌ني خبري کنفـرانس کـې وويل چې د افغان مهـاجرينو وزيـر شـهيد الحـاج خليـل الـرحمن حقاني تقبله الله د پاکستان د داعشي ځناور په وسېله شهيد شو، او دی د زرګونو افغان مجاهدينو په څېر د هېواد سـترغازی او مصـلح شخصـيت پـر وژنـه د تاريخ تور قاتل وګرځېد.




## له جهادي افوقه يوځلانده ستوری پرېوت!

شهيد الحاج خليل الرحمن حقاني نړدې د نيمې پېړۍ راهېسې د هر باطل پر وړاندې د جهادي ميدان يو نوميالی مشر شخصيت و.

زخمونه، بندونه ، هجرتونه او رنگارنگ تکليفونه يې گاللي دي، شهيد له افغانانو سره په هره سخته کې ولاړ و.

نوموړی ډېر بې مثاله مصلح شخصيت و، چې د ولسونو ترمنځ يې سلگونه روغې جوړې کړې دي.

د اسلامي امارت په دواړو دورونو کې يې ډېر تکليفونه گاللي او په هر وخت کې يې د صف په متحد او موټې پاتې کېدو کې مثبت کردار ادا کړی او ډېرې قرباني يې ورکړې دي.

ډېر ديندار، دين دوسته ، علم خوښی او مخلص شخص و، په افغانستان کې د اسلامي نظام په استحکام او د مجاهد ملت په مخلصانه او صادقانه خدمت کې هميشه فکرمند، دردمند او متحرک و.

د وزير په توگه يې د لکونو راستنېدونکو مهاجرينو افغانانو داسې صادقانه خدمت کړی چې افغانان او تاريخ به يې د تل لپاره ياد ساتي.

د محترم حقاني صيب ټوله کورنۍ هر وخت د باطل سره د جهاد لومړني سنگر، او د قربانۍ د ډگر اول نمبر گټونکې کورنۍ پاتې شوې ده.

د مرحوم شهادت يوازې د ده کورنۍ لپاره نه، بلکې د ټول افغان مجاهد ولس او اسلامي امارت او امت لپاره نه جبرانېدونکې ضايع ده .

افغان ولس او خاصتا د حقاني کورنۍ له شهادتونو سره بلده ده .
د ولس او د هغه کورنۍ په حوصله اثر نشي پرېوتلی، بلکې مرام او مرال به یې لا رالنډېږي او قوي کېږي.

## شهادت د رسول الله صلی الله علیه وسلم یوازینی ارمان !

شهید ته له دې امله شهید ویلی شی چې هغه ته د جنت شـهادت او ګواهي ورکړل شوې چې له همدې امله شهید د مشهود پـه معنـی سره دی. او یـا شهید ته له دې امله شهید ویلی شي چې د شهادت پر مهال پرښـتې ورته حاضرېږي . او یا هم له دې امله شهید ته شهید ویلـی شي چـې هغه د شهادت پر مهال ټول هغه نعمتونه او ثوابونه چـې د اللـه جـل جلاله له لوري ورته تیار شوي ویني . او یا د دې سربېره شهید ته له دې امله شهید ویلی شي چې د هغه په شهادت د هغه له ځان څخـه د ده هغه وینې ګواهي ورکوي چې د شهادت په مهال ترې بهېدلې دي .
او یا هم په دې چې په دې ویاړناک پېر او پلور ګواهي ورکـوي،چې الله تعالی فرمایي: « إِنَّ اللَّهَ اشْتَرَى مِنَ الْمُـؤْمِنِينَ أَنْفُسَـهُمْ وَأَمْـوَالَهُمْ بِأَنَّ لَهُمُ الْجَنَّةَ يُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَيَقْتُلُونَ وَيُقْتَلُونَ وَعْدًا عَلَيْهِ حَقًّـا فِي التَّوْرَاةِ وَالْإِنْجِيلِ وَالْقُرْآنِ وَمَنْ أَوْفَى بِعَهْـدِهِ مِـنَ اللَّـهِ فَاسْتَبْشِرُـوا بِبَيْعِكُمُ الَّذِي بَايَعْتُمْ بِهِ وَذَلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ ». ژبـاړه: بېشـکه اللـه جل جلاله له مؤمنانو څخه د هغوی ځانونه او مالونه (چې د الله جـل

جلاله په لاره کې يې ولګوي ) د جنت په مقابل کې اخيستي، د الله جل جلاله په لاره کې جګړه کوي وژل کوي او په خپله هم وژل کېږي، الله جل جلاله دوی ته پدې پلور او پېر سره وعده ورکړې چې په تورات، انجيل، او قرانکريم کې ثابته ده، له الله جل جلاله څخه پرته بل څوک په خپله وعده ډېر وفاء کوونکی شته؟ په خپلو پلورلو او پېرودلو چې تر سره کړي مو دي خوشاله شئ، او همدغه لويه بريا ده.

د شهيدانو د فضيلت په اړه د رب العالمين همدغه وينا هم بسنه کوي، چې فرمايي: (وَلَا تَحْسَبَنَّ الَّذِينَ قُتِلُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ أَمْوَاتًا بَلْ أَحْيَاءٌ عِنْدَ رَبِّهِمْ يُرْزَقُونَ ). (آل عمران: ١٦٩) ژباړه : او تاسو پر هغو کسانو چې د الله په لاره کې وژل شوي دي د مړو ګمان مه کوئ، بلکې هغوی ژوندي دي د خپل پروردګار په نزد رزق ورکول کيږي .

همدغه راز تر مرګ وروسته يې غوره توب لپاره دغه نبوي حديث هم کفايت کوي، چې امام نسائي رح د راشد بن سعد په استناد رانقلوي: «أَنَّ رَجُلا قَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ مَا بَالُ الْمُؤْمِنِينَ يُفْتَنُونَ فِي قُبُورِهِمْ إِلا الشَّهِيدَ قَالَ كَفَى بِبَارِقَةِ السُّيُوفِ عَلَى رَأْسِهِ فِتْنَةً »

[سنن النسائي: ٢٠٥٣] ژباړه: له راشد بن سعد نه روايت شوی، چې هغه د رسول الله صلی الله عليه وسلم له يو ملګري نه روايت کړی، وايي يو سړي رسول الله صلی الله عليه وسلم ته وويل: په قبر کې ولې له

شهيد نه پرته، نور ټول مومنان آزمايل کېږي؟ رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: دا چې د شهيد په سر توره پړکېږي، همدا آزموينه يې بس ده. د شهادت د ستر وياړ او اعزاز لپاره همدغه لوی دليل بس دی، چې د کايناتو سردار محمدمصطفی صلی الله عليه وسلم يې په تکراري ډول ارزو او ارمان کړی دی، چې: رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي: « وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَوَدِدْتُ أَنِّي أُقْتَلُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ، ثُمَّ أُحْيَا، ثُمَّ أُقْتَلُ، ثُمَّ أُحْيَا، ثُمَّ أُقْتَلُ، ثُمَّ أُحْيَا ثُمَّ أُقْتَلُ » [صحيح البخاري: ۲۷۹۷] ژباړه: ما دې په هغه ذات قسم وي چې زما ساه يې په لاس کې ده، زه دا ډېر خوښوم د الله په لار کې ووژل شم، بيا ژوندی شم، بيا ووژل شم ، بيا ژوندی شم او بيا ووژل شم او بيا ژوندی شم او بيا ووژل شم. نو مونږ ټول مسلمانان د رسول الله مبارک ارزو خپل ارمان ګڼو، او د خپلو مشرانو لپاره يې وياړ او د ملت او امت د بقا او ارتقا راز ګڼو.

## هو! د دوزخ د سپيو (خوارجو) لخوا شهيد شو!

د محبوب صلی الله عليه وسلم له ملګرو څخه؛ چې رسول الله صلی الله عليه وسلم به ورته دا جملې ويلې: « اصحابي کاالنجوم بأيهم إقتديتم إهتديتم» د هغو له جملې څخه هر ستوري صحابي دا هيله او ارزو درلوده، چې د الله تعالی په لار کې يې شهادت په نصيب شي او د الله تعالی له محبوبو بندګانو څخه وګرځي.

دا چې شهادت دومره لوړه مرتبه ده، چې زمونږ د اسلام اساسي اشخاصو یې له الله تعالی د حصول دعا کړې؛ نو ښکاره ده چې شهید به د ډېر لوړ اعزاز خاوند وي او د الله تعالی په نزد به لویې مرتبې لري.

په ځانګړې توګه؛ هغه شهید چې د خوارجو له خوا شهید کړل شي، ځکه رسول اکرم صلی الله علیه وسلم فرمایلي: « طُوبى لِمَنْ قَتَلَهم وقَتَلوه » [ صحیح أبي داود: ۴۷۶۵]

سعادت د هغه چا لپاره دی، چې یا دوی ووژني یا هم د دوی (خوارجو) له لورې شهید کړل شي؛ رښتیا هم چې سعادت دی!

سعادت ځکه دی، چې د محبوب صلی الله علیه وسلم خواږه ملګري حضرت عثمان ذوالنورین او حضرت علي کرم الله وجهه د خوارجو له لورې شهیدان کړل شول، همداسې نور ډېر صحابه کرام، تابعین، تبع تابعین، لوی لوی علماء کرام، ددې امت اسلاف، د تاریخ غازیان او امامان ددې دین د سفاکو او سفهاء الاحلامو خوارجو له لوري شهیدان کړل شوي دي، دا ټول سعادتمند خلک وو، ځکه خو د خوارجو له لوري شهیدان شول.

همدغه راز د امت د ازادۍ اتلان ( القاعده) مجاهدین چې خپل ځانونه مالونه یې د دین او امت ازادۍ لپاره وقف کړي وو، هجرتونه جهادونه یې کړي وو، په شام ، افغانستان او نورو سیموو کې د داعش خوارجو لخوا په شهادت ورسېدل.

او په دې وروستیو کې د اسلام لوی لـوی علـمای کـرام، غازیـان او امیران د دې نیابتي ډلې له لوري او یا د دغو خوارجو سپیو په داړلو په بې غیرته شکل اوصورت جوړولو کې په شـهادت رسـول شـوي دي؛ لکه: امام العزیمة شهید شیخ رحـیم اللـه حقـاني ، شـهید نیـک محمد رهبر، شهید حـاجي داود مزمـل، شـهید شـیخ مولـوی مجیـب الرحمان انصاري؛ همداسې نور ډېر شهداء دي، چـې دا لـوی سـعادت یې په دې وروستیو کې په برخه شوی.

که څه هم مبینه فتحه راغلـې؛ د افغانسـتان پـه خـاوره سـپین بیـرغ رپیدلی، شرعي نظام پرې غوړیدلی او د تاریکیو دوران تیـر شـوی، خو بیا هم شهادت شته؛ شهادت شته چې د اسـلام سـاتونکي، د علـم غرونه، د کفارو قاتلین او د فتنو ختمونکي رانه بیلوي، بې لـه شـکه چې بشارت د همدوی لپاره وو؛ دی.

د پورته حدیث د تهوتې تر عنـوان لانـدې زه نـن د هغـه شـهید سـعید یادونه کوم، چې د شوروي لښکرو، فسادګرو ، امریکایي تـاړاکګرو پر وړاندې یې جګړه وکړه، او بیا یې افغانان پـه یـو تغـر سره راټـول کړل، او د وطن څخه وتلو افغانانو راتـګ یـې ډېـر رالنـډ کـړی و، د کفري او منافق دښمن لخوا د خوارجو په لاس شهید کړل شو، الحـاج خلیل الرحمن حقاني، تقبله الل تعالی.

مونږ یې د خپل رهبر شهید حقاني لپاره ویاړ ګڼو، چې ټول عمر یې د مسلمانانو د ازادۍ او ساتنه په خدمت کې تېر کړ،او په سپین ږیرتوب حالت کې الله تعالی د شهادت ویاړمنه پګړۍ ورپه سر کړه.

## ماما ! ویاړلی شهادت دې مبارک شه !

تا به چې د شوروي یرغل پر وړاندې د جنګونو، تعرضونو، شهادتونو او زخمونو کېسې کولې، او د خپلې کورنۍ او ملګرو د شهادتونو داستانونه به دې ویل، نو په دې به دې راټوله کړه: الله تعالی دې مونږ ته هم شهادت رانصیب کړي.

تا به نبوي ارزو (شهادت غوښتنې) خپل ارمان او د ژوند غایه ګرځولې وه، او په دې دې عقیده وه چې په شهادت کې د دنیا او آخرت د سعادت او کامیابۍ راز نغښتی دی. ځکه دې د شوروي لښکرو پر وړاندې د ازادۍ او شهادت په پار په ټول اخلاص جګړه وکړه، ورپسې دې شر او فساد پر ضد خپله وسله واله مبارزه ترسره کړه، او بیا دې د امریکایي ښکیلاکګرو پر خلاف خپله مسلحه او هر اړخیزه مبارزه تانده او ځپانده وساتله، او په دې لار کې دې هجرتونه، زندانونه او هر ډول زخمونه او دردونه وزغمل، او د فتحې او اسلامي نظام پر حاکمیت دې هم ارمان ورژېدو!

هو! تا په اویا کلنۍ کې د ۴۸ کلونو د جګړو له لمبو او دردو له سکروټو راوتلی وې، د اسلامي نظام حاکمیت په نعمت دې ښه زړه یخ کړ، د دې ترڅنګ دې د خپلو مهاجرینو ، مجاهدینو او دردمنو هېوادوالو په خدمت کې درې نیم کاله شپه ورځ ناکراره اروا او ستړی ستومان وجود د شهادت په رنګینه جامه کې خپل رب ته وسپاره. او اسلامي امارت، افغان ملت او درست اسلامي امت ته دې د عظمت ویاړ وروباښه.
شهادت دې مبارک شه، پرحقانیانو، طالبانو او ټولو شهیدانو مې سلام وایه، مونږ دې خدای تعالی له تاسې سره په شهادت او جنت کې یو ځای کړي. آمین.



# مجاهد اسلام اباد ته؛ ژر تر ژره د داعش ډلې مشران کابل ته وسپارئ!

مجاهد اسلام اباد ته؛ ژر تر ژره د داعش ډلې مشران کابل ته وسپارئ

افغان سالار · اکتوبر 12, 2025



د طالبـانو د حکومـت ویانـد ذبیح‌اللـه مجاهـد د افغانسـتان او پاکستان د تېرو شپې له نښتو وروسـته پـه خپـل لـومړي خـبري کنفرانس کې ټینګار وکړ چې افغانستان حق لري لـه خپـل حـریم څخه دفاع وکړي، او ادعا یې وکړه چې د تېرې شپې په نښتو کې ۸۰ پاکستاني پوځیان وژل شوي او ټپیان دي.

ذبیح‌الله مجاهد نن (شنبه) په کابل کې یوې خبري غونډې تـه د هېـواد د امنیتـي وضـعیت، د ترهګـرو ډلـو د فعـالیتونو او د افغانستان او پاکستان د پترمنځ د ډیورند کرښې په اوږدو کـې د وروستیو کړکیچونو په اړه خبرې وکړې.

هغه وویل، د طالبانو د ځواکونو او د پاکسـتان د پـوځ تـرمنځ د تېرې شپې په نښتو کې ۵۸ پاکستاني سرتېري وژل شـوي او ۳۰ نور ټپیان شوي دي.

مجاهد زیاته کـړه، «اسـلامي امـارت د خپـل هېـواد خـاوره لـه فتنه‌ګرو پاکه کړې، خو د داعش پاتې غړیو او یو شمېر توندلارو عناصرو اوس په پاکستان کې نوي پټنځایونه او مرکزونـه جـوړ کړي دي».

د ده په وینـا، «نـوي کسـان د کراچـۍ او اسـلام‌اباد لـه هـوایي ډګرونو او د پاکستان له غربي پولو څخه د روزنې او چمتـووالي لپاره دغو مرکزونو ته لېږدول کېـږي، او د افغانسـتان، کرمـان او مسکو بریدونه هم له همدې ځایه پلان، تنظیم او هدایت شوي دي».

مجاهد زیاته کړه چې د «کرمان د سلیماني د تلین په مراسمو کې ترسره شوی برید او د مسکو بریدونه د همدې مرکزونو لـه لـوري طرحه او عملي شوي، او اړوند هېوادونه ترې خبر دي».

هغه د پاکستان حکومت تورن کړ چې د داعش د حضور پر وړاندې يې سترګې پټې کړې دي او له اسلام‌اباده يې وغوښتل چې د دې ډلې مشران يا له خپلې خاورې وباسي او يا يې کابل ته وسپاري.

وياند ټينګار وکړ: «افغانستان حق لري د خپل هوايي او ځمکني حريم دفاع وکړي، او هېڅ برید به بې‌ځوابه پاتې نه شي«.

هغه په پاکستاني پوځ کې د ځينو ځانګړو کړيو د فعاليتونو زياتوالي ته هم اشاره وکړه او ادعا يې وکړه چې دغه کړۍ د ناسمو معلوماتو په خپرولو او د افغان او پاکستاني ملتونو ترمنځ د نفاق د اور بلولو له لارې هڅه کوي د سيمې ثبات ګډوډ کړي او د پاکستان امنيتي ستونزې پر افغانستان ور واچوي.

مجاهد زياته کړه چې د داعش ډلې پاتې کسان د طالبانو له عملياتو وروسته پاکستان ته تښتېدلي او هلته يې نوي پټنځايونه جوړ کړي دي. د ده په وينا، داعش اوس د بېلابېلو هېوادونو اتباع، په ځانګړي ډول اروپايان، د نړيوالو بريدونو لپاره روزي او وروسته يې ټاکلو ځايونو ته استوي.

ده وويل، «په افغانستان کې د دولتي چارواکو، ديني عالمانو، مجاهدينو او عامو خلکو پر ضد بريدونه – لکه د شيخ رحيم‌الله

حقاني، شيخ مجيب‌الرحمن انصاري، د سني او شيعه جوماتونو، د هندوانو معبدونو، د افغانستان بانک دفترونو (په کندهار او کندوز کې)، د چينايانو پر هوټل او د روسيې پر سفارت بريدونه – ټول له دغو مرکزونو طرحه او هدايت شوي دي«.

هغه د ۲۰۲۵ کال د فبرورۍ په مياشت کې په بلوچستان کې د داعش پر ضد عملياتو ته هم اشاره وکړه او ويې ويل، «په دغو عملياتو کې شاوخوا ۳۰ داعشيان، چې پکې د ډلې مشران او بهرني اتباع هم شامل وو، ووژل شول، او له هغو ځايونو څخه يو شمېر اروپايي پاسپورټونه ترلاسه شول«.

مجاهد ونه ويل چې دا عمليات چا وکړل او د بهرنيو هيوادونو د اتباعو پاسپورټونه چا ته په لاس ورغلل.

مجاهد وويل، د داعش خراسان څانګې مشر شهاب المهاجر او د هغه نژدې همکاران اوس د پاکستان په خاوره کې پټ دي، او اسلامي امارت له اسلام‌اباده غواړي چې هغوی يا وروسپاري يا يې له خپلې خاورې وباسي.

هغه خبرداری ورکړ چې «د داعش د ملاتړ او پټ ساتلو دوام به د سيمې لپاره ناوړه امنيتي پايلې ولري«.

د طالبانو وياند زياته کړه چې «افغانستان دا مهال ښه امنيتي وضعيت لري، د هېواد هوايي او ځمکنۍ پوله د اسلامي امارت تر بشپړ کنټرول لاندې ده، او دفاع وزارت د پولو د لا پياوړتيا او د هر ډول تېري د مخنيوي لپاره خپل ټول ظرفيتونه کاروي«.

مجاهد د افغانستان له خلکو وغوښتل چې «د هغو شايعاتو او منفي تبليغاتو پروا ونه کړي چې د مغرضو کړيو له لوري خپرېږي«.هغه په پای کې وويل چې «اسلامي امارت د اسلامي شريعت او ملي ګټو په رڼا کې له سيمه‌ييزو او نړيوالو هېوادونو



سره مثبت تعامل لري، او د افغانستان امنيت او ثبات د سيمې او نړۍ د ثبات لپاره حياتي ارزښت لري.»

# ډېورنډ کرښه
# او پر افغان مهاجرینو فشارونه، وحشتونه

کله چې د سردار داودخان او بیا کمونستانو پرمهال افغان مهاجرینو د خپل اسلام مقدس دین او ګران وطن د خپلواکۍ لپاره يې هجرت وکړ، ځکه چې هجرت د رسول الله سنت او د جهاد د کامیابۍ ذریعه ده .

خو د پاکستان منافق پوځ او سیاسیونو دا هجرت ځان ته یوه داسې لنګه غوا وګڼله چې شېبه په شېبه به يې له شېدو او ماستو څخه لاسونه او خولې ډکې وي.

او مهاجرین به يې په څه چل ول او یوه بله حربه راښکېل کړل، او بیا به يې خپل وطن ته د تګ اجازه هم نه ورکوله.

دوی له اول کمه خو اوس ډېره هڅه دا وي، چې د مهاجرینو څخه د زور او فشار آلې په توګه کار اخلي، د هر دولت په وړاندې کله يې ناڅاپي زرګونه کورنۍ په نیمه شپه وربار کړي، او کمپونه او کورونه په بېلډوزرو ورباندې رانسکور کړي، او

کله بیا روان حالت کې هرڅه ترې ګوزار کړي، چې خپل وطن ته ولې ځې، دا دستا ځای دی، کله چې مناسب وخت راشي بیا به لاړ شې.

په دې سلسله کې کله هم چې له افغان حکومت سره یې وضعیت ترینګلی شي، نو سمدلاسه پر افغان مهاجرینو ظلم او وحشت پیل کړي، وهلو ټکولو بندېکولو سربېره د لوټلو او داغلو هره چاره پرې سرته رسوي، د تېرې شپې جګړې په سبا د پاکستان خارجه وزیر وویل، چې مهاجر وشړئ، او پولې وتړئ.

په دې اړه همدا اوس تازه یوه مقاله رسنیزه شوه، چې دلته یې رانقلوو: د کابل او اسلام‌آباد ترمنځ د وروستیو نښتو په لړ کې، په پاکستان کې مېشت یو شمېر افغان کډوال د نیونو د دوام او د کډوالو پر ټولنې د فشارونو پر زیاتېدو اندېښنه څرګندوي.

د دوی پــه وینــا، د افغانســتان او پاکســتان تــرمنځ وروســتیو ترینګلتیاوو د کډوالو وضعیت نور هم تر اغېــز لانــدې راوســتی دی.

په پاکستان کې میشت افغـان کـډوال، ملـک خان شـینواری وایي: «د قانوني اسنادو نه لرونکو افغان کډوالو نیـول لا هـم پـه

پاکستان کې روان دي. د افغانستان او پاکستان وروستیو کړکیچونو د کډوالو پر وضعیت ژور او منفي اغېز کړی دی«.

عتیق‌الله منصور، بل افغان کډوال چې په پاکستان کې اوسي وايي:«افغان کډوال له ګڼو اندېښنو او ستونزو سره مخ دي«.

بلخوا، د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت ویاند ټینګار کوي چې د کډوالو د مسألې سیاسي کول او په جبري توګه د کډوالو اېستل له نړیوالو اصولو او معیارونو سره په ټکر کې دي .

د نوموړي په وینا، یوازې د روانې میاشتې په لومړیو ۱۷ ورځو کې له ایران، پاکستان او ترکیې څخه ۱۸ زره او ۷۰۰کورنۍ په جبري توګه او یا په خپله خوښه هېواد ته راستنې شوې دي.

د کډوالو او راستنېدونکو چارو د وزارت ویاند، عبدالمطلب حقاني په دې اړه وايي: «د کډوالو موضوع له اوسني وضعیت سره تړل یوه بشپړه تېروتنه ده، ځکه چې هغوی له وړاندې د کډوالو جبري ایستل پیل کړي وو. زموږ نظر دا دی چې د کډوالو ایستل یوه بشري موضوع ده او د دې موضوع سیاسي کول او جبري ایستل یې له ټولو نړیوالو اصولو سره په ټکر کې دي«.

د کډوالو د حقونو فعال، علي رضا کریمي، په دې اړه وویل: «د راستنېدو بهیر د ۲۰۲۳ کال د اکتوبر راهیسې د پاکستان د

امنیتي اندېښنو له امله پیل شوی، که څه هم امنیتي چـارواکي د تدریجي او بشري بهیر خبره هم کوي.

دا په داسې حال کې ده چې د ملګـرو ملتونـو د کـډوالو عـالي کمیشنرۍ د روان لمریز کال د تلې پر ۱۷مه راپور ورکړی و چې له پاکسـتانه څه باندې ۱۷۰ زره کډوال افغانستان ته راستانه شوي دي.





# پرخواله رسنیو
# د جګړې انعکاس

BBC NEWS پښتو

کور پاڼه  افغانستان  پښتونخوا  نړۍ  ښځې  لوبې  اقتصاد او سوداګري  ساینس او ټکنالوژي

## د طالبانو حکومت وايي د ډېورنډ کرښې په اوږدو کې یې د پاکستاني پوځ پر پوستو "غچ اخیستونکي بریدونه" کړي: پاکستان وايي "سخت ځواب" یې ورکړی

دې لپاره چې انټرنېټ مو لږ مصرف شي، یوازې متن ولولئ >



په افغانستان کې د طالبـانو حکومـت د دفـاع وزارت وایـي، "د ډېورنډ کرښې په اوږدو کې یې پر پاکستاني امنيتي ځواکونـو د افغانستان د حريم نقضولو او هوايي برید په ځواب کې بريالي غچ اخيستونکي بريدونه د شپې ۱۲ بجې پایته رسولي دي".

یاد وزارت پر ایکس خپره کړې یوه خبرپاڼه کې ګوتڅنډنه کړې چې که مقابل لوری بیا د "افغانستان حريم نقض کړ، زموږ وسـله

وال پوځ د خپل حریم دفاع ته چمتو دی او کلک ځواب به ورکړي".

دغه وزارت ویلي، دا بریدونه د افغانستان په ختیځ ولایت کونړ، سوېل ختیځ خوست، پکتیا، پکتیکا او په سوېلي هلمند ولایتونو کې شوي.

بل پلو د پاکستان د کورنیو چارو وزیر محسن نقوي دغه بریدونه غندلی دي او په وینا یې "د پاکستان پر ملکي وګړو د افغان پوځ ډزې له نړیوالو قوانینو ښکاره سرغړونه ده" .

د کونړ ناړۍ ولسوالۍ په دوکلام کې عیني شاهدانو بي بي سي ته ویلي، له ماښام لګېدو سره د طالبانو ځواکونو پر پاکستاني اړخ د سپکو او درنو وسلو برید وکړ چې وروسته د دواړو لورو ترمنځ سخته جګړه ونښته.

د طالبانو حکومت دفاع وزارت ادعا کړې چې د شنبې ماښام بریدونو کې یې یو شمېر پاکستاني سرتېري وژلي او مالي زیان یې ور اړولی.

پاکستاني سرچینو بي بي سي ته منلې چې د ډیورنډ کرښې په اوږدو کې څو ځایه یې پر ځواکونونو بریدونه شوي خو د اوښتي زیان په اړه یې څه نه دي ویلي.

د اکتوبر پر نهمه د طالبانو حکومت وویل د "کابل هوايي حریم" نقض شوی او په پکتیکا ولایت کې ځینې سیمې د پاکستان ځواکونو له لوري په نښه شوي. د طالبانو دفاع وزارت دا عمل د دوی په وینا کرغېړن ګام بولي او ګواښ کوي چې د عواقبو مسوولیت یې پاکستان ته راجع کېږي.

د طالبانو حکومت دفاع وزارت پر خواله رسنۍ، ایکس، یوه پیغام کې په دې هکله لیکلي وو: "پاکستان ډیورنډ 'فرضي' کرښې ته څېرمه د پکتیکا په مرغه سیمه کې پر یوه ملکي بازار بمبار کړی او د افغانستان پلازمېنې قلمرو یې هم نقض کړی دی".

د طالبانو حکومت په دې ټویټ کې لیکلي دي چې دا د افغانستان او پاکستان په تاریخ کې یو "بې ساری، له تشدد ډک او کرغېړن اقدام دی".

د طالبانو دفاع وزارت په دې ټویټ کې زیاته شوې وه، چې دوی د افغانستان پر حریم دا تېری غندي.

په دې ټویټ کې لیکل شوي چې " **له خپل حریم څخه دفاع زموږ حق دی او له دې اقدام وروسته که وضعیت هر څومره ترینګلی کېږي نو عواقب به یې د پاکستان پوځ ته راجع وي**".

پاکستاني ځواکونو له دې مخکې هم د افغانستان په بېلابېلو سيمو کې هوايي بريدونه کړي دي. دواړو هېوادونو په سرحدي سيمو کې هم د يوه بل پر خاوره د بريدونو ادعاوې کړې، چې مرګژوبله يې هم درلوده، خو که هغسې چې طالبان ادعا کوي، تائيد شي، دا به تاريخ کې لومړی ځل وي، چې پاکستان د افغانستان پر پلازمېنه بريد کوي.




هر چا چې زمونږ خوا ته په بد نظر کتلي دي
مونږ په ډېر تلوار د هغوی سترګي رايستلي دي
ځوان وزير ملا محمد يعقوب مجاهد

## د هندوستان په رسنيو کې:

دا چې جګړه تر ډېره د متقي صيب د هندوستان له سفره رامنځته شوې وه، نو د جګړې ګرمې صحنې چې د هندوستان پـر چېنلـو د پياوړو تحليلګرانو او ژوناليستانو په اوروړينو ژبو خپرېـدلې او تشريح کېدلې، دا يې بيا بله مزه وه:ځينې بېلګې يې لاندې دي:







BBC NEWS پښتو
AFP via Getty Images
پاکستاني طالبانو د کابل په
چاودنه کې د خپل مشر وژل
کېدل رد کړل


Azadi Radio - ...ازادي را · Follow
6h
د طالبانو د حکومت پوځیانو پرون د هېواد په ختیځ او جنوب
کې د دیورند کرښې په اوږدو کې له پاکستاني ځواکونو سره
درنې نښتې وکړې.
په کابل کې دفاع وزارت اعلان وکړ چې دا پوځي عملیات د
افغانستان پر قلمرو د پاکستان د وروستیو حملو په ځواب کې
شوي دي.
په دې اړه تفصیلي راپور په لومړي کامنټ کې وګورئ.


ZAWIA
پاکستان:
د طالبانو برید ته د هند په څېر ځواب وایو!

# سعودي او قطر
# د افغانستان او پاکستان تر منځ پر تاوتريخوالي انديښنه ښودلې




سعودي او قطر د افغانستان او پاکستان تر منځ پر تاوتريخوالي انديښنه ښودلې

د سعودي عربستان د بهرنيو چارو وزارت په يوه اعلاميه کې د افغانستان او پاکستان تر منځ د ډيورنډ کرښې په اوږدو کې د وروستي تاوتريخوالي او نښتو په اړه انديښنه څرګنده کړې او له دواړو لوريو يې غوښتي چې د "کړکېچونو د کمولو او په سيمه کې د امنيت او ثبات ساتلو لپاره له زغمه کار واخلي".

د شنبې ماښام په افغانستان کې د طالبانو حکومت د ډيورنډ کرښې په اوږدو کې پر پاکستاني امنيتي ځواکونو او پوستو د

دوی په وینا د افغانستان "حریم د نقضولو او هوایي برید په ځواب غچ اخیستونکي بریدونه" وکړل.

د سعودي عربستان په اعلامیه کې د ستونزو د حل لپاره پر خبرو اترو او ډیپلوماسۍ ټینګار شوی دی.

د یادونې وړ ده چې تیره میاشت، د پاکستان او سعودي عربستان ترمنځ د دفاعي چارو او امنیت په برخه کې د همکارۍ په اړه "د متقابل دفاع په اړه ستراتیژیک تړون" لاسلیک شو، چې له مخې یې "د یو هیواد په وړاندې بهرنۍ یرغل به د دواړو هیوادونو په وړاندې یرغل وګڼل شي".

بل عرب هېواد قطر هم د شنبې او یکشنبې په شپه د پاکستان او افغانستان ترمنځ د رامنځته شوي کړکېچن وضعیت په اړه اندېښنه څرګنده کړې ده.

د قطر د بهرنیو چارو وزارت لخوا په یوه خپره شوې اعلامیه کې، د پاکستان او افغانستان ترمنځ د ډیورنډ کرښې په اوږدو کې د زیاتېدونکي کړکېچ او تاوتریخوالي او همدارنګه یې د سیمې په امنیت او ثبات باندې د دغې د احتمالي اغېزو په اړه اندېښنه ښودلې ده.

د قطر د بهرنیو چارو وزارت له خوا لـه ښـکېلو خـواو غوښـتل شوي چې له خبرو اترو، ډیپلوماسۍ او زغم څخه کـار واخـلي او هڅه وکړي چې اختلافات په داسې ډول حل کړي چې د کـړکېچ د زیاتېدو مخنیوی وشي، ترڅو سیمه ایز امنیت او ثبات ته ګـواښ پېښ نه شي.

د قطر د بهرنیو چارو وزارت یو ځل بیا ټینګار کړی چې قطـر د نړیوالې سولې او امنیت د ودې لپاره د ټولو سیمه ایزو او نړیوالو هڅو ملاتـړ کـوي او د ورونـو پاکسـتانیانو او افغانـانو لپـاره د امنیت او سوکالۍ ډاډمنولو لپاره به خپلې هڅې جاري وساتي.

یادونه: څرنګـه چـې هندوسـتان پـر پاکسـتان بریـد وکـړ، نـو د پوځیانو کړیکو اورېدو سره سم یې د ټروپ لمـن ونیولـه، همدغـه څېر چې د امارت شنلي بریدونه او سخته معرکه او خپلو پوځیانو مړي ، چیغې او کوکارې یې وکتلې، نو سمدلاسه یې د سعودي او قطر ته لاسونه وغځول، او پایله کې د هغوی په غوښتنه اسلامي امارت خپل خواره واره بریدونه راټول او په ۱۲ بجو یې پای ته ورسول.

په جهان د ننګیالو دي دا دوه کاره
یا به وخوري ککرۍ یا به کامران شي

# سعودي او پاکستان تړون ته د ولسي خلکو طنز



سعودي عربستان او پاکستان ګډ دفاعي تړون لاسلیک کړ

دې لپاره چې انټرنېټ مو لږ مصرف شي، یوازې متن ولولئ



۲۷ وږی ۱۴۰۴ - ۱۸ سپتمبر ۲۰۲۵

پاکستان او سعودي عرب د دفاعي چارو په برخه کې د همکارۍ او امنیت اړوند "ګډ دفاعي ستراتیژیک تړون" لاسلیک کړی دی. د دې تړون له مخې "پر یوه هېواد بهرنی یرغل د دواړو هېوادونو پر ضد یرغل ګڼل کېږي."

وایي بېګا پاکستان سعودي ته ویلي چې افغانستان برید کړی څنګه چل ده؟ هغوی ورته ځواب ورکړی چې زمونږ ستاسې تړون کې واضح لیکل شوي چې به کومه ورځ هم په دواړو هېوادونو کې په یو هېواد برید وشو هغه به په دواړو هېوادوړو برید شمېرل کیږي .

نو په تړون کې "ورځ" ذکر شوی او دا برید د شپې شوی نو فلهذا و لذاک مونږ معذرت غواړو. یوه اعلامیه مو پر مونږ حق ده. د نر غوندې یې درته خپروو. او اخره کې یې ورته د توصیې په شکل ویلي چې لږه سړه خورئ د ظالم بچو چې خراب مو نکړي.

# پنجابي پوځیانو ته د خلکو پیغورونه:

دا هرچاته معلومه ده، چې پاکستاني پوځ پر خپل ولس سخت ظلمونه کړي دي، تر دې چې د پوځیانو مخکې به رپیدل، خو اوس د افغان طالبانو د جگړې له برکته یې روعب دومره مات شوی چې په عام بازار کې خلک پسې چیغې وهي ، چې په رسنیو لاندې ویډیو ډېره لاس په لاس کېږي، او داسې پسې کوکې وهي:



د جگړې په سبا ورځ چې پوځیان بازار کې ځوړ سر روان وو، او عامو خلکو داسې الفاظو ویشتل: **بیغرتو شرم وکړئ، په تاسې دې لعنت وي، عامو خلکو ته تکړه یئ!**

## پاکستان ته د شیخ الحدیث مولانا ادریس خطاب:

ته د افغانیانو سره ډډې مرېږې؟ هغوی خو درته ۵۲ د دنیا غټې طاقتونه شګه کړل، هغوی چېغې وهلې چې د سامان ټولو وخت راکړئ، دوی ورته د تېښتې وخت هم نه ورکاوه .

زمونږ یو ملګري ویل چې افغانان ډېر سخت خلک دي، که دوی ووهلې بیا دې له کاره غورځوي، ما ورته وویل: که دوی ووهلې نو بیا دې په قبر کې د نکیر منکر وهلو ته ضرورت نشته.

نو ته د هغوی سره انتې پینتې کوې؟!

## مولانا حمدالله د پاکستان ناکامه پالیسي رټلې ده:




افغانستان چې یو اسلامي ملک دی، د دې سربېره زمونږ ګاونډی هېواد دی، خو مونږ د خپلو ناکامه پالیسیو له کبله له افغانستان څخه دویم هندوستان جوړ کړ.

# افغان مجاهدين په لوړ مورال کې



چمتووالي په حال کې



مجاهــدين د پوځيــانو پــر خندقونو او مورچو وروختل



له خپلو غازيانو د ولس تود هرکلی



امارت شهيدان په الوتکو کې انتقالوي



د اسلامي امارت لخوا د ډرون بمبار



د پوځیانو غنیمتونه

## فاتحان طالبان څه پیغام لري؟




پر فتحه شوې پوسته ولاړ طالب پیغام:

دا خو زمونږ خپله خاوره ده تر اټکه پورې، پنجاب هم درنه نیسو، چې د احمدشابابا تاریخ درتازه کړو.

یو بل طالب وايي:

مونږ پاکستان ته دا پیغام دی، که اینده کې مو بیا تېرى وکړ، اوس مو ۱۰فیصده زور ازمویلی بیا به سل فیصده درسره ازمایو.

او یو بل طالب جان وايي:

مونږ چې تر کرښې واوښتو او ایلا په جگړه راغلو، گرم شوو، نو مشرانو غږ وکړ، چې جگړه بس کړئ!








د افغانستان اصلي بچیان، د رسول الله(ص) رښتوني وارثان

# د افغان ولس لخوا د اسلامي امارت غازيانو ته تود هرکلی، مبارکۍ، او د زنده باد چيغې





په ننګرهار پښتونستان واټ کې، ولسي خلکو لخوا د طالبانو تود هرکلی وشو، چې پنجابيانو سره يې پر ډيورنډ ګرمه جګړه کړې ده





دا شعارونه بدرګه کېدل: مرګ پر پاکستان



مولوي صیب وله یې!



پکتیا کې د ډیورنډ د جګړې اتلانو هرکلی او تشویق!

## څوک چې د پوځ خلاف راپورته شي؛ سترګې به یې وباسو!
## پاکستاني پوځ پر قبایلو جبري ملاتړ اعلان کړی

اړوند خبرونه



لومړی د پولي دفاع! د قبیلي مشرانو د بهرنۍ جګړې پر وړاندې د هر ډول قرباني وعده وکړه

ویب ډیسک

خیبر پښتونخوا د اورکزۍ قبیلې مشرانو او مخورو مشرانو د هېواد پر وړاندې د ترهګرۍ د خطرونو په مقابل کې د یووالي او کلک عزم څرګندونه کړې ده.

د پوځیانو په پلان، قبایلې مشرانو په ډاګه اعلان وکړو چې دوی د افغان ترهګرو خلاف له پاک پوځ سره په پوره ډول اوږه په اوږه ولاړ دي او د ملک سلامتۍ ته به هېڅ زیان ونه رسوي.

د پنجاب مزدورو ملکانو په خپلو خبرو کې وویل چې هغه سترګه چې د پاکستان خلاف راپورته شي، هغه به وروباسو او د دښمن ټولې ارادې به په خاورو بدلې کړي.

دغو د پنجاب تالیځتو او قوم فروشو په ګوتو شمار مشرانو اعلان وکړ چې د وطن دفاع پر دوی فرض ده او د ساتنې لپاره یې هر ډول قربانۍ ته تیار دي. دوی زیاته کړه چې دوی ترهګرو ته

مخکې هم لاره ښودلی وه او اوس به يې هم ورته ښيي. او دوی ته به بيا د سر راپورته کولو موقع ورنکړل شي.دغو بې ننگه تش په ناهم قبايلې مشرانو په دې خبره ټينگار وکړو چې له پاک پوځ سره يې اړيکه تل اوږه په اوږه وه او انشاالله چې په راتلونکې کې به هم داسې وي.دوی وويل چې دوی به له پاک پوځ سره په هر محاذ کې ملگري وي. دوی د افغان ترهگرۍ خلاف په يووالي سره د ملي يووالي په مکمله توگه څرگندونه کړې ده. د دې اعلانونو وروسته قبيلې مشرانو ادعا وکړه چې د خيبر پښتونخوا په قبايلي سيمو کې د خلکو ملاتړ مخ په زياتيدو دی، او ولس د هېواد د دفاع لپاره له پنجاب پوځ سره پوره يووالی ښيي. د قبيلې مشرانو پيغام ورکړو چې دوی د وطن پر پولو ولاړ دي او د هېواد ساتنې ته ژمن دي. د يادونې ده چې دغه قوم فروش ملکان يو ځل مخکې هم د حکيم الله مسعود په داسې چاودنه کې هلاک شوي وو، چې غوښې هډوکې يې چا ونه پېژندل.

پـــه سرحـــــدونو کـــې پـــري بلـــې سري لمبــــې دي
د تـــــور پنجــــــاب د غرقيــــــدلو علامـــــې دي
ځوانــــــان مــــــو مخــــــامخ وردرومــــــي
ځکــــه مشرـــــانو ورتـــــه کـــــړې اجــــازې دي
څــــوک چـــې پــــه دې خــــاوره تيــــرى کــــړي
پــــه هغــــو خلکــــو مــــونږه مــــات سرونــــه پښــــې دي

# مېستر ټرمپ ! دا افغانستان او طالبان دي؛ نه بې کسه غزه او او غافل عربان!




د طلوع نیوز راپور کې مې هسم وکتل، چې ټرمپ د افغانستان او پاکستان د جګړې حل پخلی او د خپلې ۸مې جګړې د ختمولو او مصلح نوم ګټلو فکر کې دی.

خو که ټرمپ دا خوب وینې چې د جمهوریت ټاټوګانو او ډیورنډ اغزن تار په څېر او یا د اوسني غزې او عربانو د محکومیت ته په بده استفاده د اسرایلو پټو او ښکاره توطیو په شان به د افغان وطن پر سر معامله وکړي، او خپل غلام د وجود برخلیک به وټاکي، داسې هیڅ امکان نلري، که نه له خپل ځان دې وپوښتي.

او که خلیلزاد صیب یې ماغزه ورخلاص کړي وي، بیا نو جایزې حل لارې د هرچا وینو، او د روس، چین، هند په څېر له امریکا سره هم د اسلامي او افغاني کړنلارې په چوکاټ کې یاري کوو.

# د افغانستان او پاکستان حقیقي او معنوي مقایسه

۱: تر ټولو وړاندې افغانستان هغه ملت دی چې شرعي قانون لري، البته پاکستان دا نلري، ځکه د هغوی قانون لارډمېکالې او د کفر ټولګه ده، او د هغوی په قانون کې یوه فقره دا ده چې ښځه له ښځې سره او سړی له سړي سره په خوښه بدفعلي کولی شي، دا ګناه او جرم نه دی، او سړی له سړي سره نکاح کولی شي. له همدې ځایه وه چې مفتي اعظم محمد زاهد عزیزخېل پرې د کفر فتوا ورکړې ده.

۲: دغه راز افغانستان د جهادونو او قربانیو تاریخ لري، خو له دې اعزاز پاکستان محروم دی.

۳: بل افغان نوم له دونیم زره کاله، او افغانستان کلمه له زرو کلونو وړاندېنۍ سابقه لري، او لویې امپراتورۍ یې ماتې کړې دي، حال دا چې پاکستان د یو افغان وګړي څخه هم په عمر کې کشر دی، او د حالاتو طوفانونو څخه پرمخ نشي تللی ان شاءالله .

۴: افغانان د رسول الله زمانې کتونکي او صحابه کرام لري، لکه حضرت سفینه بلخي، حضرت محمد بن یفدودیه هراوي، حضرت باذان بادغېسي رضي الله عنهم.

۵: افغانستان د صحابه کرامو له مزارونو او د اسلامي خلافتونو لـه خلفـاوو ډک دی، چـې دا خـاوره پـرې مبارکـه او منصـوره ګرځېدلې ده، حـال دا چـې پاکسـتان د نـړۍ د کفـارو ، یهودانـو، عیسایانو او اسلام دښمنو عناصرو څخه ډک دی.

٦: افغانستان واحد قیادت لري، پاکستان د واک ډېـرې جزېـرې لري، چې ځیني د انګریز اجرتي قاتلانو پوځیـانو لاس کـې دی او ځیني د کاواکه غلامانو.

۷: افغانستان لرغونی ، مؤمن او مجاهد ملت لري، خو پاکستان یوازې پر پردۍ خاوره جغرافیه رامنځته شوی دی، نه قوم لري او نه ملت لري.

۸: افغانستان تاریخي ، حماسي، جهادي او علمي ویاړونه لري،چې له برکته یې نوو نسلونو ته د وحدت ، پرمختګ روحیه وربښـي، خو پاکستان دا هیڅ نلري، بلکې خپـل توغنـدي یـې هـم زمـونږ د اتلانو په نوم جوړ کړي دي.

۹: افغانستان امیرالمؤمنین لـري، چـې هوښـیار، عـالم، متقـي، هـر اړخیز مثالي شخصیت دی، خو پاکستان له دې محروم دی.

۱۰: افغانستان د رسول الله وارثانو ( طالبانو ، غازیانو، فـدایانو) لښکرې لري، چې مرګونه یـې وژلي دي، خـو پاکسـتان یـو ډارن

پوځ لري، چې د پېسو او دالو په خاطر خپلې شپې ورځې تېروي، کله چې د جگړې ډگر تــه رامنځتــه شي، نــو تېښــته، تســلیمي او ژړاوې انگولاوې یې ځانگړنې دي.

## «تلك عشرة كاملة»





**پنجابيان روژه نشي نيولی؛ افغانستان به څه ونيسي؟!**

د پاکستاني دفاع وزير خبرې خنداني نه وې، ځکه د پاکستان جرنيلان او وزيران د فحشاوو، شرابو او کبابو په حالت کې اپلتې وايي، که دوی په هوښ او عقلانيت کې وای، نو داسې ملک چې د يو درجن بادارانو غلام دی، د داسې ملت پر وړاندې څنګه د اشغال او پر خاورو ورننوتلو خبره کوي، چې په يوه پېړۍ کې يې درې جهاني امپراتورۍ ماتې کړې، او هره امپراتوري يې پر وړاندې د تسليمۍ سر خوځوي او د نامې او سپين بيرغ پر وړاندې يې درناوی کوي.

د دوی د اپتلو په ځواب کې د اسماعيل يون خبره ډېره مناسبه ده چې وايي: پنجابيانو روژه نشي نيولی، افغانستان به څه ونيسي؟

يون زياتوي، چې د پنجاب سپي د ګرمۍ له امله غپا نشي-کولی، پوځيان يې د جګړې ايمان او ځواک نلري.

او جګړه دومره اسانه هم نه ده، چې د پورونو په ګرداب کې راډوب هېواد دوه کاله جګړه وکړي، خاصتاً د داسې هېواد په مقابل کې چې هغوی څلوېښت کاله جګړه ترسره کړه، او دخدای په نصرت څلوېښت زره کاله جګړه نوره هم د اسلام او وطن ازادۍ لپاره کولی شي!

## آخر پاکستان په افغانستان کې څه غواړي؟

له هغه وخت چې انګریزانو پاکستان راجوړ کړ، او افغانستان د نړیوالو یرغلګرو سره په جګړه کې ښکیل و، پاکستانیانو د افغانانو له بد حالته بده تر نن ورځې پورې استفاده وکړه.

پاچا ظاهر شاه، سردار داودخان، او تر حامدکرزي او اشرف غني پورې او په تېره بیا له ملامحمد عمر مجاهد څخه یې هم غوښتي وو، چې ډیورنډ کرښه په رسمیت وپېژني، خو یو افغان پاچا هم په دې اړه ورسره معامله نده کړې، او حتی ملامحمد عمر مجاهد د پاکستان مشران په دې خبره له دسترخوان څخه شړي وو.

پاکستان تر نن ورځې پورې دا غوښتل چې ډیورنډ کرښه په رسمیت وپېژندل شي.

پاکستان غوښتل چې د افغانستان بهرنۍ پالیسي او واک به د دوی په لاس کې وي. لکه حامد کرزي هم په رڼا ورځ پر ستېژ وویل چې شل واره پاکستان ته لاړ یم، همدغه غوښتنه راڅخه کېږي، او مونږ هیڅ یو افغان ابدا دې ته تیار ندی.

پاکستان غوښتل چې افغانستان کې دومره ضعیف شړېدلی حکومت موجود وي، چې مشران یې د دوی غلامان وي، لکه څرنګه یې چې په پنجاب پنډۍ کې په اصطلاح مجاهدینو

حکومت جوړ، او دلته یې راانتقال کړی، او په کابل کې یې کورنۍ شخړې پیل کړې د رباني، مسعود، حکمتیار، دوستم او نورو وحشیانو په لاس یې د کابل ۶۰۰۰۰ زره اوسېدونکي په خپلو وینو ولړل، او کابل یې د مرګونو پر کنډرونو بدل کړی و، او د خلکو په سرونو یې مېخونه ټک وهل او د ښځو له سینو یې تیونه پرې کول او له وجودونو یې سرونه کټ کول او بیا به یې د مړو رقصونه پرې کول، چې نتیجه کې یې افغانان او مسلمانان نړۍ ته د ځناورو په څېر ښکاره کول.

دغه راز پاکستان دا غوښتل، چې د کونړ اوبه به نیغ په نیغه پاکستان ته بهېږي، او تر سیند پورې به درې برخې پاکستان پرې خړوبېږي.

پاکستان غوښتل چې افغانستان کې به پابرېکې، کارخانې، پوهنتون، روغتون، نه جوړېږي، بلکې د دې ټولو اړتیاوو د حل لپاره دې افغانان پاکستان ته ورتلل.

پاکستان غوتښتل، چې د افغانستان معادن، کانونه او نور ارزښمن توکي په خپله نړۍوال بازار کې وپلوري.

پاکستان غوښتل، څرنګه د جهاد وخت الوتکې، ټانګونه اره اره کړل او کباړ یې پنجاب ته روان و، چې یوه الوتکه یې په شل زره

کلدارو ترلاسه کوله، ترڅو افغانستان یوازې د کباړخانې په څېر وساتي او وسایل دلته پاتې نشي. همغه شان اوس هم باید الوتکه، ټانګ او تیاره افغانستان کې نه وي، بلکې یوازې دومره اسلحه وي چې افغانان یې د یو او بل په سینو کې ورخښې کړي.

بالاخره پاکستان په افغانستان کې داسې چټلې هیلې درلودلې، چې د افغانانو د ډوډۍ، جامو، خاورې او ناموس واک د پنجابیانو په لاس کې وي. خو دا خنزیران په دې نه پوهېږي، چې افغان هاغه توریالی او جنګیالی قوم دی چې د نړۍ لویې امپراتورۍ یې راپرځولي او ټوټه ټوټه کړي دي، او هیڅ افغان داسې مریتوب، بېغرتوب او مرتدتوب نشي زغملای. بلکې د دې تورمخي دښمن وجود به د نړۍ له نقشې څخه ډیلیټوي او تېر دور به پرې حاکموي. ان شاءالله تعالی.

**یَا أَیُّهَا النَّبِيُّ!**
**جَاهِدِ الْكُفَّارَ وَالْمُنَافِقِینَ وَاغْلُظْ عَلَیْهِمْ..**
**وَمَأْوَاهُمْ جَهَنَّمُ وَبِئْسَ الْمَصِیرُ**

# د ډیورنډ تپلې کرښه
# د انګلیسي استعمار اغزن زنځیر
# چې هېڅ افغان نه منلې او نه یې مني

د ډیورنډ کرښه د افغانستان او پاکستان تر منځ هغه نږدې ۲۶۴۰ کیلو متره اوږده پوله ده چې لا تر اوسه پورې هم نه خو هم د افغانستان د حکومت لخوا او نه هم د کرښې په دواړو خواوو کې د میشتو قومونو له خوا منل شوې.

د ډیورند کرښې تړون د ۱۸۹۳ز کال څخه راوروسته د بریتانوي هند د حکومت او د افغان غلام امیر یانې امیر عبدالرحمن خان لخوا په خپلو سیمو کې د محدودیتونو د اغیز د لرې کولو لپاره تر سره شو. چې بیا وروسته په هماغه وخت کې دا کرښه د هېنري مورټیمر ډیورنډ د بریتانوي هند د بهرنیو چارو وزات د مرستیال په نوم ونومول شوه. (دا تړون د انګریزي بادار په زور و، څرنګه چې پر اشرف غني اوباما خپل تړون ترسره کړی و)

دغه په یوه پاڼه کې لیکل شوی تړون چې ۷ لنډې مادې یې درلودې د امیر عبدالرحمن خان او هېنري مورټېمر ډیورنډ لخوا لاسلیک شوه. چې د دې تړونلیک له شرطونو سره سم به د

برتانوي هند حکومت هیڅ کله هم په هغو سیمو کې چې له دغي لیکي نه آخوا د افغانستان په لور پرتې دې لاسوهنه ونه کړي، او امیر به هیڅ کله هم په هغو سیمو کې چې له لیکې نه آخوا د برتانوي هند په لور پرتي دې لاسوهنه ونه کړي.

د 1894 ز کال څخه راوروسته افغان-انګلیس په ګډه د نښې اینښودنې سروې پیل کړه چې کابو ۲۶۴۰ کیلو متره اوږده کرښه یې رانغاښتله .. چې په پایله کې د ډیورنډ کرښې د سترې لوبې یو خپلواکه سیمه د انګلستان او روسیه په ګټه رامنځ ته کړه.

## د ډیورنډ کرښې د رسمي کېدو غوښتنې ته د ولسمشرانو ځوابونه

ډیورنډ کرښه په ۱۸۹۳ز کال کې د افغانستان د وخت د انګریز غلام واکمن، امیر عبدالرحمن خان او د بریتانوي هند استازي مورټیمر ډیورنډ ترمنځ لاسلیک شوه. د امیر عبدالرحمن خان له حکومت وروسته د هغې زوی امیر حبیب الله خان واک ته ورسېد او هغه تړونونه چې پلار یې له بریتانوي هند سره کړي وو، ده هم د انګریزانو له ډاره پر خپل ځای پرېښودل او ادامه یې ورکړه .

کله چې په ۱۹۴۷ز کال کې پاکستان جوړ شو نو په افغانستان کې د محمد ظاهر شاه پاچاهي وه. د محمد ظاهر شاه په پاچاهۍ کې افغانستان لومړی هېواد وو چې ملګرو ملتونو کې يې د پاکستان له غړيتوب سره مخالفت وښوود او د ډيورنډ کرښې مساله يې راپورته کړه. دلته د محمد ظاهره شاه، سردار محمد داود خان، نور محمد تره کي، حفيظ الله امين، ببرک کارمل، ډاکټر نجيب الله، مجاهدينو او طالبانو څخه د پاکستان هغه غوښتنې چې ډيورنډ کرښه په رسميت وپېژني او د هغه وخت افغان واکمنو د ځوابونو لنډيز ليکو .

**د محمد ظاهره شاه واکمني:**

د محمد ظاهره شاه په واکمنۍ کې پاکستان له افغانستانه د ډيورنډ کرښې د رسمي کېدو غوښتنه نه ده کړې، خو د محمد ظاهره شاه حکومت په ملګرو ملتونو کې د پاکستان له غړيتوب سره په دې مخالفت ښوودلو، چې ياد نړيوال سازمان کې د پاکستان په غړيتوب سره به د افغانستان او بريتانوي هند ترمنځ پخواني تړونونه چې ډيورنډ کرښه هم په کې شامله وه ماتيږي. د محمد ظاهر شاه په واکمنۍ کې د پښتونستان مساله راپورته شوه او د ډيورنډ کرښې هغه غاړې خلکو ته د تاکنې حق باندې ټينګار کېدلو .

**د سردار محمد داود خان جمهوریت**

سردار محمد داود د ډیورنډ کرښې چې په هغه وخت کې د پښتونستان مسالې په نوم یادېده ډېر جدي وو. داود خان له پاکستان سره توندې اړیکې درلودې او د پښتونستان مسالې پر سر نېږده وه چې د افغانستان او پاکستان ترمنځ جگړه پیل شي. سردار محمد داود خان د پښتونستان مسالې ته ډېر ارزښت ورکولو او په ټول توان یې هڅه کوله، چې د ډیورنډ کرښې هغه غاړې خاوره د لوی افغانستان برخه جوړه کړي .

**د خلق دیموکراتیک گوند؛ د نور محمد تره کي واکمني:**

د یادونې ده چې کمونیست او کافر افغان هم ډیورنډ ندی منلی، مسلمان خو به یې تر قیامت ونه مني.

د ۱۹۷۸ز کال د سپتمبر میاشتې په نهمه نېټه د پاکستان ولسمشر ضیا الحق افغانستان ته په رسمي سفر راغی. نوموړي له نور محمد تره کي وغوښتل چې ډیورنډ په رسمیت وپېژني. نور محمد تره کي د ضیا الحق غوښتنه رد کړه او ورته یې وویل، چې ډیورنډ کرښه یو استعماري او یوه په زور منل شوې کرښه ده چې هېڅکله افغان ولس ته د منلو وړ نه ده.

نور محمد تره کي ضيا الحق ته وويل چې د پاکستان او هندوستان د وېش پر مهال، پښتنو او بلوڅانو د ټاکنې او انتخاب حق ورنه کړل شو او افغانستان ډيورنډ کرښه په رسميت نه پېژني.

ضياالحق هغه وخت پوه شو چې پر خلق ديموکراتيک ګوند نه شي منلی چې ډيورنډ کرښه په رسميت وپېژني .

**د حفيظ الله امين واکمني:**

حيفظ الله امين يو پښتون پاله ولسمشر وو. نوموړي ته د پښتونستان مساله او په افغانستان کې قومي جوړښتونه د ارزښت وړ مساله وه. د نوموړي په وخت کې پاکستان د ډيورنډ کرښې په رسميت پېژندو غوښتنه نه ده کړې، خو په خپله حيفظ الله امين له دې سره سخت مخالف وو چې ډيورنډ په رسميت وپېژني .

**ببرک کارمل:**

د خلق ديموکراتيک ګوند د پرچم اړخ دغه ولسمشر د ډيورنډ کرښې رسميت پېژندو سره سخت مخالفت درلود. ببرک کارمل ډيورنډ کرښه د انګلېسي استعمار په پايله کې پر يو افغان وجود د وېش خنجر بللو. د هغه وخت پرچم په نوم ورځپاڼې د ببرک کارمل له خولې لېکلي وو، چې د افغانستان حکومت د ډيورنډ کرښې هغه غاړې پښتنو او بلوڅانو څخه ملاتړ کړي، ترڅو دوی خپل

برخلیک په خپله وټاکي او هېڅکله د افغانستان حکومت د ډیورنډ تپل شوې کرښه د یوې رسمي کرښې په ډول په رسمیت نه پېژني .

**ډاکټر نجیب الله:** که څه هم د ډاکټر نجیب الله او ضیاء الحق ترمنځ د پاکستان او افغانستان ترمنځ داسې تړون شوی وو چې د یو او بل په خاروه کې به لاسوهنه نه کوي، خو پاکستان دغه تړون پلی نه کړی. ډاکټر نجیب الله هم د افغانستان د هغه ولسمشرانو له ډلې وو چې د ډیورنډ کرښې رسمیت پېژندو سره یې مخالفت درلود. د یو شمېر افغانانو باور دا دی چې ډاکټر نجیب الله پاکستان په دې پار وژلو، چې د ډیورنډ کرښې رسمیت پېژندو غوښتنې سره یې سخت مخالفت درلود.

**د مجاهدینو واکمني:** د مجاهدینو حکومت پر مهال د ډیورنډ کرښې مساله یوه هېره شوې مساله وه، ځکه چې پاکستان په دې عقیده و، چې نوره به افغانستان تجزیه کېږي، او نوره برخه به هم پاکستان ته ترلاسه شي، خو دا ارمان یې خاورې شو.

## د طالبانو واکمني:

د طالبانو واکمني پر مهال پاکستان درې ځلې له دوی غوښتنه وکړه چې ډیورنډ کرښې کرښه په رسمیت وپېژني .

لومړی ځل: ملا عبدالرزاق د طالبانو کورنیو چارو وزیر وو او پاکستان ورڅخه وغوښتل چې ډیورنډ کرښه په رسمیت وپېژنئ؛

**دویم ځل:** بلې ځلې د پاکستان کورنیو چارو وزیر معین الدین حیدر کابل ته په رسمي سفر راغی او طالبانو یې وغوښتل چې ډیورنډ په رسمیت وپېژنئ؛

**دریم ځل:** هغه مهال چې پرویز مشرف د پاکستان واک په لاس کې درلود، نو له طالبانو مشرانو یې غوښتنه وکړه چې ډیورنډ کرښه په رسمیت وپېژني .

د طالبانو اسلامي امارت پر مهال د پاکستان له خوا د ډیورنډ کرښې په رسمیت پېژندو غوښتنې په کلکه رد شوې دي او هېڅکله یې دغه کرښه په رسمیت نه ده پېژندلې.

او د اسفندیار ولي خان، او نورو په استناد ، امیرالمؤمنین ملامحمد عمر د پاکستان راغلي مشران د ډېورنډ د خبرو له امله له ډوډۍ او دسترخوان وشړل، چې دا عمل په افغانانو او پښتانو کې د پلار قاتل سره هم څوک نه کوي، خو ملامحمد عمر ته تر خپل ځان او کورنۍ هم د لوی افغانستان خاوره ارزښتمنه وه.

**جمهوریت:** د حامد کرزي او اشرف غني د جمهوریت پر مهال افغان حکومتونو له ټولو ستونزو او پاکستان فشار سره سره د مخکنیو مشرانو په څېر هیڅکله ډیورنډ کرښه په رسمیت ونه پېژندل.

**د طالبانو دویمه واکمني:**

د طالبانو په دویمه واکمنۍ کې هم د مخکې په څېر ډیورنډ یو نامنلې کرښه وګڼل سوه، او یو ځل ددوی وزیر ملا نورالله نوري د کرښې څخه د لیدنې په ترڅ کې رسنیو ته مخامخ وویل چې افغانستان د اوسنې پاکستان سره کومه رسمي پوله نلري.

خو د تېرې شپې د افغانستان اسلامي امارت د دفاع وزارت له لخوا پر مکمل ډیورنډ د سترې خونړۍ جګړې وروسته دا معلومه شوه، چې نور به پاکستان دا خبیث خیال له ځان سره جهنم ته یوسي.




د افغانستان او هندوستان پخوانۍ سرحد

## امریکایي یرغلګرو ولې پنجابیانو ته د ډیورنډ کرښې د اغزن جال تېرېدل او مصرف منلی و؟

په دې کې هېڅوک شک نلري، چې پاکستان د افغانستان او هند پر خاوره د هغه وخت یرغلګرو انګریزانو لخوا رامنځته شوی بې اصله او بې نسله ملک دی، البته داسې ملک چې له سره تر پښو پورې د انګلیس په چوپړ کې ترکیب شوی او په اسیا کې د انګلیس اجرتي ډلګۍ ده.

چې د اسلام او افغانستان د پرمختیا او پراختیا پر وړاندې د هر ډول اوزار کار ترې اخلي.

اوس چې د انګلیس سربېره د غرب د فرعونیت دعوا امریکا کړې ده، نو د پاکستان هرڅه د امریکا په امر او چوپړ کې پراته دي، چې روښانه بېلګه یې د یرغل تېر شل کلونه دي، چې یوې خوا یې د پښتونخوا تر ۷۰زرو زیات پښتانه ورته حلال او وینو ورنګول، او له بلې خوا یې ورته د پاکستان ټوله خاوره د اډو په شکل امریکایي یرغلګرو چوپړ کې واقع ده، او د دې ترڅنګ د جامعې حفصې په څېر سلګونو مدرسو شاګردان او شاګردانې یې ورته ذبحه کړې، چې اوس هم د نوموړې مدرسې ۷۰۰عالمانې او طالبانو د امریکایانو په لاس تری تم دي، چې یوه هغه نمونه چې

هره ورځ په میډیا یې د فریادونو او زګیرویو چیغې او ساندې خپرېږي، ډاکټره عافیه صدیقي...

که داس حال د افغانانو سره پرتله شي، هیڅ اړخ نه ورسره برابرېږي، ځکه چې افغانانو شل کاله امریکایان ووژل، او د اشغال جنازې له بدبویۍ سره وروښسټله، اوس ټرمپ د باګرام اډو خبرو پر ځای یو امریکایي بندي هم په اسانۍ نشي ترلاسه کولی، او په دې اړه د طالب ځواک دریځ ځومره غوڅ او قاطع دی.

نو چې پاکستان هرڅه د کفري یرغلګرو په پښو کې اچولي، یرغلګر به خامخا پر خپل وفادار غلام باندې یو کرم کوي، هغه هم د پردي ملت پر محکومه خاوره د اغزن تار لګول.



په پاکستان کې د امریکایانو جیک اباد نظامي آډه چې د کوټې ښار په ۳۲۰ کیلومترۍ کې پرته ده. او امریکایانو به له همدې ځایه پر افغانستان خونړي بریدونه کول.

## د ډیورنډ اغزن تار او امریکا امنیتي تړون
## د امریکا او د پنجاب بې غیرته غلامانو هغه شرم
## چې له منځه وړل یې د طالب تر غاړې وو

هر افغان او مسلمان په دې پوهېږي، چې د جمهوریت ټاټوګانو، ایمان فروشو، ضمیر مړو او وطن عزت پلورونکو تش په نامه افغانانو چې د امریکایي یرغلګرو سره د اشغال په کاروان کې راغلي او د امریکایانو په طیارو کې له دوی سره ځلیدلي دي، او اوس د کفري کمپونو څخه د افغانستان د اسلامي نظام او امن د اخلال په موخه، کله د پنجابیانو په پښو کې انګولاوې کوي کله د نورو کفارو پښو کې سرګردانه رغړېږي.

دا هغه خبیث مخلوق و، چې د امریکایانو سربېره پر پنجاب او د هغې ترڅنګ پر ایران او د هغې د پاسه پر لسو ملکونو خرڅ شوي او د پردیو د شومو اهدافو لپاره کرایه شوي ټاټوګان وو.

هغوی د ایمان خرڅون، د وطن پلورل او د ناموس لیلامول خپل ویاړ ګاڼه، ځکه د امریکا سره کرغېړنو معاملو او خدمتونو سربېره د پنجاب سره د اغزن تار په لګولو کې هم نه شرمېدل.

څرنګه چې د پاکستان پوځ د انګریز زېږانده مخلوق دی، او د امریکایانو اجرتي قاتلان وو، چې خپل ناموس او د جامعې

حفصې په څېر بېشـماره مسـلمانې نجـونې د یرغلګـرو پښـو کـې واچولې، نو بدل کې یې پیسې او د افغانستان پر محکومه ځمکه او ډیورنډ تار تېرول ترلاسه کول وو. دلته د بېلګې پـه توګـه یـو راپور رانقلوو:

حنیف اتمر د ډیورنډ کرښـې پـه سر د ګـډحکومت پټـه معاملـه افشا کړه

نن ټکی اسیا (شنبه، ۱۰لېندۍ، ۱۳۹۷ل): د ډیورنډ کرښې پـه سر له پاکستان سره د افغان حکومت د پټې معاملې تازه اړخونه افشا شوي او په دې اړه نوي معلومات خپاره شوي.

د ملي امنیت پخوانی سلاکار په لومړي ځل اعتراف کوي چـې د «افغانسـتان او پاکسـتان د پولـو د کنټـرول» هـوکړه لیـک یـې لاسلیک کړی دی.

افغان خبریال (صدیق افغان) پـه خپلـه فیسـبوک پاڼـه د حنیـف اتمر په حواله لیکلي چې نوموړي دغه لاسلیک د ګډ حکومـت د ولسمشر په امر کړی دی.

حنیف اتمر ویلي چې په ډیورنډ کرښه د اغزن تار غځول یې لـه پاکستاني جنرال عامر سره لاسلیک کړي دي.

ګډحکومت تر دې دمه په دې تړاو څه نه دي ویلي، او دا نه ده معلومه چې پاکستان به د دې تنازل په بدل کې ګډحکومت ته څه منلي وي.

د تېر کال د مارچ په ۲۵مه د پاکستان د پوځ مشر جنرال قمر باجوه په رسمي ډول د ډیورنډ پر کرښه د اغزن تار لګولو پروژه افتتاح کړه او ویې ویل چې په لندن کې د افغان حکومت سره په دې اړه سلا شوې او د هغوی په خوښه دا چاره تر سره کیږي.

د تېر کال د جون په ۲۰مه د پاکستان پوځ په یوې رسمي خبرپاڼه کې اعلان وکړ چې د اغزن تار لومړی پړاو یې په باجوړ، مهمندو او خیبرایجنسۍ کې په بریا سره بشپړ کړ او د پولې پاتې برخه به په دوهم پړاو کې وتړي.

همدا راز د تېر سپتمبر په ۱۲مه د پاکستان لومړي وزیر (شاهد خاقان عباسي) یو ځل بیا ټینګار وکړ چې هیواد به یې په ډیورنډ کرښه د کټارو لګولو لړۍ ته ادامه ورکوي.

د ملي امنیت پخواني سلاکار حنیف اتمر نه دي ویلي چې دا معامله یې کله او چیرته لاسلیک کړې، خو پر ډیورنډ کرښه د پاکستاني پوځیانو تحرکات وروسته تر هغه زیات شول چې د ۲۰۱۷ کال په پیل کې د ملي امنیت افغان سلاکار حنیف اتمر د

خپل پاکستاني سیال سرتاج عزیـز سره د انګلسـتان پـه پلازمینـه لندن کې ولیدل، خو هغه مهال د دې ناستې جزئیات پټ وساتل شول.

له یادې ناستې وروسته په لومړي ځل د کرښـې دواړو خـواوو ولسونو د تګ راتګ لپاره ویزه جبري شوه او د پاکسـتان قبـایلي سیمې د خیبرپښتونخوا ایالت سره وتړل شوې.

د ډیورنډ کرښې په اړه دغو تـازه افشـاګیرو پـه غبرګـون کـې د ګډحکومت ولسمشر اشرف غني تر دې مهاله څـه نـه دي ویـلي، خو د ملي امنیت سلاکار حنیـف اتمـر څرګنـدونې د دې پوښـتنې ځواب اسانه کوي، چې ولې حکومت په ډیورنډ کرښه د اغزن تار سره په هسکه غاړه مخالفت نه کوي او تر اوسـه یـې د اړتیـا پـر مهال سوړ او یخ غبرګون ښودلی.

همدغه راز یو بل راپور:

**پاکستان: د ۲۰۱۹ تر پایه به پر ډیورند کرښه د اغزن تـار غځـول بشپړ شي**



پاکسـتاني چارواکي وایـي ، پر ډیورنـد کرښـه یـې د اغـزن تـار

غځولو لړۍ په چټکۍ سره مخ پر وړاندې روانه ده او ښايي د راتلونکي ميلادي کال تر پايه بشپړ شي.

د پاکستاني چارواکو د ادعا تر مخه، د تار په غځولو کې ورسره د افغان حکومت کامله همغږي شتون لري او هيڅ کوم مشکل د افغان امنيتي او دفاعي ځواکونو له خوا ورته نه دى را ولاړ شوى. د پاکستان د سرحدي ځواکونو يوه چارواکي محمد شهزاد ويلي، پر ډيورنډ د اغزن تار غځولو کار نيمايي شوى چې ورسره د پاکستان امنيت هم ښه شوى دى.

نوموړى دغه راز وايي، زرګونه کيلو متره سيم غځول شوى او سلګونه پوستې يې په اوږدو کې اچولې دي؛ او خپلو سرتيرو ته يې امر کړى ، هغه کسان چې په نا قانونه توګه ترې د اوښتلو هڅه کوي، مخامخ په نښه کړي.

د يادونې وړ ده چې افغان سرحدي ځواکونو څو ځله د ياد سيم پر وړاندې د مخنيوي هڅه وکړه خو له يوه لوري افغان حکومتي چارواکو ورته د وړاندې تګ اجازه نه ورنه کړه او له بل پلوه پاکستاني چارواکو هغه اسناد چې د دې فرضي کرښې د منلو او اغزن سيم د تيريدو په تړاو د ولسمشر غني حنيف اتمر او ځينو لوړ رتبه افغان چارواکو لاسليکونه پرې شوي و، ور ښکاره کول.

د ولسمشرۍ ماڼۍ رسماً د کرښې د څرنګوالي او اغزن سیم د تیرید په تړاو کوم غبرګونه نه دی ښوودلی ،خو د ملي امنیت پخواني سلاکار حنیف اتمر څو اونۍ وړاندې په یوه مرکه کې ویلي و، چې د خپل واک پر مهال یې د ولسمشر غني په حکم پر ډیورند کرښه د اغزن سیم تیریدل له پاکستاني پلاوي جنرال عامر سره منلي وو.







## د ډیورنډ کرښې حقوقي او تاریخي ارزونه!

دا چې په دې ورځو کې د ډیورنډ کرغېړنې کرښې سکالو یو ځل بیا ګرمه شوې ده، نو غواړم چې په دې اړه ځینو اړینو ټکو ته اشاره وکړم، ښه په حوصله یې ولولئ:

۱ـ کله چې ۱۸۹۳ میلادي کال د نومبر میاشتې په دولسمه نېټه د افغانستان غلام پاچا امیر عبدالرحمن خان او د بریتانوي هند د بهرنیو چارو وزیر سرهنري مورتمر ډیورنډ تر منځ د ډیورنډ د تړون خاکه جوړېده، په دغه وخت کې افغانستان خپلواکي نه درلوده او د ۱۸۷۹ میلادي کال د ګندمک تړون له مخې د افغانستان بهرنۍ سیاست د بریتانوي هند اړوند و، نو د نړیوالو حقوقو له مخې ویلای شو چې د هېڅ ناخپلواک او مستعمره دولت او حکومت تړونونه د اعتبار وړ نه دي.

۲ـ د ډیورنډ په خاکه کې د (چترال، سوات، دیر، باجوړ، خیبر، کرمې او وزیرستان) سیمې د آزادو قبایلو په نوم پېژندل شوي او د بریتانوي هند اړوند نه وې، دغه سیمې د افغانستان د دولت اړوند وې او امنیتي برخه یې د انګلیسانو له لوري پر مخ وړل کېده. په دې سیمو د پاکستان خېټه اچول بل ښکاره تېری دی.

او بله خبره دا چې پاکستان له هند څخه بېل شوی دی، هغوی یوازې د هغو ځمکو حق لري چې د هند اړوند وې، افغانستان نه دوی ته آزادي ورکړې او نه یې په خاوره د استعمار حق لري.

۳ـ د ډیورند کرښه د اسنادو له مخې د افغانستان او بریتانوي هند تر منځ د سرحد په نوم نه ده منل شوې، بلکې په دغه خاکه کې موخه په قامونو باندې د کنټرول او حاکمیت ده، دغه خبره خپله سرمورتمر هنري ډیورنډ هم منلې ده چې چې ځمکه د افغانستان اړوند ده او یوازې بریتانوي هند ته په مېشتو قامونو باندې د حاکمیت لپاره د امیر عبدالرحمن خان له لوري په شخصي توګه ورکړل شوې ده او امیر دغه سند نه دی لاسلیک کړی، هغه په ۱۸۹۷ میلادي کال کې په ایشیاټیک کوارټرلی ژورنال کې یادونه کړې ده چې هغه ځمکې چې له ډیورنډ کرښې څخه د هندوستان لور ته پرتې دي، نه باید چې د بریتانوي هند په رسمي قلمرو او جغرافیه کې وشمېرل شي، ځکه زمونږ پرېکړه یوازې په دغو سیمو کې د قانون او حاکمیت د پلي کولو لپاره ده، نه دا چې زمونږ دا کرښه نړیواله پوله وګڼل شي. دلته هم لیدل کېږي چې د ډیورنډ کرښه د یوې نړیوالې پولې په توګه نه ده راکښل شوې.

۴ـ د ډیورند کرښې د اعتبار موده د تـړون د خـاکې لـه مخـې د امیر تر مرگ یا پرځېدو پورې وه، ځکه دا تړون په دولتي سـطحه نه و شوی، بلکې د امیر عبدالرحمن خان او بریتانوي هند تر منځ د فشار لاندې ترسره شوی او لنډمهاله و، ان دا چې څوک یـې سـل کلن بولي دا هم زیاتی دی. انگریزانو ټول تړونونه له امیرانو سره په شخصي توگه تر سره کول، دوی ځکه له دغې کـړنلارې څخـه کار اخیسته، تر څو د پخواني امیر په مرگ یا پرځېدو سره له نوي امیر او پاچا څخه لا زیات امتیاز ترلاسه کړي. د امیر عبدالرحمن خان له مرگ څخه وروسته د امیر حبیب الله خان په پاچاهۍ کـې د محکوم افغانستان خاوره د بریتـانوي هنـد تـر حاکمیـت لانـدې پاتې شوه، خو په ۱۹۱۹ میلادي کال کې امیـر امـان اللـه خـان د اگست په اتمه نېټه له بریتانیې څخه د خپلـواکۍ پـه اعـلان سره افغانستان په کورني او بهرني سیاست کې خپلواک اعلان کړ او له بریتانوي هند سره یې ټول تړونونه منسوخ او ناچله اعلان کړل. د بریتانوي هند د بهرنیو چارو وزیر سر الفرډ همیلټون گرانټ چې په ۱۹۱۹ میلادي کال کې یې افغانستان ته د خپلـواکۍ ورکولـو په وخت کې د بریتانوي هیئت مشري کوله، د افغانستان د هیئـت له مشر علي احمـد خـان سره د افغانسـتان د پخوانیـو امیرانـو او

بریتانوي هند تر منځ ټول تړونونه ناچله اعلان کړل، چې د ډیورنډ تړون هم د دغو لغوه شویو تړونونو له جملې څخه و.

۵ـ له هند څخه د پاکستان له جلا کېدو څخه وروسته په ۱۹۴۹ میلادي کال کې د پاکستان حکومت د پکتیا په ولایت کې بمبار وکړ چې د افغان دولت غوسه یې راوپاروله، لویه جرګه یې راوبلله او یو ځل بیا یې له بریتانوي هند سره ټول تړونونه لغوه اعلان کړل. افغان دولت د نړیوالې ټولنې د امنیت شورا ته د خپلې خاورې د بېرته راګرځولو وړاندیز وکړ، خو د امریکا حکومت د پاکستان په ګټه له دغه وړاندیز سره مخالفت وکړ.

٦ـ له ۱۹۱۹ میلادي کال څخه وروسته هېڅ افغان دولت د ډیورنډ کرښه په رسمیت نه ده پېژندلې.

۷ـ د نړیوال کنسوانسیون لـه مخې پاکستان د بریتانوي هند ځایناستی نه شي کېدلای او د افغانستان خاوره یې استعمار کړې ده.

۸ـ افغانستان یوازېنی هېواد و؛ چې د ۱۹۴۷ میلادي کال د سپټمبر میاشتې په دېرشمه نېټه یې په نړیواله ټولنه کې د پاکستان غړیتوب ته منفي رایه ورکړه او د افغانستان د خاورې راګرځولو غوښتنه یې وکړه.

۹ـ د نړیوال قانون له مخې د ډیورنډ په اړه د پرېکړې حق دوارو غاړو ته پراته ولسونه لري او دولتونه نـه شي کـولای پـه دې اړه کومه معامله وکړي.

۱۰ـ هغه سیمې چې د افغانستان اړوند دي، د پاکستان ٦۰ سلنه خاوره جوړوي، یوازې ۴۰ سلنه سیمه یې له هند څخه اخیستې ده او بس، نو ځکه پاکستان تل کوښښ کوي چې په افغانستان کې د دولتونو د کمزوري کولو لپاره ګامونه واخلي.

۱۱ـ افغانستان هغه وخت خپله محکومـه خـاوره آزادولای شي چې د پاکستان دولت سقوط وکـړي؛ ځکـه پاکسـتان دولـت دی؛ ملت نه دی، پوځ یې وپاشل شي، له هندوستان سره په لویه جګړه کې ښکېل شي، د کورنۍ جګړې اور پکې بل شي او یا د پښـتنو ستر پاڅون پکې رامنځته شي او بر افغانان د آزادۍ غوښـتونکو ملاتړ وکړي.

۱۲ -دا چې ټول پښتانه د یـو دیـن (اسـلام) لارویـان دي او پـه جهاد کې د پیړیو تجربه لري، نو د پاکستان د استعمار د ماتولو په پار د سپېڅلي جهاد اعلان هم غوره لاره ده.

# د ډېورنډ ترخنګ د کونړ بهاند سېند

د کونړ سېند چې د ټول افغانستان حیاتي مسئله ده، ان شاءالله داسلامي امارت د مشرانو او د برېښنا وزیر مولوي عبداللطیف منصور په لاس به دا اوبه رامهارېږي، او د دې بند جوړولو ژمنه یې هم کړې ده.




د اوبو او انرژۍ وزارت وايي، د کونړ پر سیند د بندونو جوړولو تخنیکي سروې ګانې بشپړې شوي او په نږدې وخت کې به پر یاد سیند دوه بندونه جوړ شي. د دغه وزارت ویاند مطیع الله عابد له یوه خصوصي ټلویزیون سره په مرکه کې ویلي، چې د کونړ پر سیند د بند په جوړولو کې د هیچا مخالفت ته ونه ګوري او د خپل مسلم حق له مخې به یې اوبه مهار کړي. نوموړي ویلي، د یادو بندونو په جوړېدو سره به زرګونه هکتاره ځمکې پر خړوبېدو سربېره یوه اندازه برېښنا هم تولید کړي.

## د افغان طالبانو او پاکستان پوځيانو ژوره دښمني!

له يوې خوا طالبان هغه مخلوق دی، چې د پيغمبرانو او صحابه کرامو په شان د زمانې غمونه، زخمونه، دردونه په ځان زغمي، د ښځو په څېر ژړاوې او شکايتونه نه کوي، دا ځکه چې دا ډله د عمل خلک دي، نه د ظاهري فرمايشاتو او تشريفاتو، او يا د نورو طاقتونو اوزار او غلامان.

له بل خوا د يو مشهور متل له مخې چې دروغجن او ظالم حافظه نلري، بې شکه پاکستان هغه ملک دی چې د افغانانو او د طالبانو په وينو ، او اوښکو يې تجارتونه وکړل، خاصتاً د اسلامي امارت زرګونه مشران او کشران يې په ډېره وحشي- توګه په شهادت ورسول، په امريکايانو يې خرڅ کړل، او په زندانونو کې يې تری تم کړل. خو د ډېرې حيرانتيا خبره دا ده، چې د پاکستان مرتدو جنرالانو پوځيانو څخه دا ټول ظلمونه او بې غيرتوبونه هېر شوي دي، او د طالبانو څخه د جمهوريت غلامانو په څېر تمې لري. او له دې زياته د تعجب خبره دا ده چې زموږ ډېری نالوستي افغانان ورونه د داسې اتلانو په اړه د کفارو ، منافقانو او ايجنټانو په تبليغاتو تېروځي، خو تر دې زياته د تعجب وړ دا ده چې هغه خلک چې شل ځايه پلورل شوي، او ځان او ماغزه ټول

یې د یرغلګرو په کڅوړو کې قید دي، اوس هم د وطن اصیلو بچیانو په هکله د شکونو او پروپاګنډاوو هڅې کوي. د دې ټولو سربېره د هغو خلکو په حال تاسف دی، چې طالبان د پاکستان دوستان ګڼي، حال دا چې د طالبانو او پاکستاني پوځیانو ترمنځ یوه داسې حسابي پرته ده، چې ښایي د امریکایانو او روسانو سره د طالبانو جوړه وشي، خو د دې اجرتي پوځ سره د طالبانو روغه جوړه، او دوستي محاله او ناممکنه ده، او هغه د مجبورۍ ژور زخمونه چې طالبانو په سینه کې خوړلي، تر مرګه به یې تردونه تسکین نشي. لکه یو طالب شاعر اکرام الدین مفتون چې ورته ویلي دي:

ته اباد یې زه برباد یم بیا به ګورو
ته اووس ښاد یې زه ناښاد یم بیا به ګورو
توره ګوره امانت امانت غواړم
اوس سپین ورور سره تضاد یم بیا به ګورو
د ساده او د ناپوهو خیال به نکړې
ښه خبر ستا په مراد یم بیابه ګورو
په سپېره څېره مې مه خانده رقیبه
خړه څوکه د شمشاد یم بیابه ګورو

# طالبانو د پاکستان هیلې خاورې کړې!

کله چې د لوی خدای په نصرت کفري یرغلګرو او د هغوی غلامان په تېښته شول، نو تور دښمن له یوه پلوه په دې خیال و، چې په افغانستان کې به بیا د حکمتیار، مسعود، رباني دوستم او نورو ټوپکیانو او غلامانو په څېر خپلمنځې شخړې زور واخلي، او کابل جان به د تېر په څېر د وینو حمام وګرځي، او د کابل ښکلی ښار به وران ویجاړ ، کنډر او کنډواله شي.

خو دا تور دښمن په دې نه پوهېد، چې دا سپین بیرغ طبقه د سپین شریعت له غېږې رامنځته شوي، او دلته به د رسول الله ص سنت راژوندي کېږي، او سوچه شرعي نظام به حاکمېږي، د ورونو ترمنځ ښمنی به له منځه ځي، او یو ټولو ته به عفوه اعلانېږي. له بلې خوا دښمن په زړه کې ګوړې ماتولې، چې افغانستان به زمونږ د مېلمانو حجره وي، او ډیورنډ به رسمي او د کونړ او د کابل د وارو اوبه به زمونږ لاسونو ته راولېږي، خو خبر نه و، چې دلته د وطن هغه بچیان چې د هجرت په ډاګونو کې پراته وو، له وطن لرې یې دا اوښکې اوبه لیدلې نشوې،

بلکې چې پردي وطن کې یې ځښلې ځان ته به یې ښېراوې کولې، لکه کاروان چې وایي:

ځنګه یې ځښنو ځنګه خندېږو راته زهر دې شي
په اباسین کې د کابل د غرونو اوښکې راغلې

خو د تورمخي دښمن مخ لا پسې تور شو، او په زړه کې يې د نفاق مرض لا پسې زيات شو، ځکه چې ايلا پوی شو، چې طالب باز مې له لاسه وتلی دی، زما منتر او جادو پرې اثر نه کوي. بلکې دا د اسلاميت او افغانيت د غرور پڑی نه د کلدارو په جال کې راځي، نه د فحشاوو په ډنډ کې ډوبېږي، او نه د څوکيو او دنياوي رنګينيو په جنون کې ورکېږي.

نو اوس د پنجاب کرنيلانو او جرنيلانو ته د جمهوريت شرمېدلي او تښتېدلي ټپوسان، ټاټوګان او شاه منصور باباجي په اصطلاح د صحرا خرې ورپاتې دي، او په اسلام اباد کې يو بل ته لاس تر زنې ناست دي.

دا چې د وطن د ترقۍ او پرمخيون هر خبر ور رسېږي، نو من من ويلي کېږي، خاصتاً چې کله داسې خبرونه ويني چې:

خلکو په ميدان ځائيو کې د ډيورنډ په کرښه سيم خاردار وشکاوه، په ډنډه پټهان ځائيو کې طالبانو د ډيورنډ پر کرښه دروازه په بمونو والوځوله، او پکتيکا کې طالبانو اغزن سيم

ټول کړ، په رنجرو کې یې یووړ.او طالبانو ننګرهار کې د پاکستان لهخوا د اغزن تار غځولو مخه نیولې



اطلاعات روز

خبرونه | راپور | شننه | کڼ رسنی | نور

طالبانو ننګرهار کې د پاکستان لهخوا د اغزن تار غځولو مخه نیولې

۳۰ لیندۍ ۱۴۰۰ - ۲۱ دسامبر ۲۰۲۱

اطلاعات روز: طالب وسلهوالو د ننګرهار په ګوشتې ولسوالۍ کې د پاکستان له لوري د اغزن تار غځولو مخه نیولې ده.

ننګرهار کې د طالبانو د ملي امنیت رییس ډاکتر بشیر نن (سهشنبه، ۳۰ د لیندۍ) اطلاعات روز ورځپاڼې سره په خبرو کې وویل، تیره ورځ یې ځواکونو د ګوشتې ولسوالۍ «پلواسي» سیمه

کې د پاکستاني لوري نوي تېریدونکي اغزن تارونه راښول او له ځانه سره یې ملي امنیت ته انتقال کړي دي.

د ښاغلي بشیر په خبره دوی وروسته له هغې سیمې ته ورسیدل، چې پاکستاني پوځیانو په ډیورنډ فرضي کرښې له پخواني اغزن تار څخه دې غاړې ته غوښتل چې اغزن تار وغځوي، خو طالب ځواکونو یې مخنیوی کړی او دوه کیلو متره یې پاکستاني ځواکونه بیرته په شاه تمبولي دي.

نوموړی وایي، هیڅا ته به اجازه ورنه کړي چې د هیواد خاوره لاندې کړي او په دې برخه کې هر ډول قربانۍ ته اماده دي.

ډاکتر بشیر زیاته کړه: «کله چې مونږ خبر شو چې پاکستانیان د ننګرهار په ګوشتې ولسوالۍ کې له خپل اصلي ځای غواړي اغزن تار مخې ته وغځوي نو طالب ځواکونه سیمې ته ورسیدل او د پاکستانیانو د یاد کار مخه یې ونیوله او هغه اغز تار یې ورڅخه دلته بیرته راوړه، مونږ هیڅا ته اجازه نه ورکوو چې د افغانستان خاوره لاندې کړي مونږ به یې پر وړاندې مبارزه کوو او قربانۍ ته دې برخه کې اماده یو«.

په ټولنیزو رسنیو کې هم د طالب ځواکونو یاد اقدام ستایل شوی او د خواله رسنیو افغان کاروونکو له طالبانو غوښتي چې د پاکستان د هر ډول اقدام پر وړاندې جدي اقدامات وکړي.

طالبان داسې مهال پر ډیورنډ فرضي کرښه د پاکستاني پوځیانو د تحرکاتو مخنیوی کوي، چې له دې څو ورځې وړاندې د پاکستان بې پیلوټه الوتکې په کونړ کې د وسله والو پر یو مرکز هوایي برید کړی و.



د اسلامي امارت زمریان ؛ چې د ډیورند اغزنې کتارې یې راماتې کړي او په رنجرو کې یې ترې وړي.

# مولوي صیب وله یې!

د ډیورنډ پر کرښه د پاکستان د پوځیانو پر پوستو باندې مخامخ مولوي صیب د زړېکي پړکا او کړسا او تکبیر ملکوتي غږونو فضا نیولې ده، له څنګه بل مجاهد ملګری پرې د جذبو په څپو کې غږونه پرې کوي: « مولوي صیب وله یې!»

دا ملکوتي کوکې، د جګړې په لمبو کې ، د ګران افغانستان اصلي وارثان او اتلان تاریخ ته ورښیي، چې د وطن د ازادۍ او خپلواکۍ جګړه مولوي ګټلې ده، او لا یې د مرګ په خوله کې پر ځان منلې ده. دلته که د انګلیس ښکیلاک پر ضد جګړه شوې رهبر یې ملا دی، او که د شوروي خلاف شوې لارښود یې ملا دی، او که د امریکایي پر ضد شوې قاید دیې ملا دی، او که د تور پنجاب پرخلاف جګړه روانه ده قوماندان او مجاهد یې ملا دی.

دا د افغان تاریخ ویاړ دی، چې په هرډګر کې یې مخکې ملا دی او وروسته ورپسې ملت او قوم اقتدا کړې ده.

په دې اړه ولسي شاعر حسن زي صیب یو شعر ویلي، چې تاریخي ارزښت له امله یې راوړو:

اول د تکبیر غږ او بیا یې دا ناره کوله مولوي صیب

ته وله مولوي صیب = ته وله مولوي صیب

راوړې یې فتوا د دیوبند نه تر کابله مولوي صیب

ته وله مولوي صیب = ته وله مولوي صیب

پنجاب سره په جنګ کې

د ملک په نام او ننګ کې

ملت مو دی په ځنګ کې

اټک نه تر هیرات او تر زابله مولوي صیب

ته وله مولوي صیب = ته وله مولوي صیب

وینا د مصطفی ده

د پاک الله رضا ده

همدا د هند غزا ده

چې تا اکاډمي کله د بنو ډزوله مولوي صیب

ته وله مولوي صیب = ته وله مولوي صیب

راټول سم خاردار کړئ

ډیورنډ یې تار په تار کړئ

رایاد ورته بمبار کړئ

بس غچ ترې نه اوس واخلئ یو په سله مولوي صیب

ته وله مولوي صیب = ته وله مولوي صیب

راکټ او که پکا ده

زیک یک او که شلکا ده

که هر رنګا سلا ده

اخلاص باندې یې وکاروه خپله مولوي صیب

ته وله مولوي صیب = ته وله مولوي صیب

الله دې بس کامیاب کړه

فاتح دې د پنجاب کړه

دښمن دې په عذاب کړه

دعا به حسن زي همدا کوله مولوي صیب

ته وله مولوي صیب = ته وله مولوي صیب



## وله مولوي صيب!

یا به شهید شی یا به دلته شی غازي صاحب  وله مولوي صاحب

په وطن ننگ دی هر افغان ملا تړي صاحب  وله يې مولوي صاحب

اصلي بچی د دې وطن یی = په ننگ را لوی په ننگ مین یی

په تا دي ښکلي سنگرونه نوراني صاحب وله يې مولوي صاحب

ستا په غیرت ستا په میړانه= ټوله دونیا شوله حیرانه

د تن په وینو د گټلې ازادي صاحب وله يې مولوي صاحب

چه ورورولي وي اتحاد وي = زموږ وطن به ښاد اباد وي

رحیم گل وایي اتلان دې وي ژوندي صاحب

وله يې مولوي صاحب





# د امریکایي ټرون په څېر به د ډیورنډ کرښه په ورانېدو او د نړۍ له نقشې د پاکستان جغرافیه په حذفېدو ده

دا د هیچا ذهن او تصور کې نه راتله، چې ګرده نړۍ به د طالب په لاس ماتېږي، خو الله تعالی نړۍ ته وښودل، چې په څو ورځو کې د ولایتونو د لړۍ کړۍ کړۍ فتحه کولو سره د ټول افغانستان حاکمان وګرځېدل.

د غلامانو سره د امریکا کړی ټرون یې ټوټه ټوټه کړ.

الله تعالی به کټ مټ همدغسې خوشالۍ شېبې پر افغان ملت او مظلومې پښتونخوا باندې ګوري، چې د ګندمک او د برتانوي هند دفاع مرستیال وزیر هغه ټرون چې د خپل دور د اشرف غني په څېر غلام ( امیرعبدالرحمن) سره یې کړی، د طالب په لاس به ټوټه ټوته ، د ډیورنډ کرښې ویجاړه او لویه پښتونخوا به د لوی افغانستان ازادېږي، او د طالب اسلامي امپراتوري به په دې خاوره د احمدشاه ابدالي او نورو اسلافو په څېر رامنځته کېږي، چې بیا به د هغوی له برکته سېمه او نړۍ په امن او خوشالۍ کې وي.


**پاکستاني خبریال عادل راجا د پاکستان خلکو ته: عاصم منیر به پاکستان د اور لمبو ته وغورځوي او خپله به د پخوانیو جنرالانو په څېر اروپا ته وتښتي**




پاکستاني خبریال او شنونکي عادل راجا تازه د دغه هېواد د پوځ پر مشر عاصم منیر نیوکې کړي او ویلي دي چې د نوموړي حرص د پاکستان برخلیک مبهم لوري ته بېولی دی.نوموړي پر خپل اېکس لیکلي: «د عاصم منیر مستري د ډالرو لوږې او د واک حرص پاکستان داسې ځای ته رسولی، چې نه یې له کوم ګاونډي هېواد سره اړیکې ښې دي او نه هم هېواد په امن دی». عادل راجا دا هم ویلی، چې پاکستاني عسکر او بې ګناه خلک ورځ په ورځ مري؛ خو د عاصم منیر وحشت نه ختمېږي او په خبره یې ټوله نړۍ پاکستان د امریکا لاسپوڅی ګڼي.

نوموړي وړاندې عاصم منیر له دجال سره تشبیه کړی او د پاکستان خلکو ته یې سپارښتنه کړې د نوموړي لخوا دوکه نه

شي. دې مشهور پاکستاني خبريال له دغه هېـواد سره د پښتانيـو پوځي افسرانو او جنرالانو خيانتونو ته په اشارې زياته کړې، چې دی به هېواد (پاکستان) اور ته وغورځوي او خپله بـه د پښتانيـو په خېر اروپا ته وتښتي. عادل راجا د پاکستان پر خلکو غږ کړی، چې د عاصم منير پر وړاندې راووځي، کنه د ده په خبره: «د تباهۍ او بربادۍ لپاره تيار شئ».



## درنو مسؤلینو ته یو وړاندیز

### یو معاش د ډېورنډ؛ د وطن عزت لپاره!

د احصایې له مخې، اوس مهال چې په نیمه حساب کړې، شاوخوا ۵۰۰ زره دولتي مامورین شته، که فرض کړو د هر یو یې د یوې میاشتې منځنی معاش ۱۵ زره افغانۍ وي، نو له همدې لارې به ۷,۵ میلیارده افغانۍ راټولې شي .

دغه راز که له خصوصي سکټور، دوکاندارانو او کاریګرو څخه شاوخوا یو میلیون کسان د یوې میاشتې معاش منځنی کچه ۲۰ زره افغانۍ ورکړي، نو ۲۰ میلیارده افغانۍ نورې هم جمع کېږي.

همدارنګه، که د بهر مېشتو افغانانو شاوخوا ۱۰۰٬۰۰۰ کسان د خپلې وړتیا مطابق د میاشتني عاید یوه برخه د وطن دفاعي سستم لپاره ورکړي، نو شاوخوا ۵۰ میلیونه ډالر به نور هم راټول شي.

په ټوله کې به د کور دننه او بهر مېشتو افغانانو ګډه مرسته شاوخوا ۴۱۰ میلیونه ډالر راټول شي.

د یوه ابتدایي دفاعي سستم جوړول، چې پکې د هوایي څارنې رادارونه، د ډرون ضد ټکنالوژي، د سرحدي څار مرکزونه، د

مخابراتو امنیت شبکې او د متخصصو کسانو روزنـه شـامل دي، شاوخوا ۳۰۰ تر ۵۰۰ میلیونه ډالره لګښت لري.

نو په همدې توګه د هېوادوالو په ګډه مرسته او ملي احساساتو سره کولای شو د وطن د دفاعي سستم لومړنی بنسټ جوړ کړو او د هېواد د امنیت او خپلواکۍ لپاره عملي ګام واخلو. او د ډېورنـډ د مسلې د حل لپاره ترې بنسټیزه چاره ترسره کړو.



**یم راوتلی له سېلابه زه لا ستړی نه یم**
**د طوفانونو له ګردابه زه لا ستړی نه یم**

**د محمد بن قاسم په آس مې زین تړلی**
**در روانېږمه پنجابه زه لا ستړی نه یم**

**د ډیورنډ کرښې د حل لاره؛ جګړه ده!**

تاریخي اسنادو ، جریاناتو او څېړنو ته په کتلو سره اوس د دیورنډ تپلي کرښې لانجې حل یوازې جګړه بربښي.

هغه هم داسې جګړه څرنګه چې له انګرېزانو، شورویانو او امریکایانو سره ترسره شوه.

کله چې د انګریزانو لخوا پـه ۱۹۴۷ز کـال کـې پاکستان رامنځته شو، له هماغې ورځې د وخت پاچا محمد ظاهر شاه د پاکستان استازی ندی منلی او نه یې ډیورنډ په رسمیت پېژندلی دی. تر هغه وروسته داودخان، او کمونستانو مشرانو ، جمهوریت یانو مشرانو او اسلامي امارت مشرانو هیڅ یو نده منلې، او د سوله ییز ډول یې هڅه کړې چې ډیورنډ کرښه ړنګه او لوی افغانستان ازاد شي.

خو دا چاره پاکستان پرته له دې نشي- کولی چې یا یې هېواد تجزیه شي او یا د مقدس جهاد له لارې له منځه لاړ شي.

په دې اړه د سیاسي چارو شننونکی حمیدالله هوتک صیب وایي: ما حامد کرزي او بیا اشرف غني ته وویل، چې د خبرو له لارې تاسې ونکړای شول چې ډیورنډ کرښه له منځه لاړه شي، د زور له لارې دا کار وکړئ، څکه چې الوتکې، ټانګونه، اسلحې امریکا او

ګرده ناټو درسره دی، او دا دی اوس خو یې امنیتي تړون هم درسره وکړ، خو هغوی دا مشوره ځکه ونه منله، چې تر دوی ورته پاکستانیان ډېر وفادار غلامان وو، او امریکایان او ناټو له کرزي او اشرف غني څخه خفه کېدل.

په داسې حال کې چې پاکستان به هره ورځ د افغانستان داخل ته توغندي او مرمۍ راګوزارولې او کونړ، پکتیا، خوست پکتیکا، هلمند او هره خاوره د افغانستان به یې په رڼا ورځ وېشتله.

خو الحمدلله چې د اسلامي امارت د خپلواکو او اصیلو افغانانو ( طالبانو) دا کار ترسره کړ.

زه د طالبانو مشرانو، امیرالمؤمنین شیخ هبة الله ، ملا محمدیعقوب او ټولو مشرانو ته وایم، که تاسې پر افغان ملت غږ وکړئ، نو بوډاګان او ښځې به هم د پاکستان پر خلاف جهادته درسره ووځي. او په دې پوی شئ، چې څرنګه نور حکومتونو د ډېورنډ کرښه په خبرو او سوله ییز حل ترلاسه نه کړای شوه، او زور یې هم نشو کولی ځکه چې خپلواک نه وو. نو تاسې یې کولی شئ، او د ډېورنډ حل نوره د خبرو له لارې نشته، بلکې حل یې دا دی چې څرنګه د وطن بچیانو، طالبانو تېره شپېږه د ټوپک په ژبه خبرې ( لویه جګړه) وکړې او همدا یې حل دی.

## ديورنډ جګړه؛ نه يوازې د طالب بلکې د هر افغان ايماني او وطني مسؤليت او فريضه ده

د لوی افغانستان محکومه خاوره ازادول، او د ډيورنډ استعماري تپل شوې، پوله د امريکايي اشغال څخه د ازادۍ په څېر د هر افغان مسؤليت او وجبه ده. دا جګړه يوازې د طالب مسـؤليت نـه دی، بلکې د ملت ، قوم او ټوله کې فرض عين ( چې د وطـن پـه ښځه او نر لازم) ده.البتـه د هـر افغـان تـر وس پـورې ترلـې، دې مقدسې جګړې ته څرنګـه چـې طالبـانو وينـې نذرانـه کـړي دي، همدغه شان ولس به هم ځانونـه او مالونـه ، خـوالې او اوښـکې، دعاګانو او ژبې صدقه کوي.

د افغان تحليلګر يوسف امين ځاځي په وينا: د ديورنډ جګړه د هـر افغان شريکه جګړه ده، حتی که چا د يوې شګې او تېرې وېشتلو وس کېږي، هم دريغ به نه کوي.

خـو دا جګـړه چـې د نـورو جګـړه پـه څېـر اسـلامي امـارت سرښېندونکي پر غاړه پر مخ وړي، دا يې پر ټـول ملـت او تـاريخ باندې يو احسان او تلپاتې مينـې پور دی.



# د ډیورنډ د جګړې ګټې

موږ مسلمانان یو، په دې مو عقیده ده چې د جهاد په لار کې یو ګام اخېستل هم بې شماره ګټې، لري.

تر ټولو لومړۍ ګټه یې دا ده چې الله تعالی رضا ترلاسه کېږي.
دویمه ګټه یې د غیرتي او جنګونو پېغمبر محمد مصطفی ص پـه لار باندې یون دی.

دریم د خپلو اسلافو او اتلانو ؛ غزنویانو، ابدالیانو، غوریـانو او د ازادۍ سرخېلانو پر نقش او قدم باندې تګ دی.

څلورم : د اسلامي امارت د مشر اطاعت دی.

پنځم : د خپلې تروږلي حق څخه برخمن کېدل دي.

شپږم: د انګلیسي کفـري یرغـل وروسـتۍ اشـغال شـوې نښـه ورانول دي.

اووم: د افغانستان لویه جغرافیه طبعي سرحدونو ته غځول دي.

اتم: جهاد، تر ټولو افضل عبادت ترسره کول دي.

نهـم: د افغانـانو تـرمنځ وحـدت، اخـوت او پرمختـګ احسـاس راپنځېدل دي.

لسم: د حریت، سکون، پرمخیون سربېره د دارینو سعادت دی.

## زلمی خلیلزاد:

## د پاکستان حکومت ځان ته لوی قبر کیندلی دی

د امریکا پخوانی ځانګړی استازی زلمی خلیلزاد وایي، چې د پاکستان حکومت ورځ په ورځ ځان ته ستونزې ډېروي او ورو ورو ځان ته لوی قبر کیندي .نوموړی زیاتوي؛ د پاکستان اوسنی



حکومت له بېلابېلو اړخونو ویجاړوونکو ستونزو سره مخ دی او ژر به د تاریخ قبر کې دفن شي

خیبر پښتونخوا د اورکزی قبیلې مشرانو او مخورو مشرانو د هېواد پر وړاندې د ترهګرۍ د خطرونو په مقابل کې د یووالي او کلک عزم څرګندونه کړې ده. قبیلې مشرانو په ډاګه اعلان وکړو چې دوی د افغان ترهګرو خلاف له پاک پوځ سره په پوره ډول اوږه په اوږه ولاړ دي او د ملک سلامتۍ ته به هېڅ زیان ونه رسوي.

مشرانو په خپلو خبرو کې په کلکه ژمنه وکړه او ویې ویل چې هغه سترګه چې د پاکستان خلاف راپورته شي، هغه به وروباسو او د دښمن ټولې ارادې به په خاورو بدلې کړي.

د قبیلې مشرانو اعلان وکړو چې د وطن دفاع پر دوی فرض ده او د ساتنې لپاره یې هر ډول قربانۍ ته تیار دي. دوی زیاته کړه چې دوی ترهګرو ته مخکې هم لاره ښودلې وه او اوس به یې هم ورته ښایي. او دوی ته به بیا د سر راپورته کولو موقع ورنکړل شي.

د قبیلې مشرانو په دې خبره ټینګار وکړو چې له پاک پوځ سره یې اړیکه تل اوږه په اوږه وه او انشاالله چې په راتلونکې کې به هم داسې وي.

دوی وویل چې دوی به له پاک پوځ سره په هر محاذ کې ملګري وي. قبیلې ولس او مشرانو د افغان ترهګرۍ خلاف په یووالي سره د ملي یووالي په مکمله توګه څرګندونه کړې ده.

د دې اعلانونو وروسته قبیلې مشرانو ادعا وکړه چې د خیبر پښتونخوا په قبایلي سیمو کې د خلکو ملاتړ مخ په زیاتیدو دی، او ولس د هېواد د دفاع لپاره له پاک پوځ سره پوره یووالی ښیي.

د قبیلې مشرانو پیغام ورکړو چې دوی د وطن پر پولو ولاړ دي او د هېواد ساتنې ته ژمن دي.

# د ډیورنډ جګړه

# د لوی افغانستان د ازادۍ پیلامه

که تاریخي حقایقو ته وکتل شي، نو د افغان کلمه نږدې دوه نیم زره کاله سابقه لري، او د افغانستان کلمه تر ۱۰۰۰ کالو زیاته مخینه لري، او د افغانستان جغرافیه له ۵۰۰۰کلونو اوږد تاریخ لري، خو مقابل خوا ته پاکستان چې ۷۰کاله مخکې د انګلیس په استعمار کې رازیږېدلی دی، او د هغه وخت مستعمره هند او اشغال شوي افغانستان څخه خاوره رالاندې شوې، او نوموړي ملک جغرافیه پرې نقش شوې ده، خو دا تاریخ په تکراري توګه ثابته کړې ده چې د استعمارونو نقشې دوام نکوي، څرنګه چې انګلیسي ښکیلاک څلوېښت ملکونه له لاسه ووتل، او ډېرې لویې جغرافیې تغیر شوې، نوره په دې کې شک نشته چې د انګلیس پاتې شونی درز خوړلی، بې ځواکه، بې ایمانه او بې قامه ملک پاکستان د نړۍ له نقشې او د ځمکې له مخ څخه نړېدونکی دی.

څرنګه چې افغانستان هېواد په یوه پېړۍ کې درو امپراتوریو لاندې کړې و، او هغه ماتې شوې، لکه: انګلیس چې افغانستان

کې مات شو، امپراتوري یې ونړېدله، همدغه راز: شوروي په افغانستان کې شکست وخوړ، امپراتوري یې ټوټه ټوټه شوه، او د دې سربېره امریکا په افغانستان کې په ګونډو شو، ناټو یې له منځه لاړه، او په سېمه کې یې زور اوبه شو او په نړۍ کې مخ تور شو، نو پاکستان چې نه ملت لري، نه ایمان لري، او خپلواکي لري، د اسرایل په څېر د بل پر نیلۍ سپور دی، لرې نه ده چې رانسکور او تجزیه شي. دا تحلیل له ډېرو استدلالاتو سرچېنه اخلي، نړدې یې روان وضعیت ؛ د تحریک طالبان پاکستان زمریان ، د پلوچستان د ازادۍ غورځنګ، او د هندوستان ، ایران او افغانستان ترځنګ ډېر شمېر مخالف قوتونه دي، چې د غدارۍ، او دښمنۍ ژور پورونه یې پرې پراته دي.

او د خدای په نصرت باوري یو، چې د احمدشاه بابا بچیان به یو یو سهار داسې اذان کوي چې د امریکایي تړون په څېر د ډیورنډ زنځیرونه مات او لوی افغانستان له آمو تر اټک پورې ازاد شو، او د تېرې شپې د اسلامي امارت د طالب زمریانو لخوا د ډیورنډ پر کټارونو ستره جګړه د همدغه لوی افغانستان د ازادۍ پیلامه ده.

( بتوفیق الله العزیز) .

د خپلواک، ځواکمن، شرعي، پرمختللي او لوی افغانستان په هیله

# زمرۍ عسکر ته!

گلان ورواچوئ له ننگه ډک غازي عسکر ته
آ په فرضي کربنه کې پروت اتل زمري عسکر ته

ها چې د سر مورچه کې اوسي،او له سره تېر دی
زما سلام ووایئ هغه فدایي عسکر ته

چې د اسلام او د وطن برم یې لوړ ساتلی
لاس په تندي کېږدئ هغه افغان ملي عسکر ته
لوښت خو پرېږده له یو ځپک خاورې هم نه تېرېږي
صد آفرین دې وي همداسې غیرتي عسکر ته

تاریخه نه به کړې پیدا ورته مثال صفحو کې
ځانگړی باب کېږده زمونږ امارتي عسکر ته

حیدري جانه ! وي محفوظ به سرحدات او حریم
په شرط د دې چې قدر ورکړو سرحدي عسکر ته